د افغانستان اسلامي جمهوریت
د پوهنې وزارت
د تعلیمي نصاب د پراختیا لوی ریاست



# اسلامي آداب او اخلاق

## اووم ټولګی

(د دیني مدارسو لپاره)

د چاپ کال: ۱۳۹۸ هـ. ش.

اسلامي آداب او اخلاق - اووم ټولګی - د دیني مدارسو لپاره

درسي کتابونه د پوهنې په وزارت پورې اړه لري، پیرودل او پلورل یې منع دي.

moe.curriculum@moe.gov.af

د افغانستان اسلامي جمهوریت
د پوهنې وزارت
د تعلیمي نصاب د پراختیا لوی ریاست

# اسلامي آداب او اخلاق

## اووم ټولګی

## (د دیني مدارسو لپاره)

د چاپ کال: ۱۳۹۸ هـ. ش.

**مؤلفان**

- دکتور شیر علي ظریفي
- دکتور عنایت الله خلیل هدف
- محمد محق

**علمي ایډیټ**

- دکتور عبدالصبور فخري
- دکتور فضل الهادي وزین
- رقیب الله ابراهیمي

**د ژبې ایډیټ**

- عبدالهادي روان

**دیني، سیاسي او کلتوري کمېټه**

- دکتور شیر علي ظریفي
- سعیدالرحمن "حامد"

**إشراف**

- دکتور شیر علي ظریفي د تعلیمي نصاب د پراختیا د پروژې رئیس.

بسم الله الرحمن الرحیم



## ملي سرود

دا وطن افغانستان دی — دا عزت د هر افغان دی

کور د سولې کور د تورې — هر بچی يې قهرمان دی

دا وطن د ټولو کور دی — د بلوڅو د ازبکو

د پښتون او هزاره وو — د ترکمنو د تاجکو

ورسره عرب، گوجر دي — پاميريان، نورستانيان

براهوي دي، قزلباش دي — هم ايماق، هم پشه يان

دا هيواد به تل ځليږي — لکه لمر پر شنه اسمان

په سينه کې د اسيا به — لکه زړه وي جاويدان

نوم د حق مو دی رهبر — وايو الله اکبر وايو الله اکبر

**بسم الله الرحمن الرحیم**

## د پوهنې د وزیر پیغام

الحمد لله رب العالمین والصلاة والسلام علی رسوله محمد و علی آله و أصحابه أجمعین، أما بعد:

د پوهنې تعلیمي نصاب د ښوونې او روزنې د نظام بنسټ جوړوي او د هیواد د اوسنیو او راتلونکو نسلونو په علمي، فکري او سلوکي ودې او پراختیا کې بنسټیز او ارزښتمن رول لري.

تعلیمي نصاب باید د وخت په تېرېدو او د ژوندانه په بېلابېلو ډګرونو کې له بدلون او پرمختګ او د ټولنې له اړتیاوو سره سم، هم د مضمون او محتوا او هم د معلوماتو د ورکړې د لارو چارو له مخې، بدلون او پراختیا ومومي.

د تعلیمي نصاب په ډګر کې یو هم د اسلامي زده‌کړو نصاب دی چې بیا کتنې او ودې ته یې جدي اړتیا لیدل کېده؛ ځکه له یوې خوا باید د دیني مدرسو فارغان د ټولنې د معنوي مخکښانو په توګه د معارف د هڅو د پوره پام وړ وګرځي او له بلې خوا د دیني مدرسو په نصاب کې د اسلام د سپېڅلي دین عقاید، احکام او لارښوونې راغلې دي چې د انساني ژوند د ټولو اړخونو بشپړ نظام او قانون او د نړۍ د خالق او پروردګار د وروستني پیغام په توګه د قیامت تر ورځې پورې، د بشریت د لارښوونې دنده سرته رسوي.

د اسلامي امت عالمانو د تاریخ په اوږدو کې د اسلامي معارف او د اسلامي تعلیماتو د سیستم په رامنځته کولو، پراختیا او بډاینه، په تېره بیا د اسلامي نړۍ د علمي مرکزونو او مؤسسو د تعلیمي نصاب په تدریجي وده کې، خپله دنده سرته رسولې ده.

د اسلامي علومو تاریخ ته کره کتنه، دا څرګندوي چې د دیني مدرسو او علمي مرکزونو نصاب تل د اسلام د تلپاتې او ثابتو احکامو پر بنسټ، د ټولنې له اړتیاوو سره سم، هر وخت او هر ځای پراختیا موندلې ده.

زموږ ګران هیواد افغانستان د علمي ځلانده تاریخ په درلودلو سره د علم او پوهې زانګو او د وخت لوی علمي مرکز و چې د اسلامي ستر تمدن په جوړښت کې یې مهم رول درلود. د علم او فرهنګ په مختلفو ډګرونو، په ځانګړې توګه د عقایدو، تفسیر، حدیث، فقهې او د فقهې د اصولو په څېر په نورو شرعي علومو کې د زرګونو پوهانو او عالمانو شتون، زموږ د دې وینا پخلی کوي.

په اوسني عصر کې د اسلامي ویښتابه له پراختیا سره سم زموږ په هېواد کې اسلامي زده‌کړو د شومره والي او څرنګوالي له مخې زیات بدلون موندلی او د هېواد کوچنیان او ځوانان په ډېره مینه او لیوالتیا د اسلامي زده‌کړو مرکزونو او مدرسو ته مخه کوي.

د افغانستان د اسلامي جمهوریت د پوهنې وزارت د خپل مسؤولیت او دندې له مخې د هېواد له اساسي قانون سره سم د اسلامي زده‌کړو د کیفي او کمي پراختیا او په هغې کې د اسلامي زده‌کړو د نصاب په اړه د پام وړ ګامونه پورته کړي دي.

په دې لړ کې د پوهنې وزارت، د هېواد د ډاډ وړ تجربه لرونکو عالمانو، استادانو او متخصصانو څخه په بلنه د دیني مدرسو د تعلیمي نصاب، د لاښه کولو لپاره، مروج کتابونه، د متنونو د شرحې او توضیح او د فعالیتونو، ارزونو او تمرینونو په ورزیاتولو د درسي کتابونو له نویو معیارونو سره سم چمتو کړل.

هیله من یم، د پوهنې وزارت د عالمانو او متخصصانو د ستاینې وړ دا هڅې، په افغانستان کې د اسلامي زده‌کړو د لا پراختیا او بډاینې او د لوی خدای جل جلاله د رضا د ترلاسه کولو لامل شي.

وبالله التوفیق

دکتور محمد میرویس بلخي

د پوهنې وزیر

# مقدمه

## ښاغلو ښوونکو او ګرانو زده‌کوونکو!

علماوو د اسلام د مبارک دین لارښوونې، په دریو برخو وېشلې دي: عقاید، احکام او اخلاق، د عقایدو علم د خالق – جل جلاله – او مخلوق په هکله باورونه سموي، د احکامو علم د وګړو کړنې او ویناوې تنظیموي او د اخلاقو علم د انسانانو خویونه د کمال په لور لوړوي.

څرنګه چې د اخلاقو علم د بشري ټولنې د وګړو له معنوي اوصافو سره تړاو لري، د مطلوبو معنوي وړتیاوو له رامنځ ته کولو او د ناوړه خویونو له محوه کولو څخه بحث کوي، له همدې کبله د ټولنې هراړخیز پرمختګ او نېکمرغي تر ډېره بریده د ټولنې په وګړو کې د اخلاقي ارزښتونو په څرنګوالي پورې اړه لري.

د انسان اغېزمنتوب او وړتیا د ده د معنوي خویونو په ګرو کې ده، نو ځکه ښه اخلاق د اسلام له نظره د انسان د غوره والي او ارزښت معیار ګڼل شوي دي, رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمایلي دي: (إن من خيارکم أحاسنکم أخلاقاً) بې شکه په تاسو کې غوره خلک، د ښو اخلاقو خاوندان دي.

دا زموږ ښکاره اړتیا ده تر څو په ټولنه کې اخلاقي فضایل او ارزښتونه دود او پراخه شي او د قرآن کریم، نبوي سنتو، د پیغمبر (صلی الله علیه وسلم) د سیرت په لارښوونه او د اسلامي علماوو له ویناوو او کړنو څخه په ځان خبرولو، د دیني مدارسو زده‌کوونکي د اخلاقو په علم سمبال شي، پخپله هم عمل پرې وکړي او دا روښانه څراغ د هېواد هر ګوټ او هر کور ته ورسوي، تر څو زموږ د ټولنې، کورنۍ او وګړو رنځونه او ټپونه پرې درمل شي.

نو د اخلاقو د علم د دومره لوړ مقام او ستر ارزښت له کبله د افغانستان د اسلامي جمهوریت د پوهنې وزارت د ښوونیز نصاب اداري، د مدارسو په نصاب کې د اخلاقو مضمون په دوو ټولګیو (٧ - ٨) کې مقرر کړ او د دې کتابونو مفردات یې داسې وضع کړل، چې د اسلامي اخلاقو عمده موضوعات د لومړیتوب او منطقي تسلسل د اصولو پر بنسټ د زده‌کوونکو استعدادونو ته په پاملرنې سره پکې ځای پر ځای شوي دي.

د تألیف په وخت د مطالبو بیان په آسانه او اغېزمنه توګه په نظر کې نیول شوي دي، چې د الله تعالی په توفیق به د دې کتاب لوستل نه یوازې د مدارسو د زده‌کوونکو لپاره، بلکې د ټولو لوستونکو لپاره ګټور او د عمل وړ وي او د هغوی په شخصیت او ظرفیت کې به مثبت او اغېزمن بدلون راولي.

و ما ذلک علی الله بعزيز.

# لړلیک


| ګڼه | سرلیک | مخ |
| --- | --- | --- |
| ۱ | د اخلاقو پېژندنه | ۱ |
| ۲ | اخلاق د څه لپاره لولو | ۳ |
| ۳ | د اخلاقو ستنې | ۷ |
| ٤ | د اخلاقو ډولونه | ۱۱ |
| ٥ | د نېکو اخلاقو نښې | ۱۳ |
| ٦ | اخلاقي ځانګړتیاوې | ۱۵ |
| ۷ | په اسلام کې د اخلاقو مقام | ۱۷ |
| ۸ | پر ژوند باندې د اخلاقو اغېزې | ۲۰ |
| ۹ | د نېکو اخلاقو پایلې | ۲۲ |
| ۱۰ | ناوړه اخلاق او زیانونه یې | ۲۵ |
| ۱۱ | نېک اخلاق د زړه پاکي ده | ۲۹ |
| ۱۲ | د ایمان او عبادت سره د اخلاقو تړاو | ۳۱ |
| ۱۳ | د نېکو اخلاقو حاصلول | ۳۵ |
| ١٤ | د نېکو اخلاقو ارزښت | ۳۷ |
| ۱٥ | د پیغمبر ﷺ اخلاق | ۴۱ |
| ١٦ | د خبرو آداب (۱) | ۴۵ |
| ۱۷ | د خبرو آداب (۲) | ۴۸ |

| ګڼه | سرلیک | مخ |
| --- | --- | --- |
| ۱۸ | په اسلام کې د حلم مقام | ۵۱ |
| ۱۹ | د رسول اکرم ﷺ د حلم بېلګې | ۵۴ |
| ۲۰ | نېک او غوره دوست | ۵۷ |
| ۲۱ | د نېک دوست ګټې | ۵۹ |
| ۲۲ | له مور او پلار سره نېکي | ۶۱ |
| ۲۳ | صله رحمي | ۶۵ |
| ٢٤ | د زده‌کړې آداب | ۶۹ |
| ٢٥ | د زدکړې آداب (۲) | ۷۳ |
| ٢٦ | صداقت او رښتینولي | ۷۶ |
| ۲۷ | له دروغو ځان ساتل | ۸۰ |
| ۲۸ | په ښېګڼو کې ګړندیتوب | ۸۳ |
| ۲۹ | په نېکیو کې سیالي | ۸۶ |
| ۳۰ | په اسلام کې امانتداري | ۹۰ |
| ۳۱ | زړه سوی او مهرباني | ۹۴ |
| ۳۲ | کرم او سخاوت | ۹۸ |

# د اخلاقو پېژندنه

اخلاق څه ته وايي؟ آيا ښه او بد اخلاق شته؟ که وي، څنګه يې توپير کولی شو؟ د اسلام سپېڅلی دين اخلاقو ته په کوم نظر ګوري؟
د اسلام په سپېڅلي دين کې درې ډوله لارښوونې شته چې له: عقايدو، احکامو او اخلاقو څخه عبارت دي.
عقايد د انسان يقين او باور سموي، احکام د انسان کړنې تنظيموي او اخلاق د هغه د طبيعت او خوی ښه او بد اړخونه څيړي.

## د اخلاقو تعريف

اخلاق عربي کلمه ده چې خوی، چلند او طبيعت ته وايي. مفرد يې (خُلق) دی. خُلق (د خې په پېښ سره) د انسان له باطني حالت څخه تعبير کوي، خَلق (د خې په زور او د لام په سکون سره) د انسان د ظاهري بڼې په سمون دلالت کوي.
اخلاق په بېلا بېلو تعريفونو سره تعريف شوي دی، چې دلته يې يوه تعريف ته اشاره کوو.
اخلاق، په نفس کې يو فطري او کسبي مستقر صفت دی چې د انسان په سلوکو کې د ښو او بدو آثارو او پايلو لرونکی دی.

## ښه او بد اخلاق

کله چې د يوه چا خوی او طبيعت داسې وي چې ښه افعال او غوره کړنې ترسره کړي، نو دغه کړنې ښه اخلاق بلل کيږي. او که چېرې ناوړه کارونه ترسره کړي، نو بد اخلاق بلل کيږي.
نيکي کول، له نورو سره مرسته کول، ښه ګاونډيتوب، ميلمه پالنه، د سلام اچول، د رنځورانو پوښتنه کول، د مسلمان جنازې ته حاضريدل، د لويانو درنښت کول، په کشرانو شفقت او زړه سوی کول، رښتيا ويل، سخاوت، بښنه کول او داسې نور د ښو اخلاقو بيلګې دي.

د دې پر خلاف دروغ ويل، بخيلي، د نورو په حقونو تيري، دوکه او چل، چغلي، د خپلوۍ (صله رحمۍ) مزي شلول، بدې خبرې کول، حسد، کبر او لويي او داسې نور په بدو اخلاقو کې شميرل کيږي.

له هغه څه څخه چې مخکې مو وويل دا پايله ترلاسه کولای شو، چې: نيک اخلاق د انسان ګاڼه ده، چې په دنيا کې خوښي او په اخرت کې ورته برياليتوب ور په برخه کوي، په مقابل کې يې بد اخلاق هغه ستونزه او ناسور دی چې څښتن يې پرې اخته کيږي او د نورو د کرکې لامل ګرځي.

## فعاليت

زده‌کوونکي دې د پنځو ښو او بدو اخلاقو نمونه واخلي.

## لنډيز

- اخلاق د اسلام د دين د دريو ګونو (عقايدو، اخلاقو، احکامو) لارښوونو څخه يو لارښود دی.
- اخلاق د انسان د چلند تنظيموونکي دي او د هغه د ظاهري او باطني حالت تعبير کوي.
- ښه اخلاق د انسان ګاڼه او بد اخلاق د تلپاتې عذاب او رنځ لامل دي.

## ارزونه

١. د اخلاقو د کلمې معنا روښانه کړئ.

٢. د خَلق(د خا په زور) او خُلق (د خا په پېښ) ترمنځ څه توپير دی؟

٣. د اخلاقو دوه تعريفونه بيان کړئ.

٤. ښه او بد اخلاق په څه شي پيژندل کيږي؟

٥. د ښو او بدو اخلاقو څو بيلګې څرګندې کړئ.

٦. ښه او بد اخلاق د انسان پر ژوند څه اغيزه لري؟

## کورنۍ دنده

د ښو اخلاقو په اړه يوه مقاله وليکئ چې له اووکرښو څخه کمه نه وي.

# اخلاق د ښه لپاره لولو

کله چې یو انسان د کوم کار د کولو پریکړه کوي په لومړي پړاو کې ورته دا پوښتنه پیدا کیږي چې ولې دا کار کوي؟ او کومې ګټې ورڅخه تر لاسه کیږي؟

اوس چې مونږ غواړو د اخلاقو علم زده کړو نومړي پوښتنې مو په ذهنونو کې را څرخیږي چې ولې باید د اخلاقو علم زده کړو؟ آیا په هغه پوهیدل او د هغه پلي کول به زمونږ په دنیوي او اخروي ژوند کې څه ګټې ولري؟

د دې لوست په لړ کې زیار ایستل شوی چې پورتنیو پوښتنو ته ځواب ورانديې شي او د اخلاقو د زده کړې پر موخو وپوهیږو.

## د اخلاقو د زده کړې موخې

د اخلاقو د زده کړې موخې په لاندنیو ټکو کې څرګندوو:

### ۱- نیک اخلاق د پیغمبر ﷺ د بعثت موخه ده:

د اخلاقو له زده کړې څخه مونږ تر ټولو لومړی هدف دا دی چې په ټولنه کې نیک اخلاق پلي شي، ځکه چې د نیکو اخلاقو خپرول او د ناوړو اخلاقو د ټغر ټولول د پیغمبر ﷺ د بعثت موخه او غایه ده، لکه څرنګه چې پیغمبر ﷺ فرمایلي دي: ﴿إِنَّمَا بُعِثْتُ لأُتَمِّمَ مَكَارِمَ الأَخْلاَقِ﴾[1]

ژباړه: په ریښتیا زه د دې لپاره را استول شوی یم چې نیک اخلاق بشپړ کړم.

د پیغمبر ﷺ له بعثت سره د اخلاقو تړاو څه دی؟ له پورتني حدیث شریف څخه دا څرګندیږي چې د پیغمبر ﷺ د بعثت تر ټولو ستره او اساسي موخه د اخلاقي فضایلو بشپړول او پلي کول دي. د همدې مطلب په تائید الله تعالی خپل پیغمبر ته په خطاب کې فرمایلي دي: ﴿وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا رَحْمَةً لِلْعَالَمِينَ﴾ [الانبياء: ۱۰۷]

ژباړه: او ماته نه یې لیږلی، مګر د نړۍ والو لپاره رحمت.

---

۱- السنن الکبری للبیهقي

همدارنګه د قرآن کریم په بل ځای کې یې د پیغمبر ﷺ د اخلاقو په ستاینه کې فرمایلي دي:
﴿وَإِنَّكَ لَعَلَى خُلُقٍ عَظِيمٍ﴾ [القلم: ٤]
ژباړه: او ته د لوړو اخلاقو لرونکی یې.
وګورئ په کومه ټولنه کې چې خیانت، دوکه، د امانت ضایع کول، فحشا او داسې نور منکرات شتون ولري، دغسې ټولنه به له رحمت څخه خالي وي او همدا ډول هغه ټولنه چې په افرادو کې یې کرکه نفرت او لانجې موجودې وي، له رحمت څخه به بې برخې وي. پیغمبر ﷺ د دې لپاره راغلی، تر څو چې له انساني ټولنې څخه د ناوړو خویونو تغر ټول او پر ځای یې نیک او غوره اخلاق ځای پرځای کړي، چې په دې ترتیب کولی شو د پورتني آیت او حدیث تر منځ تړاو په ښه توګه درک کړو.

## ۲- د اخلاقو او عباداتو ترمنځ تړاو:

د اخلاقو د لوستلو غوره موخه د اخلاقو او عباداتو یا په بل عبارت د دین او دنیا تر مینځ د را پیدا شوي بیلتون او لرې والي له منځه وړل دي، تر څو داسې نشي چې یو تن دې په مسجد کې روحاً او جسماً په پوره عاجزی سره په لمانځه بوخت وي، خو له مسجد څخه بهر بې له کوم قید او بند څخه خپلواك اوسي او اخلاقي ارزښتونو ته هیڅ پاملرنه نه کوي.
اسلام د دین او دنیا او یا د اخلاقو او عباداتو تر مینځ د بیلتون سخت مخالف دی، څکه اسلام د یو بشپړ او نه بیلیدونکي جسم په څیر دی، دغه خلك چې په خپل لمانځه او عبادت سره د خلکو پام ځان ته را اړوي او بیا د اخلاقو په میدان کې تر ټولو ناوړې کړنې تر سره کوي، په حقیقت کې په اسلام ښه نه دي پوهیدلي او د دې دین د روح په پیژندلو کې خطا شوي دي، د اسلام د سپیڅلي دین موخه د داسې انسانانو جوړونه ده،چې له عبادت سره سره د ښو اخلاقو او غوره چلند خاوندان وي، له همدې امله پیغمبر ﷺ فرمایلي دي: (وَاللَّهِ لَا يُؤْمِنُ وَاللَّهِ لَا يُؤْمِنُ وَاللَّهِ لَا يُؤْمِنُ قِيلَ:َمَنْ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ: الَّذِي لَا يَأْمَنُ جَارُهُ بَوَائِقَهُ)[1]
ژباړه: په الله سوګند چې د کامل ایمان خاوند کېدای نشي، په الله سوګند چې د کامل ایمان خاوند کېدای نشي، په الله سوګند چې د کامل ایمان خاوند کېدای نشي، وویل شول: څوک د کامل ایمان خاوند نشي کېدای؟ نبي کریم ﷺ وفرمایل: هغه څوک چې ګاونډی یې له ضرر څخه په

۱- بخاری حدیث ٦٠١٦

امن کې نه وي.

په بل حدیث کې راغلي دي چې یو شمیر خلکو پیغمبر ﷺ ته د یوې ښځې یادونه وکړه چې که څه هم ډیره لمونځ کوونکې او عابده ده، خو له ژبې څخه یې ګاونډیان ناکراره دي. پیغمبر ﷺ وفرمایل: ځای یې دوزخ دی او د بلې په هکله یې چې د لومړی په پرتله په عبادت کې کمزورې وه، خو له خلکو سره یې نیک چلند کاوه وفرمایل: ځای یې جنت دی[1].

## ۳- د اخلاقي مبادیو پلي کول

د اخلاقو له لوستلو څخه زموږ بله موخه دا ده چې باید اخلاقي مبادي زده کړو، تر څو په فردي، کورني او ټولنیز ژوند کې یې پلي کړو او د هغو کسانو له ډلې څخه نه شو چې وینا کوي، خو عمل پرې نه کوي. یو اسلامي عالم وایي هر څومره مو چې زړه غوارې زده کړه وکړئ خو یاد ساتئ چې یوازې هغه وخت به بدله درکول کیږي چې خپلې زده کړې ته د عمل جامه واغوندئ. الله تعالی فرمایلي دي: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لِمَ تَقُولُونَ مَا لَا تَفْعَلُونَ كَبُرَ مَقْتًا عِنْدَ اللَّهِ أَنْ تَقُولُوا مَا لَا تَفْعَلُونَ﴾. [الصف: ۲-۳].

ژباړه: ای د ایمان خاوندانو ولې داسې څه وایئ چې عمل ورباندې نه کوئ. الله تعالی ته دا ډیره بده ده چې څه ووایئ او عمل پرې ونه کړئ.

## ۴-له فتنې او شک اچولو څخه ځان ژغورنه

د اخلاقو له لوستلو څخه موږ بله موخه دا ده چې په فتنو کې د خلکو د لوېدو لامل ونه ګرځو. که یو تن په عبادت او تعبدي شعایرو باندې کلک ولاړ وي، خو له نیکو اخلاقو او غوره چلند څخه بې برخې وي، په حقیقت کې نور خلک د دین په اړه په فتنې او شک کې اچوي، په داسې حالت کې که چا ته وویل شي چې په اسلامي تعبدي شعایرو باندې پابند اوسه او هغه دغه د ناوړو اخلاقو لرونکی عابد پیژني، کیدای شي چې په ځواب کې ووایي: غوارې چې د هغه فلاني په څیر شم؟ چې ټول تعبدي شعایر تر سره کوي خو چلند یې له هیچا سره هم د منلو وړ نه دی.

موږ غواړو وروسته له دې چې د اخلاقي مبادیو په هکله مو څرګند معلومات تر لاسه کړل، په خپل ژوند کې یې په پلي کولو سره خلکو ته په زړه پورې عملي بیلګې وړاندې کړو او هغو ته

---

۱- مسند احمد او حاکم

وښيو چې موږ دين له دنيا څخه نه دی بيل کړی، يوازې په دغه صورت کې موږ کولای شو چې ټولنې ته د نيکو، امانت ساتونکو، مخصلو، رښتينو، وطنپالو، نيک چلنو او غوره انسانانو بيلګې وړاندې کړو.

## ارزونه

۱- دا چې د پيغمبر ﷺ د بعثت موخه د نيکو اخلاقو بشپړول دي، په هکله يې دليل راوړئ.

۲- اسلام د اخلاقو او عباداتو تر منځ د بيلتون د ستونزې څرنګه معالجه کوي.

۳- د اخلاقي مباديو او تعبدي شعايرو د نه جلا کېدلو په هکله د شاهد په توګه يو نص راوړئ.

٤- آيا اسلامي اخلاق يوازې د پيژندلو اوزده کړې لپاره دي او که د عملي کولو او پلي کولو لپاره، په دې اړوند له قران کريم څخه يو دليل راوړئ.

٥- په تعبدي شعايرو د التزام په صورت کې انسان څرنګه کولی شي په نورو خلکو کې د فتنې د رامنځته کېدلو لامل نشي؟

### کورنۍ دنده

يو شمير اخلاقي فضايل په خپلو کتابچو کې وليکئ او په اړه يې په ټولګي کې له نورو زده‌کوونکو سره خبرې وکړئ.

# د اخلاقو ستنې

آيا اسلامي اخلاق او آداب د نورو اديانو او وضعي تمدنونو له آدابو او اخلاقو سره توپير لري او که يو شان دي؟ په اسلام کې د اخلاقو ستنې (ارکان) کوم او څرنګه دي؟ په دې لوست کې د اسلامي اخلاقو ستنې او بنسټونه تر بحث لاندې نيسو:

## په اسلام کې د اخلاقو ستنې

د اسلام په سپيڅلي دين کې آداب او اخلاق پر څلورو ارکانو ولاړ دي، د يو مسلمان اخلاق او آداب له همدغو څلورو اصلونو څخه سرچينه اخلي چې مسلمان پرې خپل سلوک او چلند جوړوي.

### ايماني او عقيدوي بنسټ:

د اسلام سپيڅلی دين ايمان او عقيده د اخلاقو لومړی بنسټ ګڼي چې د يو مسلمان معنوي او ظاهري ټول سلوک او کړنې له همدغو بنسټونو څخه سرچينه اخلي. دا په دې معنا چې د يو مسلمان اخلاق د هغه د ايمان او عقيدې يوه برخه ده. په دې اړوند د اسلامي امت يو ستر عالم د عقيدې او اخلاقو ترمنځ تړاو داسې ښکلی تعبيروي: پرته له اخلاقو عقيده د هغې ونې په څېر ده چې سيوری او ميوه ونه لري او بې عقيدې اخلاق د يو بې ثباته موجود د سيوري په څېر دی.[1] نو عقيده او ايمان د مسلمان د اخلاقو په لاربشوونه کې اساسي اغيزه لري.

### فعاليت

زده کونکي دې د ښوونکي په لارښوونه د اخلاقو په اصلاح کې د عقيدې او ايمان د ونډې په اړه خبرې وکړي او په دې اړه دې خپل نظرونه څرګند کړي.

---

۱- محمد شلتوت، الإسلام عقيدة وشريعة

## علمي بنسټ

علم د اسلامي اخلاقو او آدابو دويم بنسټ تشکيلوي، ځکه چې علم او ايمان دواړه يو د بل رديف دي، او هيڅکله له سمو اخلاقي ارزښتونو سره په ټکر کې نه واقع کيږي. له بله پلوه که په علم او ټيکنالوژۍ کې د اخلاقي ارښتونو په لارښووونو عمل ونشي، نو ډېر ځله به بشريت له ورانی او تباهی سره مخ شي. که چېرې موږ بيلا بيلو علومو لکه طب، کيميا، فزيک، اقتصاد،سياست او داسې نورو ته نظر وکړو، نو وبه وينو چې هر يو له دغو علومو څخه اخلاقي اصولو او بنسټونو ته اړتيا لري او پرته له اخلاقي ارزښتونو انسانيت ته د خدمت مصدر نشي ګرځيدلی.

### فعاليت

علم او ټيکنالوژي څرنګه پرته له اخلاقو څخه د تباهی او ورانی لامل ګرځي؟ آيا کولی شئ په دې اړوند کوم مثال وړاندې کړئ.

## د مکافاتو او مجازاتو بنسټ

د اسلام سپيڅلی دين اخلاقي ارزښتونه بې ګټې نه ګڼي، بلکې د ښو اخلاقو ښتن ته په دنيا کې غوره بدله او په آخرت کې ښه اجر او ثواب ورکوي. لکه څرنګه چې رسول اکرم ﷺ فرمايي "د قيامت په ورځ ديوه مؤمن په تله د ښو اخلاقو څخه بل شی دروند نشته". او په مقابل کې د اخلاقي ارزښتونو څخه ليرې انسان ته يې په دنيا او اخرت کې سخته سزا ټاکلې ده. ځکه د اسلام سپيڅلی دين هيڅکله سم او بد، پاکي او ناولتيا يو شان نه ګڼي. په دې اړه الله تعالی فرمايي: ﴿وَلَا تَسْتَوِي الْحَسَنَةُ وَلَا السَّيِّئَةُ﴾ [فصلت: ٣٤]

ژباړه: او نيکي او بدي يو شانته نه دي.

همدارنګه الله تعالی په بل ځای کې فرمايي: ﴿قُل لَا يَسْتَوِي الْخَبِيثُ وَالطَّيِّبُ﴾ [المائدة: ١٠٠]

ژباړه: ای پيغمبره! دوی ته ووايه چې پاک او ناولي يو شانته نه دي. همدارنګه د اسلام سپيڅلي پيغمبر ﷺ فرمايي: (مَنْ غَشَّنَا فَلَيْسَ مِنَّا)(١)

ژباړه: څوک چې له مونږ سره دوکه کوي هغه زما له امت څخه نه دی.

---

١- د مسلم روايت

## انساني او نفساني بنسټ

اخلاقي ارزښتونه هم لکه د نورو انساني غریزو او غوښتنو په څیر د هر سړي په فطرت کې نغښتي دي، خو د اسلام سپیڅلی دین دغه غریزې مثبت او معقول لوري ته توجیه او داسې لارښوونه ورته کوي چې د افراط او تفریط( زیاتي او کمي ) مخه یې ونیسي. د مثال په ډول: خوراک او څښاک د ژوندون یوه غریزه ده، خو په عین وخت کې اخلاقي ارزښت هم دی. اوس که د خوراک او څښاک دغه غریزه او غوښتنه په اعتدال او معقولیت سره اشباع نشي، نو همدغه انسان او ور سره نورو ته هم زیان رسوي. په دې اساس د اسلام اخلاقي نظام د خوراک او څښاک د اشباع لپاره خپل آداب او اصول مقرر کړي ترڅو له ناوړو اغیزو څخه یې مخنیوی وشي. د مثال په ډول قرآن کریم په دې اړه له اسراف او بې ځایه لګښت څخه منعه کړې او داسې لارښونه کوي:

﴿وَكُلُوا وَاشْرَبُوا وَلَا تُسْرِفُوا إِنَّهُ لَا يُحِبُّ الْمُسْرِفِينَ﴾ [الاعراف: ۳۱]

ژباړه: د (الهي نعمتونو څخه) وخورئ، وڅښئ، خو اسراف مه کوئ، ځکه الله تعالی مسرفان نه خوښوي.

په همدې ډول که ټول اخلاقي ارزښتونه مطالعه او وڅېړو، نو دا به ومومو چې ددې ټولو ارزښتونو لپاره اسلام ځانګړې لارښوونې او اصول بیان کړي دي، ترڅو معقول او ګټور لوري ته، ورته لارښوونه وکړي او ګټه ترې واخستل شي همدارنګه له افراط، تفریط او د ځان او د نورو له ضرر څخه یې وساتي.

## لنډیز

- اسلامي آداب او اخلاق په څلورو اصولو ولاړ دي چې اخلاقي ارزښتونه له هغو څخه سرچینه اخلي.
- د اسلامي اخلاقو څلورګوني ستني او پایې عبارت دي له: اعتقادي بنسټ، علمي بنسټ، د مکافاتو او مجازاتو بنسټ، نفسي او انساني بنسټ.
- اسلامي آداب او اخلاق د یاد شوو اصولو او اساساتو پر بنسټ د غیر اسلامي ادیانو له اخلاقو څخه توپیر لري.

## ارزونه

۱. اسلامي اخلاق له کومو ارکانو او بنسټونو څخه سرچینه اخلي؟

۲. د هغه چا په ځواب کې څه استدلال کوئ چې وايي: موږ د علم او ټیکنالوژي په زمانه کې ژوند کوو، نو اخلاقو ته اړتیا نشته.

۳. که چېرې انساني غوښتنې پرته له اخلاقي ارزښتونو څخه بشپړې (پوره)شي، څه اغیزې به ولري؟ د څو مثالونو په ترڅ کې یې بیان کړئ.

٤. لاندې جملې بشپړې کړئ:

الف. پرته له اخلاقو عقیده د هغې ونې په څېر ده چې...................................

ب: بې عقیدې اخلاق د بې ثباته موجود د سیوري په څېر دی چې.............................

### کورنۍ دنده

د دې مبارک حدیث (مَنْ غَشَّنَا فَلَيْسَ مِنَّا) د اخلاقي مفهوم په اړه یوه مقاله ولیکئ چې له یوه مخ څخه کمه نه وي.

# د اخلاقو ډولونه

اخلاق په ټولیزه توګه په دوه ډوله ویشل کیږي، یو نیک او وړ اخلاق او بل بد اونا وړه اخلاق، دغه ویش د هغو ثابتو او دایمي ښو او بدو اوصافو پر بنسټ چې اخلاق ورسره تړاو لري، شوی دی، چې له امله یې انسان په ښو او بدو اخلاقو ستایل کیږي او د اخلاقو د علم په ځینو کتابونو کې په رذایلو او فضایلو سره یاد شوي دي.

## لومړی: غوره او نیک اخلاق

غوره او نیک اخلاق له هغو راسخومعنوي استعدادونو څخه عبارت دي چې د انسان ټول نیک افعال اوکړنې په ډیرې آسانی سره له هغو څخه سرچینه اخلي، چې دغه چلندونه به له عقلي او دیني موازینو  او له هغه څه سره چې داخلاقو په علم کې ورته فاضله اخلاق ویل کیږي مطابقت لري.

غوره او نیک اخلاق د اخلاقو دعلم یو مهم مبحث دی چې ترلاسه کول یې د هرهغه انسان غوښتنه ده چې د اخلاقو د خپلولو په لټه کې وي.

## دویم: ناوړه اخلاق

ناوړه اخلاق له هغو بدو اوصافو څخه عبارت دي، چې د کړنو او افعالو په بڼه له انسان څخه صادریږي او دغه کړنې او چلندونه له عقلي او دیني موازینو سره مطابقت او سمون نه لري، چې د اخلاقو په علم کې ورته اخلاقي رذالتونه ویل کیږي.

## د نېکو او بدو اخلاقو بېلګې:

| نیک او غوره اخلاق | | بد او ناوړه اخلاق | |
|---|---|---|---|
| ښېګڼه (احسان) | شکر | د نفساني غوښتنو پیروي | قهر او غوسه |
| استقامت | رښتینولي او صداقت | په وعده وفا نه کول | په تریوې تندې کتل |

| نیک او غوره اخلاق | | بد او ناوړه اخلاق | |
|---|---|---|---|
| د خلکو ترمنځ روغه جوړه | دخلکوعفوه کول او تیریدنه | د حق نه منل | د نورو سپکاوی |
| له بدو کارونو څخه ډډه کول | نامحرمو ښځو ته نه کتل | دخلکو اسرارو ته غوږ نیول | خباثت |
| سرښندنه | د نیکو کارونو ترسره کول | کبر (ځان لوی ګڼل) | ریا او ځان ښودنه |
| ورین او پراخه تندی | د میلمه عزت کول | اسراف کول | بل پورې مسخرې کول |
| عاجزي او خاکساري | په کړو وړو کې اعتدال | پر خلکو پورې بهتان | بدګماني |
| حکمت | دقهراو غوسې بندول | ظلم کول | فسق او فساد کول |
| مهرباني | په نیکو کارونو کې تلوار کول | بخل | حرص او طمع |
| د زړه روغتیا | نظافت او پاکي | بغض او حسد کول | غفلت او نا خبري |
| نیک چلند | په ژمنه وفاکول | د بدو کارونو ترسره کول | خیانت او دوکه |
| دګاونډي د حقوقو ساتل | په کوچنیانو شفقت کول | په حرامو پیسې مصرفول | غیبت کول |
| صبر | د لویانو درناوی کول | جاسوسي کول | بې ځایه خبرې |
| د زړه پاکوالی | ښې خبرې کول | د دروغو خبرو خپرول | دروغ ویل |
| د بدیو ځواب په نیکیو | روحي آرامتیا | عبث وخت تیرول | د نعمت ناشکري |
| عفت او پاک لمني | د مور او پلار خدمت کول | یوبل ته بد رد ویل | بل څوک په بدنامه یادول |

## ارزونه

۱- په عمومی ډول اخلاق څو ډولو ته ویشل کېږي؟
۲- د اخلاقو په علم کې ښه اخلاق په کوم نوم نومول شوي دي؟
۳- بد اخلاق په کوم نوم یاد شوي دي؟
٤- د نیکو اخلاقو د اثبات لپاره د قرآن کریم څخه یو مثال ذکر کړئ.
٥- د پیغمبر ﷺ د بعثت موخه څه ده؟
٦- د نیکو او بدو اخلاقو پنځه پنځه مثالونه ذکر کړئ.

# د نیکو اخلاقو نښې

نیک اخلاق د ایمان له نښو او د انسانیت له بشپړتیاو څخه دي. څرنګه انسان کولی شي چې خپل ځان په لوړو اخلاقو سینګار کړي او خلکو ته محبوب شي؟ د نیکو او غوره اخلاقو نښې کومې دي؟

## نیک اخلاق څرنګه پیژندلی شو:

د اسلام سپیڅلي دین د نیکو اخلاقو د پیژندنې لپاره ځیني معیارونه بیان کړي دي چې له امله یې نیک اخلاق پیژندل کیږي.

په عام ډول سره د نیکو اخلاقو او خویونو معیارونه خلکو ته د خیر او ښیګڼې رسولو په محور څرخیږي. د اسلام له نظره د اړو او بې وزلو خلکو مرسته ډیر زیات اجر او ثواب لري او د الله تعالی په وړاندې یو لوی عبادت ګڼل کیږي.

له خلکو سره مرسته او د بې وزلو لاس نیوی په ټولنه کې د خواخوږۍ روحیه را ژوندۍ کوي، د ټولنې د وګړو ترمنځ د مینې او دوستۍ مزي لاپسې ټینګوي چې د ملی وحدت د پیاوړتیا او د اسلامي ټولنې د مادي او معنوي ارزښتونو د پرمختګ لامل ګرځي. که څه هم په دې اړه ډیر حدیثونه روایت شوي خو د بیلګې په توګه ځینو ته په لاندې ډول اشاره کوو:

د اسلام سپیڅلی پیغمبر ﷺ فرمایي ﴿لا يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتَّى يُحِبَّ لِأَخِيهِ مَا يُحِبُّ لِنَفْسِهِ﴾.(۱)

ژباړه: هیڅ یو له تاسې کامل مؤمن نشي کیدای، ترڅو هغه څیز چې د ځان لپاره یې خوښوي نورو ته یې هم خوښ کړي.

همدارنګه په یو بل حدیث کې راځي: ﴿خَيْرُ النَّاسِ أَنْفَعُهُمْ لِلنَّاسِ﴾(۲)

ژباړه: تر ټولو خلکو غوره هغه څوک دی چې نورو ته ګټه رسوي.

اسلامي اخلاق د انسان وینا وې، کړنې او د ژوند هر اړخ رانغاړي، ورین تندی، نیکه خبره، زغم او صبر، نورو ته خدمت او له اړو خلکو سره مرسته د نیکو اخلاقو نښې دي.

---

۱- متفق علیه.
۲- مسند الشهاب

## فعالیت

ځرنګه کولی شو چې د خپل مسلمان ورور خیر وغواړو او ورسره مرسته وکړو؟ هر زده کوونکی دې دغه مطلب د یو مثال په ترڅ کې په خپلو کتابچو کې ولیکي.

**لنډیز:**

کولی شو چې د نیکو اخلاقو اوصاف او نښې په لنډه توګه بیان کړو:

۱- د نیکو اخلاقو خاوند تل د حیا نه ډک، بې ضرره، صالح، رښتیا ویونکی، هڅانده، خبرې یې کمې او تیر وتنې یې لږې وي.

۲- د غوره اخلاقو خاوند با وقاره، شاکر، راضي، با حکمته، نرم خویه او پاک وي. لعنت نه وایي، کنځل نه کوي، د خلکو خبرې یوه او بل ته نه رسوي، غیبت نه کوي، بیړه نه کوي، له کینې څخه ځان ساتي، بخل او کینه نه کوي. د ښو اخلاقو ښښتن تل نیک خویه، خواخوږی، یوازی د الله ﷻ لپاره دوستي او دښمني کوي او یوازي د الله ﷻ لپاره له نرمی څخه کار اخلي او یوازي د الله ﷻ لپاره په غوسه کیږي. او دا د غوره او نیکو اخلاقو بیلګې دي.

## ارزونه

۱. د نیکو اوصافو او اخلاقو معیارونه روښانه کړئ.

۲. د اسلام په سپیڅلي دین کې له نورو سره مرسته:

آ. ضروري نه ده　　ب. یوه اخلاقي وجیبه ده　　ج. د مادي ګټو لپاره ترسره کیږي.

۳- که چېرې ګاونډي درته ازار او ضرر ورساوه، نو اسلامي اخلاق یې په مقابل کې حکم کوي چې:

آ. تاسې هم ورته ضرر ورسوئ.　　ب. ورسره نیکي وکړئ.

## کورنۍ دنده

دګاونډیو د حقونو په اړوند یوه مقاله ولیکئ چې له لسو کرښو څخه کمه نه وي.

# اخلاقي ځانګړتیاوې

څه وخت یوه خوی او عادت ته د اخلاقو نوم ورکولی شو؟ اخلاقي صفات ځانګړي شرطونه او ځانګړتیاوې لري چې په دې لوست کې به یې ځینو ته اشاره وکړو:

## لومړۍ ځانګړتیا

هغه وخت یوه خوی او صفت ته ښه اخلاق ویلای شو چې د انسان په طبعه کې د زیات تکرار له امله ټینګ او د هغه عادت و ګرځي. په دې توګه که یو څوك یو یا دوه ځله له چا سره مرسته وکړي، هغه ته تر هغه مهاله سخي نه ویل کیږي، تر څو چې دغه صفت د زیات تکرار له امله د هغه طبیعي خوی او عادت نه وي ګرځیدلی.

**فعالیت**

صابر یو رښتیا ویونکی هلك دی، خو ده یوه ورځ پیاله ماته کړه او د پلار له ډاره یې وویل: ما پیاله نه ده ماته کړې، آیا نوموړي ته په دغه خبره دروغجن ویل کیږي؟ زده‌کوونکي دې دا موضوع روښانه کړي.

## دویمه ځانګړتیا

د ښو اخلاقو بله ځانګړتیا دا ده چې ښه عمل باید له انسان څخه په اسانۍ او پرته له تکلیفه ترسره شي، په دې توګه که یو ظالم انسان په تکلیف او یا د باو سره پر چا رحم او زړه سوی وکړي، نو د ده په اړه دا نشو ویلی چې نوموړی یو زړه سواندی او مهربانه انسان دی، ځکه هغه په سختۍ او د فشار له امله له ظلم او تیري څخه لاس اخیستی، نو ترڅو چې په طبیعي ډول له خپل عادت څخه لاس په سر نه شي، ده ته مهربان انسان نه شي ویل کیدای.

## دریمه ځانګړتیا

ښه کار باید د انسان په اراده او خوښه تر سره شي. نفسي حالتونو ته چې د انسان له خوښې او ارادې څخه بهر دي او انسان یې په ترسره کولو کې واک نه لري لکه: د ښه ذهن لرل او داسې نور، اخلاق نه بلل کېږي. څرنګه چې په دې حالتونو کې د انسان خوښه او اراده ځای نه لري، نو ځکه یې په ښو او بدو اخلاقو نشو نومولی.

### فعالیت

زده کوونکي دې د ښاغلي ښوونکي په لارښوونه د هغو صفتونو په اړه وغږېږي کوم چې ښه یا بد اخلاق ورته ویل کیږي او همدارنګه د هغو صفتونو په اړه دې خبرې وکړي چې اخلاق ورته نشو ویلای.

## لنډیز

- اخلاقي ځانګړتیاوې د انسان له نورو صفاتو او ځانګړتیاوو سره توپیر لري.
- اخلاقي صفات د انسان له نورو صفاتو څخه په  دریو اساسي ځانګړتیاوو سره جلا کیږي.
- اخلاقي ارزښتناکې ځانګړتیاوې عبارت دي له: په نفس کې د اخلاقي صفت تکرار او ترسیخ، د اخلاقي صفت طبیعي والی او آسانتیا، په اخلاقي عمل کې د ارادې دخالت او په هغه کې د انسان د کړنې تاثیر.

## ارزونه

۱- اخلاقي صفتونه له نورو صفاتو څخه د دریو ځانګړتیاوو په واسطه بېلېږي، دغه ځانګړتیاوې روښانه کړئ.

۲- یو اخلاقي صفت سره د هغه د ځانګړتیاوو تشریح کړئ.

۳-هغه صفت او خصلت چې اخلاقی صفت ورته نه ویل کیږي، د لوستل شوي لوست په رڼا کې تشریح کړئ.

### کورنۍ دنده

د اخلاقي ځانګړتیاوو په اړه یوه مقاله ولیکئ چې له لسو کرښو څخه کمه نه وي.

# په اسلام کې د اخلاقو مقام

د اسلام د مبارك دين لارښوونې د ژوند په بيلا  بيلو برخو پورې تړاو لري. يوه له دغو برخو څخه چې د زيات ارزښت او لوړې مرتبې لرونکې ده، نيک اخلاق دي.
د نيکو اخلاقو غوره والی په زيات شمير دلايلو سره ثابت شوی چې ځينې يې په لاندې توګه تر څېړنې لاندې نيسو:

### د پيغمبر ﷺ راليږل د لوړو اخلاقي ارزښتونو لپاره دي

يو له هغو اساسي موخو څخه چې پيغمبر ﷺ يې له امله خلکو ته راليږل شوی، د لوړو اخلاقو پوره کول دي. رسول الله ﷺ فرمايي: ﴿إِنَّمَا بُعِثْتُ لأُتَمِّمَ مَكَارِمَ الأَخْلاَقِ﴾(١)
ژباړه: بيشکه زه د دې لپاره را استول شوی يم، تر څو نيک اخلاق بشپړ کړم.

### نيک اخلاق دين دی

دين داري له نيکواخلاقو سره يوځای معرفي او پيژندل شوې ده. يو تن له رسول الله ﷺ څخه وپوښتل: دينداري څه شی ده؟ پيغمبر ﷺ وفرمايل: «حُسنُ الخُلُقِ»
ژباړه: د نيکو اخلاقو درلودل.(٢)

### نيک اخلاق د رښتيني ايمان معيار دی:

هغه تله او معيار چې پياوړې او کمزورې ايمان پرې جلا او پيژندل کيږي، غوره او نيک اخلاق دي پيغمبر ﷺ فرمايلي دي:﴿أَكْمَلُ الْمُؤْمِنِينَ إِيمَانًا أَحَاسِنُهُمْ أَخْلاقًا﴾(٣)
ژباړه: له مؤمنانو څخه د پوره ايمان خاوند هغه څوک دی چې غوره اخلاق ولري.

---

١- دامام مالك موطا او دامام احمد مسند
٢- ديلمی
٣- المعجم الصغير للطبرانی/١/٢٦٣

الله ﷻ په خپل سپیڅلي کتاب کې خپل پیغمبر په نیکو اخلاقو ستایلی، او دا د دې دلیل دی چې نیک اخلاق لوړه مرتبه او ارزښت لري، لکه چې فرمایي: ﴿وَإِنَّكَ لَعَلَى خُلُقٍ عَظِيمٍ﴾[د القلم سورت: ۴ آیت]

ژباړه: بیشکه ته د لوړو اخلاقو لرونکی یې.

پیغمبر ﷺ سره له دې چې الله ﷻ په ښه خوی او اخلاقو سره ستایلی خو بیا هم دی له الله تعالی څخه د اخلاقو د غوره والي او ښه توب غوښتنه کوي او وایي: (اللَّهُمَّ أَحْسَنْتَ خَلْقِي فَأَحْسِنْ خُلُقِي)(۱)

ژباړه: یا الله لکه چې زما پیدایښت او څیره دې ښکلې کړې ده زما اخلاق او خوی هم ښکلی کړه.

## نیک اخلاق د الله تعالی غوره ډالۍ ده

بنده ګانو ته د الله تعالی غوره او نیکه تحفه د ښو او نیکو اخلاقو ورکول دي. په یو حدیث کې روایت شوی چې یوه ډله کوچیان د رسول الله ﷺ حضور ته راغلل او له هغه څخه یې وپوښتل: د الله ﷻ غوره ورکړه خپل بنده ته څه ده؟ رسول الله ﷺ وفرمایل: (حسن الخلق) یعنې نیک اخلاق.(۲)

پورتنیو روایتونو ته په کتو سره دې حقیقت ته رسیږو چې ښه مؤمن او مسلمان هغه څوک دی چې غوره اخلاق ولري او له نا وړو اخلاقو څخه ځان لرې وساتي.

### فعالیت

که تاسې وغواړئ چې الله تعالی تاسې ته غوره اخلاق در په برخه کړي، دغه غوښتنه به څرنګه وړاندې کوئ؟ په خپل عبارت یې ولیکئ.

۱- مسند احمد
۲- ابن حبان او بیهقي

## لنډیز

- په اسلام کې اخلاق له اساسي او لوړ مقام څخه برخمن دی.
- د اسلام د ستر پیغمبر ﷺ د بعثت له مقاصدو څخه یو هم د نیکو اخلاقو تعلیم او خپرول دي.
- نیک اخلاق له دینداری سره موازي بلل کیږي.
- نیک اخلاق د رښتیني ایمان او د انسان د قدر او منزلت معیار دی.
- مؤمن انسان باید د تل لپاره له الله ﷻ څخه د نیکو اخلاقو غوښتنه وکړي.

## ارزونه

۱- د اسلام پیغمبر ﷺ د خپل بعثت یو ستر هدف د اخلاقي ارزښتونو پوره کول او لوړوالی ښودلی. په دې اړه یو نبوي حدیث بیان کړئ.

۲- د دینداری او نیکو اخلاقو ترمنځ کوم تړاو شته؟ روښانه یې کړئ.

۳- څرنګه کولی شو د مسلمانانو ایماني توپیرونه له یو بل څخه وپېژنو؟ دلیل یې څرګند کړئ.

٤- د پیغمبر ﷺ کومه ځانګړتیا د الله تعالی د ستایلو وړ ګرځېدلې ده؟

۵- که بنده ګانو ته د الله تعالی له لوري ورکړل شوي نعمتونه او ورکړې له یو بل سره توپیر ولري، نو کوم نعمت تر ټولو غوره دی؟ د پیغمبر ﷺ د سپیڅلي سیرت نه په دې اړه استدلال وکړئ.

**کورنۍ دنده**

د الله تعالی د غوره ورکړې په اړه یو مخ مقاله ولیکئ.

# پر ژوند باندې د اخلاقو اغېزې

اخلاق د انسان په ژوند کې زیات ارزښت لري، ښه اخلاق انسان ته ګټې او نیکې پایلې او بد اخلاق انسان ته زیان او بدې پایلې رامنځ ته کوي. پدې لوست کې د ښو او بدو اخلاقو پایلو او اغیزو ته اشاره کوو، ترڅو د تیرو لوستونو مفاهیم لاپسې روښانه شي.

له پیغمبر ﷺ څخه د ښو اخلاقو په اړه وپوښتل شول، د الله پیغمبر د الله تعالی دغه آیت تلاوت کړ:

﴿خُذِ الْعَفْوَ وَأْمُرْ بِالْعُرْفِ وَأَعْرِضْ عَنِ الْجَاهِلِينَ﴾ [د الاعراف سورت: ۱۹۹ آیت]

ژباړه: د نرمۍ او تېرېدنې لاره غوره کړه، په ښو چارو امر کوه او له ناپوهانو مخ وګرځوه (جګړه ورسره مه کوه).

په یو حدیث کې پیغمبر ﷺ فرمایلي: ﴿أَلا أَدُلُّكُمْ عَلَى خَيْرِ أَخْلاقِ أَهْلِ الدُّنْيَا وَالآخرةِ؟ مَنْ وَصَلَ مَنْ قَطَعَهُ، وَعَفَا عَمَّنْ ظَلَمَهُ، وَأَعْطَى مَنْ حَرَمَهُ﴾[1]

ژباړه: آیا تاسې ته د اهل دنیا او آخرت ښه اخلاق و نه ښیم؟ هغه څوک چې له مقاطعه کونکي سره اړیکه (صله رحمي) ټینګه کړي او هغه چا ته ښښنه وکړي چې ظلم یې پرې کړی وي او هغه چا ته څه ورکړي چې دی یې (له حقوقو) محروم کړی وي.

همدارنګه حضرت علی رضي الله عنه په ژوند کې د نیکو اخلاقو د اغیزې په اړه فرمایلي: (نیک اخلاق درې خاصیته لري: له حرامو څخه ځان ساتل دي، د حلالو لټول او د خپلې کورنۍ سره په ورین تندي او ښه خوی ژوند تیرول دي)[2]

حسن بصري رحمه الله وایي: (بد خویه سړی تل په ستونزه او کړاو کې وي).

فضیل بن عیاض رحمه الله وایي: (د فاجر سړي سره دوستي او ناسته ولاړه د بد اخلاقه عابد له دوستی

---

۱- احیاء علوم الدین ۱\۲۵۱

۲- المعجم الکبیر.

ثخه غوره ده).

عبد الله بن مبارک رحمه الله وايي: (نيک اخلاق په ژوند کې، له ورين تندي، نورو سره له نيکۍ کولو او له بديو ثخه د ځان له ساتلو ثخه عبارت دي).

جنيد بغدادي (رحمه الله) فرمايلي دي: ثلور خصلتونه دي چې د انسان مقام او منزلت لوړې درجې ته رسوي، که ثه هم د هغه علم او عمل کم وي: حلم، تواضع، سخاوت او نيک اخلاق.

همدا رنګه يحيى بن معاذ فرمايلي دي: ناوړه اخلاق دومره بد دي چې له هغو سره نيک اعمال کومه ګټه نه رسوي، او نيک اخلاق دومره ښايسته دي چې د بدو اعمالو کثرت هم ورته ضرر نشي رسولای.

## لنډيز

- نيک اخلاق په ژوند کې ښې پايلې او بد اخلاق ناوړې پايلې لري.
- د نيکو اخلاقو په لرلو سره انسان کولی شي چې د خپل ځان او نورو کسانو لپاره د خير او نيکۍ لامل شي.

## ارزونه

۱- د دغو کلمو معناوې روښانه کړئ: عفو، وصل، قطع.

۲- د دغه لوست آيتونه او حديثونه ياد کړئ.

۳- (بد اخلاقه سړی خپل ځان په کړاو اخته کوي) دغه وينا د دوو مثالونو په ترڅ کې په خپلو کتابچو کې روښانه کړئ.

### کورنۍ دنده

زده کونکي دې د نيکو اخلاقو په اړه يو يو بيت، حکمت، ضرب المثل يا د علماو يوه يوه وينا په خپلو کتابچو کې وليکي او خپله ليکنه دې د ټولګي په مخ کې وړاندې کړي.

# د نېکو اخلاقو پایلې

د نیکو اخلاقو فضیلت او غوره والی د هغو د پایلو په اساس دی. د نیکو اخلاقو پایلې هم په دې دنیا کې ښکاره کېږي او هم په آخرت کې د انسان د خلاصون او نیکمرغۍ لامل ګرځي.

**فعالیت**

په فردي او ټولنیز ژوند کې د نیکو اخلاقو پایلې او ګټې څرنګه دي؟ زده‌کوونکي دې د ښاغلي ښوونکي په مرسته خپل نظریات بیان کړي.

## په دنیا کې د نیکو اخلاقو پایلې

۱- د نیکو اخلاقو خاوندان د خلکو زړونو ته لار پیدا کوي او د خلکو په وړاندې یې محبوبیت زیاتېږي. د نیکو اخلاقو خاوند تل خلکو ته ښایسته ښکاري او دوست یې ګڼي.

۲- کله چې په ټولنه کې د خلکو ترمنځ نیک اخلاق خپرېږي، نو په پایله کې یې باور او اعتماد هم رواج مومي او خلک یو بل ته په احترام او ښه سترګه ګوري، تاوتریخوالی او دښمني یې کمېږي.

۳- هغه ټولنه چې وګړي یې یو پر بل باور ولري، یو بل ته په درنه سترګه وګوري، یو پر بل نیک ګمان ولري او مقابل شخص هم ور سره په درناوي او محبت چلند وکړي، نو هغه ټولنه پرمختګ کوي، خپل عزت او استقلال خوندي ساتي او خپل ځواک او غښتلتیا ثابتوي، ځکه چې د داسې ټولنې وګړي یو پربل باور لري او له یو بل سره یې خواخوږۍ او اړیکې غښتلې کېږي.

نو لدې امله لیدل کېږي چې د نیکو اخلاقو پایلې په دنیا کې هم وګړي او هم ټولنې ته رسېږي او ټول ترې مستفید کېږي.

## د نیکو اخلاقو اخروي ګټې

د اسلام د مقدس دین له نظره د نیکو اخلاقو پایلې یوازې په دې دنیا پورې ځانګړې نه دي، بلکې خاوندان به یې په آخرت کې هم له نیکو پایلو برخمن کیږي. په دې اړه به د اسلام د ستر پیغمبر ﷺ د لارښوونو ځینو بیلګو ته اشاره وکړو:

۱- د حضرت انس رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول اکرم ﷺ فرمایلي: بنده د خپلو نیکو اخلاقو په واسطه د آخرت لوړو درجو او اوچتو منازلو ته رسیږي، که څه هم په عبادت کې کمزوری وي او د نا وړه اخلاقو له امله د جهنم ښکته درجې ته لاندې ورغورځیږي.[۱]

۲- حضرت عائشې رضي الله عنها فرمایلي: له رسول اکرم ﷺ څخه مې اوریدلي چې فرمایل يې: مؤمن انسان به د نیکو اخلاقو په وسیله د هغه چا درجې تر لاسه کړي چې شپې یې په عبادت او ورځې یې په روژه دارۍ سره تېرې کړې وي.[۲]

۳- همدارنګه رسول اکرم ﷺ فرمایلي: " د قیامت په ورځ به د مؤمن انسان د اعمالو په تله کې د نیکو اخلاقو څخه بل هیڅ شی درونډ نه وي"[۳]

٤- نیک اخلاق انسان پیغمبر ﷺ ته نږدې او محبوب ګرځوي، لکه څرنګه چې رسول اکرم ﷺ په یوه حدیث کې فرمایلي دي: "له تاسې څخه ماته ډیر محبوب او د قیامت په ورځ زما مجلس ته تر ټولو نږدې هغه کسان دي چې ښه اخلاق ولري." [٤]

نو که څوک د دنیوي بریا او نیکمرغۍ غوښتونکی وي باید نیک اخلاق وپیژني او هغه په خپل ژوند کې پلي کړي او که څوک د آخرت د بریا هیله من وي، باید په نیکو اخلاقو ځان سمبال کړي او که د دواړو غوښتونکی وي بیا دې هم ښایسته اخلاق خپل کړي.

### فعالیت

که څوک وغواړي چې د دوستانو اعتماد تر لاسه کړي، نو باید کومه لاره خپله کړي؟ هر

---

۱- طبراني
۲- ابو داود
۳- ترمذي
٤- ترمذي

زده‌کوونکی دې یوه تګلاره معرفي کړي.

**لنډیز:**

- د نیکو اخلاقو له خاوند سره خلك مینه کوي او د هغه درناوی کوي.
- د اخلاقي ارزښتونو غښتلتیا او خپرېدل، په ټولنه کې د باور، یووالي او پرمختګ لامل ګرځي.
- د نیکو اخلاقو ثواب او بدله د الله ﷻ پر نزد له هر څه څخه غوره ده.
- د نیکو اخلاقو خاوند به د قیامت پر ورځ، رسول اکرم ﷺ ته تر ټولو مؤمنانو زیات نږدې وي.

**ارزونه**

١ـ خلك ولې د نیکو اخلاقو لرونکي انسانان خوښوي؟
٢ـ د خلکو تر منځ باور او اعتماد څرنګه عامېږي؟
٣ـ نیك اخلاق څرنګه د ټولنې د عزت، پرمختګ او استقلال لامل ګرځي؟
٤ـ ناوړه اخلاق د انسان لپاره په آخرت کې څه پایلې لري؟
٥ـ د دې لپاره چې په آخرت کې مو د نیکو اعمالو تله درنه وي څه باید وکړو؟
٦ـ څرنګه کولی شو چې په قیامت کې د رسول اکرم ﷺ مجلس ته نږدې شو؟

**کورنۍ دنده**

نیك اخلاق چې د ټولنې د عزت او استقلال د تامین په باره کې کوم رول لوبولی شي، په اړه یې لس کرښې مقاله ولیکئ.

# ناوړه اخلاق او زیانونه یې

د خير او ښېګڼې داسې هيڅ کار نشته چې رسول الله ﷺ خپل امت ته د هغه لارښوونه نه وي کړې، او د شر هيڅ کار نشته مګر دا چې خپل امت يې ترې منع کړی دی د ناوړو اعمالو له جملې څخه چې رسول الله ﷺ مونږ ترې منع کړي يو، بد او ناوړه اخلاق دي. نو پدې لوست کې به کوښښ وکړو تر څو ناوړه اخلاق بيان کړو.

## د بدو او ناوړو اخلاقو لاملونه:

دبدو او ناوړو اخلاقو سر چينه څلور شيان دي:

۱- **جهل او نا پوهي**: ځکه چې جهل او نا پوهي انسان ته ښه کارونه په بد منظر، او بد کارونه په ښه، غوره، بشپړ او ښايسته منظرڅرګندوي.

۲- **ظلم او تيری**: ظلم انسان دې ته اړ باسي چې يو شی له خپل مناسب او موزون ځای څخه په نا سم ځای کې کيږدي، لکه دا چې انسان د رضا پر ځای غضب، د عاجزۍ پرځای تکبر، د عزت پرځای ذلت، د سخا پر ځای بخل، د شفقت او نرمۍ پرځای قساوت او بې رحمي وکړي.

۳- **حرام شهوت**: شهوت انسان حرص، طمع، بخل، بد لمنی او ټولو بدو خصلتونو ته اړباسي.

۴- **قهر او غوسه**: قهر او غوسه انسان تکبر، حقد، حسد، ظلم او تيري ته مجبوروي[۱].

---

۱- مدارج السالکين (۲- ۳۲۱- ۳۲۲)

## فعالیت

په لاندینیو جملو کې د ناوړو اخلاقو لاملونه څرګند کړئ:

۱- زده‌کوونکي استعمال شوي اضافي شیان د مدرسې په غولي کې اچوي. (        )

۲- کشران د مشرانو درناوی نه کوي او مشران پرکشرانوترحم اوشفقت نه لري. (        )

۳- زبیر ډیر خواړه خوري، ډیر ویده کیږي او د لمانځه په اداکولو کې لټې کوي. (        )

٤- نسیم بې وزلي سپک ګڼي او له خپل مال څخه ورباندې لګښت نه کوي. (        )

٥- سهیل د ګاونډیانو کورونو ته ګوري او هم د نورو عیبونه برسیره کوي. (        )

## د بدو او ناوړو خویونو پایلې:

- د ناوړو خویونو خاوند د خلکو د نفرت او د الله تعالی د غضب وړ ګرځي.
- د ناوړو خویونو لرونکي، خلک په بدو نومونو یادوي او هغه یې اوري؛ له عبدالله ابن عباس رضي الله عنه څخه روایت دی چې پیغمبر ﷺ فرمایلي دي: جنتیان هغه څوک دي چې الله تعالی یې غوږونه د خلکو له ستایلو نه ډک کړي وي یعنې دا چه خلک یې دومره په نیکۍ سره ستایي چې دغه ستایل ورته بې له واسطې رسیږي او دوزخیان هغه څوک دي چې الله تعالی یې غوږونه د دوی په حق کې د خلکو له بد ویلو نه ډک کړي وي، یعنې خلک یې دومره بد ستایي چې د هر چا په خوله کې وي او دوی له دې آګاه وي.[1]
- بد خویه انسان ځان ته غمونه، بد مرغي او بد حالي رابولي او نور هم بدبخته کول غواړي. لومړی هغه څوک چې له بدو اخلاقو څخه په غم کې اخته کیږي، پخپله همدغه بداخلاقه انسان دی. وروسته بیا ده ته نږدې خلک په غم او درد اخته کیږي بالآخره ټول هغه خلک چې له ده سره ناسته ولاړه لري د یو ډول نه په یو ډول د ده له بدو اخلاقو څخه متاثره کیږي.
- ناوړه اخلاق د ایمان خوږوالی او د اسلام نور له منځه وړي.

---

۱- ابن ماجه

## پر ناوړو خویونو باندې د نیکو خویونو د بدلیدلو لاملونه:

ډېر لاملونه شته چې له امله یې نیک خویونه په ناوړو خویونو بدلېږي خو موږ یې دلته ځینو مهمو لاملونو ته اشاره کوو:

**۱ـ واک(قدرت)**: ډېر ځله داسې کېږي چې قدرت او چوکۍ د انسان پر اخلاقو ناوړه اغیزه کوي، بدلون په کې راولي او له پخوانیو دوستانو څخه یې بې پروا کوي.

**۲ـ عزل(له قدرت څخه لرې والی)**: کله د قدرت له لاسه ورکول انسان د بد اخلاقیو لور ته بیایې چې د ډېر غم او خفګان له امله اویا هم د بې صبرۍ له کبله یې د سینې په تنګوالي اخته کوي.

**۳ـ شتمني**: کله مال او شتمني هم د انسان د طغیان او سرغړونې لامل ګرځي، دا په تجربې ثابته شوې ده چې زیاته شتمني د ډېرو خلکو د سر غړونې او بې لارۍ لامل ګرځي.

**۴ـ فقر او بې وزلي**: کله فقر او بې وزلي د انسان اخلاق بدلوي، څکه ځینې فقیران د کمزوري ایمان، د غمونو د ډېربښت او تنګلاسۍ له امله په داسې کارونو لاس پورې کوي چې له مؤمن سره مناسب نه وي، لکه: غلا، لاروهنه، دوکه او داسې نور ناوړه کارونه، چې په لومړي سر کې د فقر له امله تر سره کېږي او بیا د ډېر تکرار په نتیجه کې د هغه سړي په خوی او عادت بدلېږي، له همدې امله اسلام له فقر سره مبارزه کوي، نبی کریم ﷺ له فقر څخه په الله تعالی پناه غوښتې ده.

**۵ـ اندېښنه**: اندېښنه د انسان عقل له منځه وړي او زړه یې دومره مشغول کوي چې زغم له لاسه ورکوي، چې په پایله کې یې اخلاق او کړه وړه بدلیږي، له همدې امله نبی کریم ﷺ له غم او پرېشانۍ څخه الله تعالی پورې پناه غوښتې ده.

**۶ـ له بدو خلکو سره ناسته ولاړه**: کله چې یو انسان له بد اخلاقو خلکو سره ناسته ولاړه کوي که وغواړي او یا ونه غواړي د هغوی له اخلاقو څخه متاثره کېږي، له همدې امله پیغمبر ﷺ خپل امت دې کار ته متوجه کړی دی او د بد اخلاقو خلکو له ملګرتوب څخه یې منع کړې دي

او فرمایلي یې دي: ﴿الرَّجُلُ عَلَى دِينِ خَلِيلِهِ فَلْيَنْظُرْ أَحَدُكُمْ مَنْ يُخَالِلُ﴾[1]

ژباړه: سړی د خپل ملګري په دین دی، نو ودې ګوري چې له چا سره ملګری دی.

## ارزونه

۱- ناوړه اخلاق څرنګه رامنځته کېږي او لاملونه یې کوم دي؟

۲- بد او ناوړه اخلاق څه پایلې لري؟

۳- هغه کوم حالتونه دي چې د بد اخلاقۍ لامل ګرځي؟

٤- آیا ملګري د انسان په اخلاقو کې څه رول لري؟ د خپلې دعوې د اثبات لپاره یو دلیل ذکر کړئ.

## کورنۍ دنده

یوه مقاله ولیکئ او په هغې کې هغه لارې چارې بیان کړئ چې بد اخلاق په نیکو اخلاقو بدلوي.

۱- ابوداود

# نیک اخلاق د زړه پاکي ده

لکه څرنګه چې د انسان ظاهري جسم رنځور کیږي همدا رنګه باطني نفس یې هم په درد او ناروغۍ اخته کیږي، د مثال په توګه کله چې د انسان لاس د ناروغۍ له امله کار پرېږدي یا دا چې سترګې یې د ناروغۍ له امله خپل دید له لاسه ورکړي، همدا رنګه زړه هم د باطني ناروغۍ له امله نشي کولای چې خپلې دندې په سمه توګه تر سره کړي.

## د پاک زړه دندې:

د یو پاک او سالم زړه له دندو څخه یوه دا ده چې خپل متعا ل رب وپیژني، د هغه سره مینه وکړي، د هغه عبادت ته په صحیح ډول ځان چمتو کړي او د هغه د رضا په خاطر خپلې ټولې کړنې نیکې او برابرې کړي.

الله ﷻ فرمایي: ﴿وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنْسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ﴾ [سوره الذاریات: ٥٦]

ژباړه: مونږ پیریان او انسانان یوازې د خپل عبادت او معرفت لپاره پیدا کړي دي.

که څوک هر څه وپیژني، خو خپل خالق و نه پیژني، د هغه چا په څیر دی چې هیڅ شي یې نه وي پیژندلي، ځکه چې د هر شي خالق او پیدا کوونکی یې نه دی پیژندلی.

د الله ﷻ د پیژندلو او محبت ګټه دا ده چې بنده په کامله توګه د الله ﷻ بندګۍ ته چمتو کوي، په دې ترتیب هغه انسان چې الله ﷻ پیژني، بل هیڅ شي ته پر هغه ترجیح نه ورکوي او پر هغه یې غوره نه ګڼي.

نو هر هغه څوک چې د الله ﷻ د دوستۍ او رضا حاصلولو دعوا لري او بیا نورو  شیانو ته د هغه په رضا او محبت غوره والی ورکوي، د هغه زړه ناروغه دی. لکه د ناروغې معدې پشان چې د ډوډۍ په پرتله ورته خاورې مزه ناکې ښکاري. همدارنګه زړونه اکثره ناروغه وي چې په نیکو اخلاقو یې درملنه کیږي، شفا مومي او د ګناهونو څخه پاکیږي. د مثال په توګه بخل یوه د زړه داخلي ناروغي ده چې له امله یې انسان د الله ﷻ څخه لیرې کیږي. د دې بیمارۍ علاج دا دی چې انسان له خپله ځانه بخل لرې، خپل نفس پاک او د الله تعالی د رضا لپاره د ما ل په لګولو کې همت وکړي،

ترڅو په سخاوت عادت او خپل اخلاق يې وګرځوي. په همدې ترتيب هر نيك عمل د انسان زړه پاكوي، دنيوي او اخروي نيكمرغۍ ور په برخه كوي.

## فعاليت

۱. انسان د څه لپاره پيدا شوی؟ زده‌كوونكي دې د ښوونكي په ملګرتيا د ﴿وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنْسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ﴾ مبارك آيت په رڼا كې خپل نظرونه څرګند كړي.

۲. د لاندېني جدول سره سم پنځه باطني ناروغۍ سره له اغېزو په خپلو كتابچو كې په لنډ ډول وليكئ.

| بد اخلاق | اغېزې يې |
|---|---|
| كبر | د الله ﷻ د رحمت نه د لېرېوالي سبب ګرځي. |
| | |
| | |
| | |
| | |
| | |

۳. د تېر لوست په رڼا كې د نيكو اخلاقو د خپلولو په اړه څه وړانديز لرئ؟

## لنډيز

• لكه څرنګه چې د انسان ظاهري جسم ناروغېږي، همدارنګه د انسان باطني نفس هم په ناورغۍ اخته كېږي.

• اخلاقي مفاسد او ناوړه صفات د زړه د ناروغۍ لامل ګرځي.

• د الله ﷻ پېژندنه او عبادت د انسان زړه له باطني ناروغيو څخه ساتي.

## كورنۍ دنده

د زړه د ناروغيو او د هغې د علاج په اړه يوه مقاله وليكئ چې له لسو كرښو څخه كمه نه وي.

# له ایمان او عبادت سره د اخلاقو تړاو

## لومړی: له ایمان سره د اخلاقو تړاو

د اسلام سپیڅلي دین د اخلاقو لومړنی او اساسي بنسټ عقیده او ایمان ښودلي دي چې د ټولو مؤمنانو ظاهري او معنوي کړنې او چلندونه ورڅخه سرچینه اخلي، پدې معنا چې د اخلاقو منشأ او مبدأ، عقیده او ایمان دی.

رسول الله ﷺ فرمايلي دي: ﴿إِنَّ الْحَيَاءَ وَالإِيمَانَ قُرِنَا جَمِيعًا، فَإِذَا رُفِعَ أَحَدُهُمَا رُفِعَ الآخَرُ﴾[1]

ژباړه: حیاء او ایمان دواړه یو له بل سره تړلي دي، که یو له دې دواړو څخه نه وي بل يې هم له منځه ځي.

له ابو سعید خدري رضي الله عنه څخه روایت دی چې پیغمبر ﷺ فرمايلي دي: ﴿أَكْمَلُ الْمُؤْمِنِينَ إِيمَانًا أَحَاسِنُهُمْ أَخْلاقًا، الْمُوَطَّئُونَ أَكْنَافًا، الَّذِينَ يَأْلَفُونَ وَيُؤْلَفُونَ، وَلاَ خَيْرَ فِيمَنْ لا يَأْلَفُ وَلا يُؤْلَفُ﴾[2]

ژباړه: د ایمان له پلوه پوره او بشپړ کسان، د نیکو اخلاقو لرونکي دي، دوی هغه کسان دي چې په عاجزۍ او خاکسارۍ ژوند تیروي له نورو سره مینه کوي او مینه ورسره کیږي او له هغه چا څخه چې نه مینه کوي او نه مینه ورسره کیږي هیڅ خیر نه ترلاسه کیږي.

په یو بل حدیث کې پیغمبر ﷺ ناوړه اخلاق د نفاق نښه بللې ده لکه چې فرمايلي يې دي: ﴿أَرْبَعٌ مَنْ كُنَّ فِيهِ كَانَ مُنَافِقًا خَالِصًا، وَمَنْ كَانَتْ فِيهِ خَصْلَةٌ مِنْهُنَّ كَانَتْ فِيهِ خَصْلَةٌ مِنَ النِّفَاقِ حَتَّى يَدَعَهَا: إِذَا اؤْتُمِنَ خَانَ، وَإِذَا حَدَّثَ كَذَبَ، وَإِذَا عَاهَدَ غَدَرَ، وَإِذَا خَاصَمَ فَجَرَ﴾[3]

ژباړه: څلور خویونه دي چې که په چاکې شتون ولري، خالص منافق دی او که په چاکې یو خوی وي، په هغه کې د نفاق یو خوی شتون لري، تر څو چې هغه پرېږدي او هغه خویونه دا دي، چې

۱-المستدرك - (۱ / ۷۳)
۲-المعجم الصغير ۱/ ۲ ٦ ۳.
۳-رواه البخاري، باب علامة المنافق

کله امین مقرر کړای شي خیانت کوي، چې کله خبرې کوي دروغ وايي، چې وعده کوي غدر کوي او چې په جګړه شي ښکنځلې کوي.

## فعالیت

د نفاق د مفهوم او د منافقانو د خویونو په هکله په خپلو کې سره بحث وکړئ او نور درې صفتونه یې هم بیان کړئ.

## دویم: د اخلاقو او عباداتو ترمنځ تړاو

د اخلاقو تړاو له عباداتو سره هم نه شلیدونکی دی او په حقیقت کې د عباداتو موخه په انسان کې د فضایلو تقویت او له ناوړو خویونو څخه یې ژغورل دي، د خپلې مدعا د ثبوت لپاره کولی شو ډېر مثالونه راوړو خو په څو مثالونو یې اکتفا کوو.

۱- لمونځ د نیکو اخلاقو د لاس ته راوړلو او له ناوړو اخلاقو څخه د ځان ژغورلو وسیله ده:
الله تعالی فرمايي:﴿وَأَقِمِ الصَّلَاةَ إِنَّ الصَّلَاةَ تَنْهَى عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنْكَرِ﴾ [العنکبوت: ٤٥]
ژباړه: لمونځ قایم کړه، ځکه چې لمونځ انسان له بدو او ناوړو کارونو څخه منع کوي.
نو هغه لمونځ چې لمونځ کوونکی له بدو کارونو څخه منع نه کړي او د هغه نفس پاک نه کړي، پرته له سپورتي تمرین څخه بله ګټه نه لري.
الله تعالی په یو قدسي حدیث کې داسې فرمايي: ﴿إِنَّمَا أَتَقَبَّلُ الصَّلَاةَ مِمَّن تَوَاضَعَ بِهَا لِعَظَمَتِي ولَم يَستَطِل عَلَى خَلقِي ولَم يَبِت مُصِرًّا عَلَى مَعصِيَتِي وقَطَعَ نَهَارَهُ فِي ذِكرِي ورَحِمَ المِسكِينَ، وَابنَ السَّبِيلَ والأَرمَلَةَ ورَحِمَ المُصَابَ﴾.[1]
ژباړه: یوازې د هغه چا لمونځ قبلوم چې د هغه په واسطه زما لویي او عظمت ته غاړه ږدي، په لمانځه سره ځان له خلکو جګ نه ګڼي، په ګناه همیشه والی نه کوي، خپله ورځ زما په ذکر کې تیروي او په بېوزلو، پردیسو او غم ځپلو باندې زړه سوی کوي.
کله چې لمونځ په لمونځ کوونکي کې پرخلکو باندې د شفقت او زړه سوي جذبه رامنځته نه

۱-مسند البزار ۲/۱۷۲.

کړي، نو باید پوه شئ چې لمونځ یې نیمگړی دی.

### ۲- صدقه مؤمن ته سپیڅلتیا ور په برخه کوي:

الله تعالی فرمایي:﴿خُذْ مِنْ أَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً تُطَهِّرُهُمْ وَتُزَكِّيهِمْ بِهَا﴾ [التوبة: ۱۰۳]

ژباړه: ای پیغمبره! ته د هغوی له مالونو څخه د صدقې په اخیستلو سره هغوی پاک کړه او (د نیکۍ په لاره کې) هغوی وهڅوه.

زکات انسان له گناهونو څخه پاکوي او د بیوزلو لور ته یې پام وراړوي او له اړمنو سره یې په مرسته کولو عادت کوي.

### ۳- روژه له مسلمان څخه په نیکو اخلاقو د پاتې کېدلو غوښتنه کوي

رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمایلي: ﴿إِذَا كَانَ يَوْمُ صِيَامِ أَحَدِكُمْ فَلَا يَرْفُثْ وَلَا يَصْخَبْ فَإِنْ شَاتَمَهُ أَحَدٌ أَوْ قَاتَلَهُ فَلْيَقُلْ إِنِّي صَائِمٌ﴾.[1]

ژباړه: کله چې یو له تاسو څخه په کومه ورځ روژه درلوده، نو فحش دې نه وایي او نه دې غوسه او فریاد کوي او که چا ورته ښکنځل وکړه او یا یې ورسره شخړه وکړه، نو دی دې ورته ووایي چې زه روژه یم.

### ۴- حج د مؤمن اخلاق لوړو منازلو ته رسوي

الله تعالی فرمایي: ﴿الْحَجُّ أَشْهُرٌ مَعْلُومَاتٌ فَمَنْ فَرَضَ فِيهِنَّ الْحَجَّ فَلَا رَفَثَ وَلَا فُسُوقَ وَلَا جِدَالَ فِي الْحَجِّ﴾ [البقرة: ۱۹۷]

ژباړه: د حج میاشتې معلومې او څرگندې دي، څوک چې په دغو ټاکلو میاشتو کې د حج نیت وکړي، نو هغه دې د حج په دوران کې له شهواني عمل، ناوړه کار، جنگ او جگړې څخه ځان وژغوري.

له دې ټولو څخه دا جوته کېږي چې که چیرې لمونځ، روژه، زکات او حج د بنده په اخلاقو کې کوم بدلون رانه وړي، نو اصلي موخې یې نه دي تر لاسه شوي.

---

۱-مسند الصحابة في الكتب الستة - (۵ / ۴۳۰)

## فعالیت

زده کوونکي دې په خپل منځ کې مباحثه وکړي او کوښښ دې وکړي چې ځينې داسې ایاتونه او احادیث بیان کړي چې پر اخلاقو باندې د عباداتو د آثارو په اړه وي.

## ارزونه

۱- څرنګه ثابتولی شئ چې اخلاق له ایمان سره نه شلیدونکی تړاو لري؟
۲- له کوم حدیث څخه څرګندیږي چې منافقین له نیکو اخلاقو څخه لیرې دي؟.
۳- د منافقینو ځانګړي صفتونه کوم دي؟ ویې لیکئ.
٤- دا چې لمونځ په انسان کې نیکو اخلاقو ته وده ورکوي د دغه مطلب د اثبات لپاره یو آیت یا یو حدیث دلیل راوړئ.
٥- که له لمانځه سره سره بیا هم د چا اخلاق ناوړه وي، دا په څه دلالت کوي؟ څرګند یې کړئ.
٦- روژه او حج د انسان پر اخلاقو څه اغیزه لري؟ بیان یې کړئ.
٧- په زکات کې پرتې ټولنیزې ګټې کومې دي؟ بیان یې کړئ.

## کورنۍ دنده

په لوست کې د ذکر شوو ایاتونو او احادیثو له جملې څخه چې د دلیل په حیث راغلي دي دوه آیتونه او دوه حدیثونه سره له ترجمې په خپلو کتابچو کې ولیکئ او سبا یې د ټولګیوالو په وړاندې ولولئ.

# د نیکو اخلاقو حاصلول

آیا اخلاق د تغیر او تبدیل وړ دي؟ آیا د اخلاقي ارزښتونو په څرنګوالي او بدلون کې د انسان کړنه هڅه او هاند کومه ونډه لري؟ کومې لارې او تګلارې کولای شي چې د انسان د اخلاقو په رامنځته کولو کې اغیزناکې وي؟ کوم عوامل اخلاقو ته بدلون ورکوي؟

د انسان اخلاق هم کسبي دي او هم فطري؛ کسبي اخلاق د تغیر او تبدیل وړ دي کوم چې د تمرین او ممارست په صورت کې بدلیږي او یا هم له منځه تللای شي. خو فطري اخلاق له منځه نه ځي، بلکې تهذیب او غښتلي کیدای شي. د انبیاء کرامو علیهم السلام دنده هم دا وه چې کسبي ناوړه اخلاق په نیکو اخلاقو بدل کړي او فطري ناوړه اخلاق تهذیب او ګټور وګرځوي.

الله جل جلاله د اسلام ستر پیغمبر صلی الله علیه وسلم د داسې خلکو په منځ کې راولیږه چې ناوړه اخلاق او عادتونه یې په منځ کې خواره شوي وو. یو له بل سره په جګړو اخته وو، یو به د بل مال په چل او دوکې سره خوړلو، په کمزورو خلکو به یې ظلم او تیری کاوه، خو د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د تربیې له امله د یادو شوو خلکو څخه داسې خلک رامنځته شول چې د نیکو اخلاقو په ډګر کې د بشریت ښوونکي وګرځیدل.

## د اخلاقو په بدلون کې د چاپیریال اغیزه

که مونږ او تاسې خپل کلي ته ځیر شو، ګورو چې خلک د خپل چاپیریال څخه اغیزمن کیږي. هغه هلکان او نجونې چې د نیکو کورنیو سره اړیکې او له نیکو خلکو سره ناسته ولاړه لري، د هغوی اخلاق ښه کیږي او که د داسې کورنۍ سره تړاو ولري چې په هغوی کې تربیه او تعلیم نه وي او یا د داسې خلکو سره یې ناسته ولاړه وي چې ناوړه اخلاق ولري، دغه اړیکې پر هغوی اغیزه کوي او د بد اخلاقۍ په لوري یې راکاږي.

## د اخلاقو د بدلون لاملونه او لارې چارې

هغه لارې او اسباب چې د اخلاقو په بدلون کې ګټورې دي، ښوونه او روزنه ده.

علم انسان ته د اخلاقو په اړه قناعت ورښښي، او د تربیې، تمرین او تکرار په واسطه په عادت بدلیږي. د دې موضوع بشپړې شرحې ته پاملرنه وکړئ:

۱ . **ښوونه**: ښوونه انسان ته د ښو او بدو اخلاقو په اړه پوهه او قناعت وربښي. د ښوونې په واسطه نیک اخلاق او له هغې نه د استفادې څرنګوالی، بد اخلاق او د هغې زیانونه پیژندل کیږي.
قرآن کریم، سنت او نبوی سیرت د اخلاقو لوی مصدرونه دي چې انسان کولی شي له دې لارې په نیکو اخلاقو او د هغو په ځانګړتیاوو ځان خبر کړي.

۲ . **روزنه**: روزنه د تمرین او عملي تکرار سره د اخلاقو د تقویت او رسوخ په لار کې یوه ارزښتناکه وسیله ده، کومه چې د کورنی، ښوونځي، مدرسې، ټولګیوالو، نیکو دوستانو او د ښو خلکو سره د ناستې ولاړې په واسطه د انسان زړه ته ننوځي.
نو لدې کبله ویلی شو چې ښوونه او روزنه د ښو اخلاقو د پیژندلو، د اخلاقي اوصافو په تغیر کې بنسټیزه اغیزه لري، د ښوونې او روزنې په واسطه انسان کولای شي خپل اخلاق ښه او له بدو اخلاقو څخه ځان وژغوري.

## لنډیز

* کسبي او فطري صفات دواړه پر اخلاقو اغیزه لري.
* د ژوند او روزنې چاپیریال د انسانانو د اخلاقو په څرنګوالي کې ارزښتناکه او اساسي ونډه لري.
* اخلاقي اوصاف او ارزښتونه د (ښوونې او روزنې) د دوو عنصرونو په واسطه د بدلون او ټینګښت وړ دي.

## ارزونه

۱ . له قرآنکریم څخه یو داسې دلیل ذکر کړئ چې د اخلاقو تغیر را په ګوته کوي.
۲ . رسول اکرم ﷺ د اخلاقو د بدلون او ښه والي یوه وتلې بیلګه ده. زده‌کونکي دې په دې اړه توضیحات ورکړي.
۳ . د خپل چاپیریال د حوادثو په پام کې نیولو سره د حیواناتو د تربیې له لارې د اخلاقو د تغیر د امکان یو مثال ذکر کړئ.
٤ . د نیکو اخلاقو په ترلاسه کولو کې کوم وسایل او کړنلارې اغیزې لري؟
٥ . د اخلاقو پیژندنه له کومو منابعو څخه تر لاسه کیدای شي؟

## کورنۍ دنده

هر زده‌کونکی دې د دې لوست په اړه د خپلې کورنۍ له غړو سره خبرې اترې وکړي او په راتلونکي لوست کې دې پر خپل فعالیت رڼا واچوي.

# د نیکو اخلاقو ارزښت

آیا یوازې مسلمان باید د نیکو اخلاقو خاوند وي او که ښه اخلاق د هر انسان لپاره ضروري دي؟
د یو غیر مؤمن انسان لپاره اخلاقي ارزښتونه څه اهمیت لري؟
اخلاق د انسان معنوي ارزښت ټاکي او په دوو برخو ویشل شوي دي، انساني اخلاق او اسلامي اخلاق.

## نیک انساني اخلاق

ددې ډول اخلاقو خاوند په ژوند کې په یوه مؤثر انسان بدلیږي. همدارنګه په انساني اخلاقي ارزښتونو سمبالتیا د هرې پرمخ تللې ټولنې یا بریالۍ ډلې لپاره اړین شرط بلل کیږي.
د یوې ټولنې وګړي د اخلاقي اهلیت په مټ، کولی شي چې خپل ځان اغیزناک ثابت کړي او که نه د خرابې وسلې په څېر به بې تاثیره پاتې وي. خو د اصلي او ښو وسایلو شتون مؤثر او اغیزناک وي. نو هرکله چې د انسان په طبیعت کې صبر وجود ولري، مشکلات تحمل کړي، ثبات او استقامت غوره کړي، د خپلو موخو د ترلاسه کولو لپاره دوامداره کوښښونه تر سره کړي، د لوړ همت خاوند وي، سست او بیکاره نه وي، رښتیا ووایي، شجاعت ولري د خپلو اهدافو سره محبت ولري تر دې چې د هغو لپاره قرباني ته هم چمتو وي، پروګرام ولري، خپل کارونه په تدبر او فکر سره ترسره کوي او خپل احساسات کنترولوي، دا شخص به خپلو موخو ته د رسیدو لپاره بریالی وي که هغه مسلمان وي او که نه.
په همدې ترتیب که په یوه ټولنه کې نیک اخلاق لکه عفوه، بښنه، په عمومي موخو باور او د هغو لپاره کوښښ، ایثار (په نیکیو کې نورو ته په خپل ځان غوره والی ورکول) پاکي او نظافت، نظم،

د امیر امر منل، خلکو ته د هغوی د وړ توب او قابلیت په کچه دنده سپارل، د یو او بل نظر ته احترام، د تحمل د روحیې درلودل، د مسؤلیت او حساب ورکولو احساس، په یوبل باندی ترحم او زړه سوی، رښتینولي، امانت داري، معقولیت او اعتدال موجود وي، نو په یقیني توګه دغه ټولنه خپلو موخو ته رسیږي، برابره ده که دا ټولنه مؤمنه وي او یا نه وي.

**فعالیت**

زده کونکي دې د هغو عناصرو پنځه پنځه بیلګې ذکر کړي چې د فرد او ټولنې د اخلاقي اهدافو په تر لاسه کولو کې اغیزمن واقع کیږي.

**اسلامي اخلاق**: د اسلام مقدس دین په فرد او ټولنې کې د نیکو انساني اخلاقو ارزښتونه غښتلي کوي او هغه له ټولو ناولتیاوو څخه پاکوي، چې دغه ارزښتونه په لاندیني ترتیب سره غښتلي کیږي:

ا- په الله ﷻ باندې د ایمان پر بنسټ چې هیڅ څوک له هغه څخه غایب نه دی، او په آخرت د ایمان لرلو په اساس چې په دې ورځ به هر انسان ته د هغه د نیک او بد عمل مطابق جزا ورکول کیږي، دغه عادات او اخلاقي ارزښتونه له اسلامي عمل او عقیدې سره کلک تړاو لري، د ایمان غوښتنه هم دا ده چې فردي او اجتماعي نیک عادات او خصلتونه په مؤمنانو کې د نورو په پرتله غښتلي او ژور وي.

ب- توجیه او لارښوونه په دې ترتیب صورت مومي چې پر انسان دا لازموي تر څو له خپل اهلیت او توان څخه د خپلو روا موخو په تر لاسه کولو کې کار واخلي، او خپل امکانات او پیاوړتیا د ناروا کارونو په تر سره کولو کې مصرف نه کړي. رسول اکرم ﷺ فرمایلي: ﴿خَيرُ النَّاسِ أَنْفَعُهُمْ لِلنَّاسِ﴾.[1]

ژباړه: تر ټولو خلکو غوره هغه کسان دي چې خلکو ته ډیره ګټه رسوي.

---

۱- أخرجه الشهاب القضاعی فی مسنده

ج- د اخلاقي ارزښتونو غښتلتیا په دوه ډوله ترسره کیږي:

لومړی: تهذیب، پاکی او د معیارونو په نظر کې نیول، لکه سخاوت، چې یو نیك عادت دی، خو که یاد شوی عادت له اعتدال څخه ووځي په اسراف بدلیږي. اسلام د سخاوت لپاره احکام او معیارونه ټاکلي دي چې په هغو د سخاوت او اسراف ترمنځ توپیر کیدای شي.

دویم: د شرعي ځانګړو اخلاقو پلي کېدل، لکه اخلاص، تواضع، شکر، قناعت او داسې نور چې پرته له وحې یوازې عقل نشي کولای هغې ته ورسیږي.

خو هغه فرد یا ټولنه چې د اسلام دعوی کوي، او د فردي او اجتماعي نیکو اخلاقو څخه محرومه وي، نشي کولای چې په تشی دعوا سره په یو مؤثر فرد یا مؤثرې ټولنې بدله شي. الله ﷻ په قرآنکریم کې فرمایي:

﴿إِنَّ اللَّهَ لَا يغير مَا بِقَوْمٍ حَتَّى يغيروا مَا بِأَنْفُسِهِمْ﴾ [الرعد:۱۱]

ژباړه: حقیقت دا دی چې الله د هیڅ قوم حالت نه بدلوي، تر څو پورې چې هغوی خپل ځان (اوصاف) نه وي بدل کړي. د یوې ټولنې خوشحالي، ثبات، په دیني او دنیوي چارو کې پرمختګ، د آزادۍ ساتنه او په دنیا کې د یو مؤثر ملت په توګه مثبته ونډه لرل هغه مهال ممکن دي چې بشري ټولنه په فردي او اجتماعي سطحه په نیکو اخلاقو سمباله وي.

## لنډیز

* اخلاق په دوو برخو ویشل شوي، یو یې انساني او بل یې اسلامي اخلاق دي.
* د انساني اخلاقو خاوند به په دنیا کې بریالی او د خلکو خوښ وي.
* د اسلامي اخلاقو خاوند به په دنیا او آخرت کې بریالی او نیکمرغه وي.
* د اسلام مقدس دین اخلاقي صفتونه تهذیبوي، هغو ته لارښوونه کوي او اعتدال وربښي.

## ارزونه

۱. آیا نیک اخلاق یوازې د مسلمان صفت دی او که بل څوک هم کولای شي چې په یاد شوي صفت موصوف شي؟

۲. که فرد یا ټولنه په نیکو اخلاقو سمبال وي، نو څه پایلې به ولري؟

۳. که یو فرد یا ټولنه غوره اخلاق ونه لري، آیا یوازې د ایمان او اسلام په دعوا سره کوم اثر پرې مرتبیږي؟

٤. رښتینی ایمان په اخلاقو کې څه ډول تغیر او بدلون راولي؟

### کورنۍ دنده

د انساني او اسلامي اخلاقو د مؤثرو شریکو بنسټونو په اړه یوه مقاله ولیکئ چې له لسو کرښو څخه کمه نه وي.

# د پیغمبر ﷺ اخلاق

د اسلام ستر پیغمبر ﷺ د آدابو او اخلاقو سرچینه بلل کېږي، چې مسلمانان خپل اخلاق له هغه څخه اخلي. په دې لوست کې به د نبوي اخلاقو ځینې برخې مطالعه کړو.

## قرآن کریم د پیغمبر ﷺ اخلاق دي:

د رسول اکرم ﷺ د اخلاقو په اړه ډېر مناسب تعبیر هماغه د بي بي عائشې رضي الله عنها قول دی چې ویلي یې دي: ﴿كَانَ خُلُقُهُ الْقُرْآنَ﴾[1] ژباړه: د پیغمبر ﷺ اخلاق قرآن و.

همدا رانګه قرآنکریم د رسول اکرم ﷺ اخلاق په داسې ښکلی صفت سره بیانوي: ﴿وَإِنَّكَ لَعَلَى خُلُقٍ عَظِيمٍ﴾[2]

ژباړه: بیشکه ته د لوړو اخلاقو خاوند یې د اسلام ستر پیغمبر ﷺ دغه اسماني شهادت پرته له کبر او غرور څخه په پوره ډاډمن زړه استقبال کړ او په تواضع او عاجزۍ یې وفرمایل: ﴿إِنَّمَا بُعِثْتُ لأُتَمِّمَ مَكَارِمَ الأَخْلاَقِ﴾[3]

ژباړه: یقیناً چې زه د نیکو او غوره اخلاقو د بشپړولو لپاره را لیږل شوی یم.

نو اخلاق د محمدي رسالت له اساسي او بنسټیزو عناصرو څخه دی، چې په خپلو تشریعي او تهذیبي اصولو سره، نظافت، رښتیا، امانت، ترحم، عدالت، نیکی او پر وعدې باندې وفاکولو ته رابولي او په ټینګار سره یې ظلم، تېري، مکر، چل، د بل په مال، نفس او ناموس تیری منع کړی او په کلکه یې مقابله کوي او په ټولو فردي او ټولنیزو اخلاقي امورو کې د قول او فعل، ظاهر او باطن، شعور او سلوک مطابقت اړین ګڼي.

---

۱- جامع الأحاديث
۲- سورة القلم، آیت: ٤
۳- السنن الكبرى للبيهقي

## د اسلام د پیغمبر ﷺ د اخلاقو بیلگې:

دې ټکي ته په پام سره چې د رسول اکرم ﷺ د اخلاقو منبع قرآن دی، او دا چې اخلاقي ارزښتونه یې د رسالت یو جز وو، نو لیدل کیږي چې د هغه ﷺ اقوال، احادیث او مبارک سیرت یې د ژوند په ټولو برخو کې د یاد شوو ارزښتونو عملي تطبیق دی. اخلاقي بنسټونه او ارزښتونه لکه: تواضع، صدق، زهد، امانت، وفاء، عدالت، سخاوت، عبادت، له الله ﷻ څخه ویره او داسې نورې اخلاقي ځانگړتیاوې د رسول اکرم ﷺ د قولي او فعلي سنت او عملي سیرت اساسي برخه تشکیلوي.

### فعالیت

زده کوونکي دې د ښاغلي ښوونکي په مرسته د ( تواضع، امانت، سخاوت، زهد، عبادت او د الله ﷻ څخه د ویرې) په اړه د رسول اکرم ﷺ د اخلاقو بیلگې د ټولگیوالو پر وړاندې بیان کړي.

## د پیغمبر ﷺ په ژوند کې اخلاقي سجایا

په عمومي، فردي، ټولنیز او کورني ژوند کې د پیغمبر ﷺ ځینې اخلاقي صفات او آداب په لاندې ډول وو:

- رسول اکرم ﷺ به له بې وزلو، مسکینانو او فقیرانو سره ناسته ولاړه درلوده او له هغوی سره به یې ډوډۍ خوړله.
- له خپلو خپلوانو سره به یې د صله رحمۍ اړیکې ساتلې، خو یو پر بل، یا پر نورو خلکو به یې غوره نه گڼل.
- خلکو ته به یې په ډیر وقار او ادب سره کتل او د ډیرې تواضع او خاکسارۍ له امله به یې تل د ځمکې لور ته کتل.
- رسول اکرم ﷺ د نورو انسانانو په پرتله د ډیرې زړورتیا خاوند و، د سرښندنې په ځای کې به د نورو خلکو څخه مخکې و، د خلکو حمایت او ساتنه به یې کوله او د جنگ په میدان کې به دښمن ته تر نورو ډیر نږدې و.
- د مجلس خلکو ته به یې د هغوی د مقام په تناسب خطاب کاوه او له هغوي سره به یې خبرې

اترې کولې. زید بن ثابت رضي الله عنه وايي: کله به چې مونږ د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم په مجلس کې ناست وو، که د آخرت په اړه به مو خبرې کولې، نو له مونږ سره به شریک شو او که د دنیا په اړه به مو خبرې کولې، نو له مونږ سره به یې ملګرتیا کوله او که د خوراک او څښاک په اړه به مو خبرې کولې، نو له موږ سره به یې ملتیا کوله.

• رسول اکرم صلی الله علیه وسلم تر ټولو خلکو رښتیا ویونکي سړی و، ټولې خبرې او کړنې یې رښتینې او حقیقت وې، آن تر دې چې که ټوکه به یې هم کوله نو له رښتیاوو څخه به لیرې نه وه.

• په اسلامي اصولو تر ټولو ډېر ملتزم او ولاړ و او د دین ټول تعالیم به یې پرته له کمي او زیاتي پلي کول.

• کله به چې له غم او خواشینۍ سره مخ شو نو د لمانځه په ادا کولو به لګیا شو او فرمایل به یې: ﴿جُعِلَتْ قُرَّةُ عَيْنِي فِي الصَّلاةِ﴾[1]

ژباړه: زما د سترګو یخ والی په لمانځه کې دی.

• د تفکر، تامل، ذکر کولو او د خپل ځان د محاسبې لپاره به یې خلوت او یوازیوالی خوښاوه.

• له هر چا سره به چې مخ شو نو د تواضع له امله به یې پرې لومړی سلام کاوه.

• کوم خوراک به چې ورته وړاندې شو هیڅکله به یې هغه عیبجن نه ګاڼه، که خوښ به یې شو نو ویه یې خوړ او که نه نو هغه به یې پرېښود.

• د اړتیا په اندازه به یې خبرې کولې، په خبرو کې به یې بې ځایه زیاتی یا کمی نه لیدل کیده.

• هیڅلکه به د خپل ځان لپاره نه په غوسه کیده او نه به یې بدل اخیست.

• د ملګرو له حالت څخه به یې پوښتنه کوله تر څو ځان پرې خبر کړي.

• ناسته او ولاړه به یې د الله جل جلاله له ذکر پرته نه وه.

• خپلې جامې او پڼې به یې ګنډلې، د خادمانو سره به یې یوځای ډوډۍ خوړله، پر ځمکه ناسته به یې غوره ګڼله، د مالداره او فقیر سره به یې یو شان خبرې کولې، بې وزله به یې د بې وزلۍ له امله نه سپکاوه، د سترې مه شئ په وخت کې به یې د مقابل سړي لاس تر هغې نه پریښود، تر څو چې به هغه خپل لاس نه و پرېښودلی، بې وزلي، شتمن، مشر او کشر ته به یې سلام کاوه.

---

۱- البیهقی

## لنډيز

- د اسلام ستر پيغمبر حضرت محمد ﷺ د اخلاقو منبع او سرچينه ګڼل کېږي.
- الله جل جلاله د رسول اکرم ﷺ اخلاق ستايلي او قرآن کريم يې د هغه اخلاق معرفي کړې دى.
- حضرت محمد ﷺ د ظاهري او معنوي اخلاقو يوه ستره بېلګه ده.

## ارزونه

١. (قرآنکريم د رسول اکرم ﷺ اخلاق و) دا د چا مقوله ده؟ چا ته يې ويلې وه؟ او په کوم مناسبت يې ويلې وه.

٢. قرآنکريم د پيغمبر ﷺ اخلاق څرنګه تعريف کړي؟ په دې اړه له قرآنکريم څخه آيت ذکر کړئ.

٣. د اسلام د ستر پيغمبر ﷺ په رسالت کې د نيکو اخلاقو مقام څرنګه معرفي شوى دى؟ په دې اړه حديث شريف ذکر کړئ.

٤. هر زده‌کوونکى دې د رسول اکرم ﷺ د اخلاقو يو يو صفت چې په دې لوست کې ذکر شوي وي د نورو زده‌کوونکو پر وړاندې بيان او د ښوونکي او زده‌کوونکو په مرسته دې د هغو په هکله توضيحات ورکړي.

## کورنۍ دنده

د رسول اکرم ﷺ د هغه تعامل په اړه چې له خپلې کورنۍ او تر لاس لاندې خلکو سره يې درلود، يوه مقاله وليکئ چې له لسو کرښو څخه کمه نه وي.

# د خبرو آداب (۱)

## د ژبې نعمت

ژبه او بیان له هغو سترو الهي نعمتونو څخه دي چې انسان ته یې د هغو په واسطه پر نورو مخلوقاتو غوره والی او فضیلت وربښلی دی. نو پر انسان لازم دي چې د خبرو آداب مراعات کړي، تر څو یې د یاد شوي نعمت شکر ادا کړی وي.

**فعالیت**

زده کونکي دې د ژبې دګټو په اړه خپل نظریات څرګند کړي.

## د ژبې ارزښت

په یوه روایت کې راغلي چې لقمان حکیم له یوه زده‌کونکي څخه وغوښتل تر څو یو ګډ "پسه" حلال کړي او د هغه تر ټولو ښه غړی ورته راوړي، زده‌کونکي د ګډ ژبه ورته راوړه. لقمان حکیم له هغه هلك (زده کوونکي) څخه بیا وغوښتل چې دا ځل د پسه تر ټولو ناوړه او بد غړی ورته راوړي.

زده‌کونکي بیا هم د پسه ژبه ورته راوړه. کله چې لقمان حکیم د دې کار د لامل په اړه ورڅخه پوښتنه وکړه، هوښیار زده‌کوونکي ورته په ځواب کې وویل: کله چې ژبه د خیر په کار کې وکارول شي، نو په انسان کې غوره غړی دی او که په شر کې استعمال شي، نو د انسان په وجود کې تر ټولو بده عضوه بلل کیږي.

**فعالیت**

د زده‌کونکي دغه کار پر څه دلالت کوي؟ ځواب یې په خپل تعبیر سره په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

د اسلام سپیڅلي دین، ژبې، خبرو کولو، د خبرو موضوع او آدابو ته ځانګړې پاملرنه کړې ده او پر

دي ډېر ټينګار کوي چې د الله ﷻ دا لوی نعمت بايد د خير او نيکۍ په لارو چارو کې استعمال شي او له بې ځايه او ناوړه خبرو څخه ډډه وشي. الله ﷻ با بيزه او حساسيت پاروونکې خبرې بدې ګڼلي او فرمايلي يې دي: ﴿لَا خَيرَ فِى كَثِيرٍ مِنْ نَجْوَاهُمْ إِلَّا مَنْ أَمَرَ بِصَدَقَةٍ أَوْ مَعْرُوفٍ أَوْ إِصْلَاحٍ بَينَ النَّاسِ﴾ [النساء: ١١٤].

ژباړه: د هغو په پټو مجلسونو کې زياتره څه ښېګڼه نه وي، هو، که څوک په پټه توګه د صدقې او خيرات لارښوونه وکړي يا د کوم ښه کار لپاره د خلکو په چارو کې د اصلاح کولو لپاره څه ووايي.

## کومه غوره ده؟

هر انسان بايد له خبرو وړاندې فکر وکړي چې هغه څه چې وايي، هغه ته اړتيا شته او که نه؟ که خبره يې ضروري او ګټوره وه، ويل يې ښه دي، او که نه چپ پاتې کيدل غوره دي، ځکه چې په اسلام کې د بې ځايه خبرو څخه ځان ساتل او چوپتيا عبادت دی او لوی اجر لري.

رسول اکرم ﷺ فرمايي: ﴿ أَلاَ أُخْبِرُكُمْ بِأَيْسَرِ العِبَادَةِ وَأَهْوَنِهَا عَلَى الْبَدَنِ؟ اَلصَّمْتُ وَ حُسْنُ الْخُلُقِ﴾.[1] ژباړه: آيا تاسو ته تر ټولو آسانه عبادت او د بدن لپاره آسانه عمل و نه ښيم؟ هغه چوپتيا او نيک اخلاق دي.

همدارنګه رسول اکرم ﷺ فرمايي: ﴿مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ فَلْيَقُلْ خَيْرًا أَوْ لِيَصْمُتْ﴾[2]

ژباړه: هر هغه څوک چې په الله ﷻ او آخرت ايمان لري، بايد نيکه او ښه خبره وکړي او يا چوپ و اوسي. نن ورځ اکثره مجلسونه بې ځايه خبرو نيولي، خو هغه انسانان چې غواړي خپل افکار راټول او خپل کارونه وارزوي دا خوښ ګڼي چې د داسې ځايونو څخه ځانونه وژغوري. رسول اکرم ﷺ په يوه بل مبارک حديث کې خپل يوه جليل القدر صحابي ته توصيه کوي فرمايي: ﴿عَلَيْكَ بِطُولِ الصَّمْتِ فَإِنَّهُ مَطْرَدَةٌ لِلشَّيْطَانِ، وَ عَوْنٌ لَكَ عَلَى أَمْرِ دِيْنِكَ﴾.[3]

ژباړه: پر تا لازمه ده چې زياته چوپتيا غوره کړې، ځکه چې چوپتيا شيطان شړي او له تا سره د ستا د دين په امورو کې مرسته کوي.

## بې واګه ژبه د شيطان په لاس کې ده

يقيناً بې واګه او بې قيده ژبه د شيطان په لاس کې ده، چې په دې صورت کې شيطان کولی شي هغه د شر او تباهۍ په لورې بوځي، کله چې انسان د خپلې ژبې واک او اختيار ونه لري، نو خوله

١- مرقات المفاتيح
٢- روايت بخاري
٣- روايت احمد

يې د هغو ناپاكيو د ننوتلو مدخل گرځي كوم چې د انسان د زړه د ناپاكۍ او ككړتيا لامل گرځي او د غفلت په پردو كې يې رانغاړي.[1]

په همدې ترتيب د ژبې ساتنه د اسلامي اخلاقو څخه شميرل كيږي چې د انسان د ايمان د استقامت او د زړه د داړ نښه ده. لكه څرنگه چې رسول اكرم ﷺ فرمايي: ﴿لا يَسْتَقِيمُ إِيمَانُ عَبْدٍ حَتَّى يَسْتَقِيمَ قَلْبُهُ، وَلا يَسْتَقِيمُ قَلْبُهُ حَتَّى يَسْتَقِيمَ لِسَانُه﴾.[2]

ژباړه: د يوه بنده ايمان تر هغې استقامت نه مومي تر څو چې يې زړه نه وي مستقيم شوى، او زړه يې تر هغې نه سيده كيږي، تر څو چې يې ژبه نه وي سمه شوې.

## لنډيز

- ژبه يو الهي لوى نعمت دى او د انسان لپاره اساسي او حياتي ارزښت لري.
- له هغو خبرو كولو څخه چې انسان ته ناوړې پايلې ور په برخه كوي چوپتيا غوره ده.
- د ژبې ساتل اسلامي اخلاق او د انسان د استقامت دليل دى.

## ارزونه

١. " ژبه "يو الهي ستر نعمت دى چې انسان ته يې وركړې. څرنگه كولاى شو د دې لوى نعمت شكر اداء كړو؟

٢. انسان څرنگه د ژبې په واسطه پر نورو مخلوقاتو غوره والى حاصل كړى دى؟

٣. په لوست كې ياد شوې مبارك آيت كوم ډول خبرې اترې ناروا گڼلې؟ او كومو خبرو ته مو هڅوي؟ واضح يې كړئ.

٤. هغه مبارك احاديث ولولئ چې په نيكو خبرو يا چوپتيا باندې امر كوي.

٥. " د ايمان استقامت د ژبې په استقامت پورې تړلى دى " نوموړې مطلب واضح كړئ.

## كورنۍ دنده

د چوپتيا او ځانته ناستې په هكله يوه مقاله وليكئ چې له لسو كرښو كمه نه وي.

---

١- محمد الغزالى، د خلق المسلم كتاب ص / ٨١

٢- روايت ترمذي

# د خبرو آداب (۲)

حضرت معاذ رضي الله عنه فرمايلي: ما د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم څخه پوښتنه وکړه چې آيا مونږ به د خبرو له امله پوښتل کيږو؟ رسول صلی الله علیه وسلم وفرمايل: " ای معاذه: مور دې تا ورک کړي(مور دې درباندې بوره شي)! آيا همدا ژبه نه ده چې خلک به پړمخ د جهنم په لوري کشوي؟ "

## د ژبې آفتونه

ژبه ظاهراً د غوښې يوه وړه ټوټه ده، خو د خاوند لپاره يې سترې پايلې او اغېزې لري، کفر او ايمان د ژبې په وسيله ښکاره کيږي. نو لکه څرنگه چې ژبه د الله جل جلاله يو لوی نعمت دی، همدا راز يو لوی آفت هم دی چې د انسان د هلاکت لامل گرځي. د ژبې ځينې آفتونه په لاندې ډول دي: د بې ځايه خبرو آفت، د باطلو خبرو آفت، د ريا او تظاهر د خبرو آفت، د ژبنۍ دښمنۍ آفت، د فحشو، کنځلو او بدو خبرو آفت، په انسان، حيوان يا جماد د لعنت ويلو آفت، د تمسخر او استهزاء آفت، د پټو رازونو د برسيره کولو آفت، د وعده خلافۍ آفت، د دروغ ويلو او ناحقه سوگند خوړلو آفت، د غيبت او چغلۍ آفت، د دوه ژبۍ آفت، د مدحې او داسې نورو شيانو آفتونه.

**فعاليت**

زده‌کونکي دې د ياد شوو آفتونو نومونه واخلي او د ښوونکي په مرسته دې واضح کړي او بيا دې په خپلو کتابچو کې وليکي.

## له بې ځايه خبرو څخه ځان ساتل

د اسلامي اخلاقو له نظره د بې ځايه او بې ګټو خبرو څخه ځان ساتل د انسان د کمال او بريالیتوب شرط دی. قرآنکريم له بې ځايه خبرو څخه ځان ساتل د اسلام د دوو اررښتناکو رکنونو يعنې لمونځ او زکات په منځ کې ذکر کړي، لکه څرنګه چې فرمايي: ﴿قَدْ أَفْلَحَ الْمُؤْمِنُونَ، الَّذِين هُمْ فِى صَلَاتِهِمْ خَاشِعُونَ، وَالَّذِين هُمْ عَنِ اللَّغْوِ مُعْرِضُونَ، وَالَّذِين هُمْ لِلزَّكَاةِ فَاعِلُونَ﴾ [المؤمنون: ١-٤]

ژباړه: په باوري ډول هغو مؤمنانو برى موندلى دى چې: په خپل لمانځه کې عاجزي کوي، له عبثو څخه مخ اړوونکى وي او د خپلو مالونو زکات ورکوي.

اسلام بې ځايه او عبثې خبرې ردوي او هغه نه خوښوي. همدا راز بې ګټې خبرې د انسان عمر او وخت ضايع کوي، له دې امله يو مسلمان بايد خپل وخت بې ځايه مصرف نه کړي، بلکې په کار ده چې له وخت څخه په ډېر جديت سره د خير په کارونو کې استفاده وکړي. څومره چې يو مسلمان له بې ځايه خبرو څخه ځان وساتي، هغومره يې د الله ﷻ پر نزد مقام لوړيږي.

د حضرت انس بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دى چې ويل يې: يوه ورځ يو سړى وفات شوى و، نو يوه صحابي د آنحضرت ﷺ پر وړاندې دغه مړي ته د جنت زيرى ورکړ. د اسلام پيغمبر ﷺ د دې خبرې په اوريدو سره وفرمايل: ﴿أَوَلَا تَدْرِىْ؟ فَلَعَلَّهُ تَكَلَّمَ فِيْمَا لَا يَعْنِيْهِ، أَوْ بَخِلَ بِمَا لَا يَنْقُصُهُ﴾.(۱)

ژباړه: تاسې څه پوهيږئ؟ کيداى شي بې ځايه خبره يې کړې وي او يا يې په هغه څه کې بخل کړى وي چې ده ته يې کې نقصان نه و.

اسلامي اخلاق بې ځايه او بې ضرورته خبره که هغه مباح او يا د ټوکو په بڼه هم وي نه خوښوي. او ترڅنګ يې زيان لرونکې خبرې، مسخرې، بد ويل، غيبت او داسې نور د ژبې آفتونه او ناروغى په قطعي توګه حرام ګرځولي چې مرتکب يې د محاسبې او سختې مواخذې سره مخ کيږي.

---

۱- روايت ترمذى

## لنډيز

انسان د هر هغه څه له امله چې له خولې يې راووځي محاسبه او مؤاخذه کيږي.

- د ژبې زيانونه او آفتونه ډير زيات دي کوم چې ټول ناوړه صفات رانغاړي.
- له بې ځايه خبرو څخه ځان ساتل د نيکمرغو کسانو صفت دی.

## ارزونه

۱. آيا انسان د وينا له امله مؤاخذه کيږي؟ دليل يي ذکر کړئ.

۲. زده‌کونکي دې د ژبې آفتونه ذکر کړي او د ښوونکي په مرسته دې د ياد شوو آفتونو څخه د نجات آداب او اخلاق د اسلامي تعليماتو په رڼا کې تشريح کړي.

۳. داسې خلک شته چې په ټوکو، بې ځايه خبرو او مسخرو سره خلک مشغولوي. دا رنګه بې ځايه او بې ګټې خبرې د اسلامي اخلاقو له نظره څه حکم لري؟

۴. د اسلام مقدس دين ولې عبثې او بې ځايه خبرې ردوي؟ په منطقي دلايلو سره يې استدلال وکړئ.

۵. په قرآني آيت سره له بې ځايه خبرو نه د ځان ژغورنې په هکله څرنګه استدلال کولی شئ؟

# په اسلام کې د حلم مقام

حلم او بښــنه د اخلاقو د لړۍ په سـر کې هغه خوی دی چې خپل خاوند په ښـو، غوره او لوړو اخلاقو سـینګاروي، د خلکو د ضرر او شـر په مقابل کې صبر او بښــنه داسـې صفت دی چې هرڅوک یې ځان ته نشـي خپلولی او الله تعالی دغه صفت یوازې د حلم او بښـنې خاوندانو ته ور په برخه کوي.

## حلم څه شی دی؟

د قهر او غوسې په وخت کې خپل نفس په خپل واک کې ساتلو ته حلم وایي، همدارنګه له نورو څخه د ضرر لیدو پرمهال عفوه او بښنه حلم بلل کیږي.

الله تعالی خپل پیغمبر ﷺ ته امرکوي چې عفوه او بښنه خپل شعار وګرځوي، لکه چې فرمایي:

﴿خُذِ الْعَفْوَ وَأْمُرْ بِالْعُرْفِ وَأَعْرِضْ عَنِ الْجَاهِلِينَ﴾ [الاعراف: ۱۹۹].

ژباړه: عفوه او بښــنه واخله(عفوه او بښــنه خپل عادت وګرځوه)، پـه نیکیو امر کوه او له جاهلانو لیرې اوسه.

**فعالیت**

دغه مبارک آیت د حلم او صبر په دریو ډولونو باندې امر کوي، دغه ډولونه کوم دي؟

حلم د راســخې عقیدې او ټینګ ایمان لرونکي انســان هغه ښــکاره نښه ده چې له بې ایمانه او د لړزېدونکي ایمان لرونکو انســانانو څخه یې جلا کوي، مؤمن انســان چې هرڅومره د کمال لوړو مرتبو ته وخیژي، هماغومره یې ســینه پراخیږي، حلم او بښنه یې زیاتیږي، د نورو له خطاوو څخه

تیرېږي او که ناپوهان او کم عقلان په هغه باندې تېري وکړي، دی ورته د حلم له لورې ځوکو څخه ګوري، او د هغه فیلسوف او حکیم خوی خپلوي چې کوچنیان او واړه يې پر تېرو ولي او دی ورته د ښښنې په نظر ګوري.

## د حلم مقام او مشروعیت

د قرآن کریم په ګڼو ځایونو کې د حلم او ښښنې د فضیلت په اړه ستاینه شوې او دغه صفت يې د الله تعالی په غوره نومونو (اسماء الله الحسنی ) کې بیان کړی، لکه په دغه آیتونو کې:

﴿وَاللَّهُ غَفُورٌ حَلِيمٌ﴾ [البقرة: ٢٢٥]

ژباړه: الله تعالی ښښونکی او تېریدونکی دی.

﴿وَاللَّهُ غَنِىٌّ حَلِيمٌ﴾ [البقرة: ٢٦٣]

ژباړه: الله تعالی بې نیازه او د حلم څښتن دی.

﴿وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَلِيمٌ﴾ [النساء: ١٢]

ژباړه: الله تعالی ډېر پوه او تېریدونکی دی.

همدارنګه په نورو ډېرو آیاتونو او حدیثونو کې د حلم او تیریدنې مقام او منزلت ستایل شوی دی. په قرآن کریم کې حلم د پیغمبرانو صفت معرفي شوی، پیغمبرانو به د خپلو پیروانو د تېري، آزار او ناخوالو په وړاندې له حلم او تیریدنې څخه کار اخیست. حلم او دې ته ورته کلمې شپاړس ځلې په قرآن کریم کې راغلي او له دې سره الله تعالی په ډېرو ځایونو کې د غم او غوسې په حالتونو کې انسان ته پر ځان د تسلط او له جاهلانو څخه د لرې اوسیدو امر کوي او څوک چې دغه صفتونه په ځان کې پیدا کړي بیا هغه ستايي.

الله تعالی ابراهیم عليه‌السلام د حلم او تیریدنې په صفت ستايي: ﴿إِنَّ إِبْرَاهِيمَ لَأَوَّاهٌ حَلِيمٌ﴾ [التوبة: ١١٤]

ژباړه: بې له شکه ابراهیم دردګالونکی او د حلم څښتن و.

همدارنګه نور پیغمبران عليهم‌السلام او په ځانګړې ډول د اسلام ستر پیغمبر حضرت محمد صلی‌الله‌علیه‌وسلم د خپل قوم او اتباعو د دعوت او بلنې پر مهال د صبر او ښښنې په اوصافو ستایل شوي دي. چې د دوی دغه صبر او تیریدنه د مؤمنانو او ټولو انسانانو لپاره يوه غوره بیلګه ده.

## فعالیت

زده کوونکي دې د ښوونکي په مرسته د اسلام د ستر پیغمبر ﷺ د حلم او ښښنې څو بېلګې بیان کړي.

## لنډیز:

- حلم د اسلامي اخلاقو غوره بېلګه ده.
- حلم د ځان د کنترول، تحمل او د ضرر رسیدلو او غضب پر مهال د عفوې او ښښنې په معنا دی.
- حلم د الله ﷻ له صفاتو څخه دی، اولوالعزم پیغمبران د حلم له امله د الله ﷻ لخوا ستایل شوي دي.

## ارزونه:

۱-حلم څرنګه تعریفولی شو؟

۲-کومه جمله سمه ده؟

الف)حلم د قوي او زور واکو انسانانو صفت دی.

ب) حلم د کمزورو او بیوزلو انسانانو صفت دی.

ج)حلم د مؤمنو او سترو انسانانو صفت دی.

۳- د ابراهیم علیه السلام د حلم او صبر په هکله څه معلومات لرئ؟

٤- که د جاهلانو له وینا او سپکاوي سره مخ شئ د هغوی په مقابل کې به څرنګه چلند کوئ؟ په دې اړه د قرآن کریم په آیت استدلال وکړئ.

## کورنۍ دنده

د حلم د فضیلت او ګټو په اړه یوه مقاله ولیکئ چې له لسو کرښو څخه کمه نه وي.

# د رسول اکرم ﷺ د حلم بېلګې

رښتونی حلم هغه دی چې انسان د قدرت او واک په وخت کې عفوه او بښنه وکړي، د ناتوانۍ په وخت کې د عفوې او بښنې ښکاره کولو ته حلم نه ویل کیږي. د پیغمبر ﷺ عفوه، بښنه او ورکړه به د هغه د قدرت په وخت وه چې همدغه د حلم لوړ مقام او منزلت دی.
د پیغمبر ﷺ سپیڅلی ژوند او سیرت د هغه د لوړو صفتونو (حلم، بښنې او ورکړې) غوره هنداره ده، چې دلته یې څو بیلګو ته اشاره کوو:

## د لاس لاندې خلکو سره حلم

انس بن مالک رضي الله عنه روایت کوي چې ما پوره لس کاله د پیغمبر ﷺ د خدمت شرف حاصل کړ، زه تنکی ځوان وم او د بشپړ پوخ والي حالت ته نه وم رسیدلی، ما په دې موده کې د اسلام له پیغمبر ﷺ څخه د(اف) کلمې په اندازه څه نه دي اوریدلي او نه یې راته دا ویلي چې: ولې دې دا کار ترسره کړ؟ او یا دا چې کاش دا کار دې نه وای کړی![1]

## د دښمن په وړاندې حلم

په یوه غزا کې رسول الله ﷺ د څه دمې کولو لپاره د یوې ونې تر سیوري لاندې ارام کړی و، چې ناڅاپه د دښمن یو جنګیالی چې غورث بن الحارث نومیده د هغه سر ته له لوڅې تورې سره ودرید، او ده ته یې وویل: څوک به تا له ما څخه خلاص کړي؟ د اسلام پیغمبر ﷺ بې له کومه ډاره په زغرده وفرمایل: الله تعالی به مې خلاص کړي، په دې وخت کې د هغه له لاسه توره ولویده او رسول الله ﷺ وریسې توره واخیسته او ده ته یې وویل: اوس به تا له ما څخه څوک خلاص کړي؟ د دښمن جنګیالي وویل: هیله لرم چې د تورې غوره نیوونکی و اوسې. د اسلام پیغمبر ﷺ وفرمایل: د الله تعالی په یووالي او زما په رسالت ګواهي ورکړه. هغه سړي وویل: دا

---

۱- سنن ابی داوود

کار هم نه کوم، خو دا ژمنه کوم چې له دې وروسته به له تا سره ونه جنگیږم، تا او ستا په وړاندې له جنگیدونکې ډلې سره نه یو ځای کیږم.

د اسلام پیغمبر ﷺ دغه کس پرېښود، دغه سړی بیا خپلې ډلې ته په بیره ولاړ او هغوی ته یې وویل: زه له ترټولو غوره کس څخه راغلی یم، د دغې کیسې په اوریدو د دوی ډېر خلک مسلمانان شول او د مسلمانانو له لیکو سره یو ځای شول.(۱)

**فعالیت**

آیا د اسلام ستر پیغمبر ﷺ د ویرې له امله د دښمن دغه جنگیالی پرېښود؟ زده‌کوونکي دې په دې اړه خپل اندونه څرگند کړي.

## د عامو خلکو په وړاندې حلم

انس بن مالك رضي الله عنه روایت کوي چې رسول الله ﷺ په مدینه منوره کې تگ راتگ کاوه او د هغه یوه نجراني چپن په تن وه. په دې وخت کې یو اعرابي (د بانډې اوسیدونکی) د رسول الله ﷺ مخې ته راغی او هغه یې د چپنې له گریوان څخه را ونیو او بیا یې کش کړ، انس بن مالك رضي الله عنه ویلي: ما د هغه زړې چپنې دکش کولو له امله د رسول الله ﷺ په غاړه د هغې چپنې چاپ او نښې ولیدلې، اعرابي رسول الله ﷺ ته وویل: اې محمده! د الله د درکړي مال څخه چې له تاسره دی څه راکړه. د اسلام پیغمبر ﷺ په داسې حال کې چې اعرابي ته یې په تبسم سره کتل، امر وکړ د ده د اړتیا وړ څیزونه ورکړئ.(۲)

**فعالیت**

ښاغلی ښوونکی دې د دغه اعرابي او ورسره د رسول الله ﷺ دکړنې په اړه له زده‌کوونکو سره خبرې اترې وکړي.

---

۱- حدیث متفق علیه
۲- حدیث متفق علیه

## لنډيز

- نبی کريم ﷺ د حلم بشپړه بيلګه ده.
- د نبی کريم ﷺ حلم او له لاس لاندې کسانو، عامو خلکو او دښمنانو سره او هم د ژوند په نورو برخوکې نيک چلند، د مسلمانانو لپاره يوه عملي بيلګه ده.
- ډير خلکي د رسول اکرم ﷺ سرسخته دښمنان د هغه د حلم په ليدلو سره د اسلام مقدس دين ته غاړه ايښې او په اسلام مشرف شوي دي.

## ارزونه

۱- که يو څوک د ناتوانی او کمزوری له امله د چا له تيري او سپکاوي څخه تير شي، دغه سړي ته حليم ويل کيږي او که څنګه؟

۲- له انس بن مالک رضي الله عنه سره د رسول الله ﷺ کړنه، له کومې طبقې سره د حلم نښه ده؟

۳- د دښمن هغه جنګيالی چې د رسول الله ﷺ وژل يې غوښتل، ولې رسول الله ﷺ ازاد کړ؟ دغه چال چلند د پيغمبرﷺ پرکوم خوی او سلوک دلالت کوي او څه پايلې يې درلودې؟

٤- د دښمن د دغه سړي سره د رسول الله ﷺ چال چلند د هغه په کوم ډول حلم باندې دلالت کوي؟

٥- د دښمن جنګيالي د اسلام د پيغمبر ﷺ بلنه اسلام ته ونه منله، خو هغه بيا هم ده ازاد کړ، په اسلامي شريعت کې دغه کار پر څه دلالت کوي؟

٦- آيا له رسول الله ﷺ سره د اعرابي سخته کړنه ښه کار و؟

۷-آيا د اسلام پيغمبر ﷺ دکوم زور او فشار له مخې له اعرابي سره دغه مالي مرستې ترسره کړې که څنګه؟

### کورنۍ دنده

زده کوونکي دې په ښوونځي او کور کې حلم ته د اړتيا په اړه يوه مقاله وليکي، چې له لسو کرښو څخه کمه نه وي.

# نیک او غوره دوست

مینه او دوستي د نیکو اخلاقو او تفرق او بیلوالی د بدو اخلاقو ثمرې دي. نیک اخلاق او خوی تل دوستي او زړونه لاس ته راوړي او بد اخلاق کینه او زړه بدوالی رامنځ ته کوي، نو له همدې امله هرڅومره چې د اخلاقو ونه لوړه شي په هماغه پیمانه یې میوه زیاتیږي، چې دغه میوه عبارت له الفت، مینې او د انسانانو د زړونو لاس ته راوړل دي.

## ښه ملګری د الله تعالی نعمت دی

ښه ملګری او ښه دوست د الله تعالی هغه نعمت دی چې غوره بندګانو ته یې ورپه برخه کوي، د اسلام ستر پیغمبر ﷺ نیک ملګری د الله تعالی له غوره نعمتونو څخه معرفي کوي او فرمایي: "چا ته چې الله ﷻ د خیر اراده وکړي، هغه ته صالح دوست او ملګری په برخه کوي کله چې څه هیر کړي ورته یې یادوي او که یې ور یاد کړي، نو بیا مرسته ورسره کوي".[۱]

**فعالیت**

که په ټولګي یا ښوونځي کې ښه ملګری او دوست ولرئ، څنګه مرسته به ورسره کوئ؟ او له هغه دوست څخه څه هیله کوئ؟

نیک دوست او غوره ملګری لکه څرنګه چې په دنیا کې د الله تعالی یو ښه نعمت او د بریالیتوب لامل ګرځي، په آخرت کې هم الله تعالی ته نږدېوالی او د هغه د نعمت د لاس ته راوړلو لامل ګرځي "څوک چې یو تن د خدای په لار کې په وروروولی سره ونیسي، الله ﷻ به یې په جنت کې داسې درجې ته ورسوي چې په بل هیڅ عمل به یې ترلاسه نکړي."[۲]

انسانان تل په خپلو ملګرو پیژندل کیږي، نیک انسانان له غوره او نیکو خلکو سره دوستي کوي

---

۱- ابو حامد الغزالي، احیاء علوم الدین
۲- هماغه مرجع

او بالمقابل ناوړه خلك له بدو خلكو سره دوستي او ناسته ولاړه لري. د اسلام ستر پيغمبر ﷺ فرمايي: ﴿الْمَرْءُ عَلَى دِينِ خَلِيلِهِ فَلْيَنْظُرْ أَحَدُكُمْ مَنْ يُخَالِلُ﴾[1]

ژباړه: هر څوك د خپل دوست او ملګري په دين او نظريه اوړي، نو بايد له تاسو څخه هر يو د خپل ملګري په غوره كولو كې سوچ او فكر وكړي.

## فعاليت

د كومو معيارونو او صفتونو په اساس نيك او غوره ملګرى ځان ته غوره كوئ؟ زده‌كوونكي دې دغه معيارونه ووايي او بيا يې دې په خپلو كتابچو كې وليكي.

## لنډيز

- ښه دوست او صالح ملګرى د الله ﷻ يو ستر او ښه نعمت دى، چې پر انسان يې لوروي.
- د نيك دوست او ملګري يو صفت دا دى چې ښه كارونه انسان ته ور يادوي، او په نيكو او روا كارونو كې يې مرسته كوي.
- انسانان له خپلو ملګرو پېژندل كيږي، ښه انسان بايد فكر وكړي چې څوك خپل ځان ته د دوستۍ او ملګرتيا لپاره غوره كړي.

## ارزونه

١. "نيك دوست او ملګرى د الله تعالى نعمت دى "په دې اړه له قرآنكريم او حديثو څخه ووايا‌ست:

٢. څرنګه نيك دوست غوره كولى شو؟

٣. څرنګه ناسم او بد ملګرى انسان ته ضرر رسوي؟

٤. د اسلام پيغمبر ﷺ نيك دوست او ملګرى څرنګه را پيژني؟

٥. د نيك دوست دوه صفته چې په حديث شريف كې راغلي دي، بيان كړئ.

---

١- مسند احمد.

# د نیک دوست ګټې

د اسلام ستر پیغمبر ﷺ فرمایلي دي د نیک او غوره ملګري مثال د عطرو او مشکو د خرڅونکي دی چې یا یې ترې پلورې او یا یې هم خوږ بوی ستا تر پوزې در رسیږي، د بد ملګري مثا ل د اهنګر  د نغري په څیر دی چې یا خو دې جامې سوزوي، او یا کم له کمه له بد بوی څخه یې ضرر او زیان وینې.

## هر انسان د دوستۍ وړ نه دی:

کله چې دوه مسلمانان وروڼه سره مخ کیږي نو د دوی مثا ل د هغو  دوو لاسونو په څیر دی چې یو بل پریوینځي، دوه مؤمنان له یو بل سره نه مخ کیږي، مګر دا چې هرو مرو الله تعالی د یوه خیر بل ته رسوي.
هر انسان د دوستۍ او ناستي وړ نه وي. هوښیار انسان چې کله څوک د دوستۍ او ناستې لپاره غوره کوی، نو ده ته اړینه ده چې د هغه سړي صفتونه، شخصیت او سلوک و څیړي. نیک دوست او ملګری هغه دی چې د الله ﷻ د رضا او خوښې له امله غوره شي، چې هم په دنیا او هم په آخرت کې یې خپل دوست ته ګټه ورسیږي.
عمر بن خطاب رضي الله عنه د دین پر اساس د ملګري غوره کولو د اړتیا په اړه فرمایلي: د ژوند کولو لپاره ریښتني وروڼه او دوستان غوره کړئ، چې په آسانۍ او خوښۍ دواړو کې مو مجلس پرې ښایسته او د مصیبت او غم په وخت کې مو لاس پرې سپک وي.
امام غزالي رحمه الله فرمایلي: څوک چې دوستۍ او ملګرتیا ته غوره کوئ، نو دغه پنځه صفتونه په کې ولټوئ: باید هوښیار وي، د نیکو اخلاقو څښتن وي، فاسق نه وي، له بدعت او په دین کې له نوو خبرو پیدا کولو څخه لیري وي، د دنیا په لاس ته راوړلو کې ډېر حریص نه وي.

## د نیک ملګري صفتونه

د اسلام یو تکړه عالم[1] خپل زوی ته د ځنکدن په حالت کې د ښه دوست غوره کولو په اړه داسې توصیه کړې:

١- علقمة العطاردي

ای زویه! د خپل ځان د ملګرتیا لپاره داسې څوک غوره کړه چې کله یې خدمت کوې نو ستا منونکی اوسي، کله چې ورسره خبرې کوې ستا مجلس ورسره ښایسته شي او کله چې اړ او ناتوانه شې، نو مرسته درسره وکړي. داسې دوست غوره کړه چې کله د خیر کار ته لاس اوږدوې نو ستا لاس پیاوړی کړي، کله چې نیکي کوې هغه وشمیري او که بدی درڅخه ووینې هغه سمې کړي. داسې دوست غوره کړه چې کله ترې څه وغواړې هغه درکړي، که کله چوپ کیږې نو مجلس ته دې را مخکې شي او که له غم او مصیبت سره مخ کیږې نو ډاډ درکولو ته در وړاندې شي. داسې ملګری غوره کړه چې کله هم خبرې کوې، نو تا رښتونی وګڼي او که کوم کار ته وړاندې کیږې ستا تر شا روان شي او د شخړې په وخت کې ستا نظر او خبرې ته را وګرځي.[۱]

## لنډيز

- نبي کريم ﷺ نیک دوست او ښه ملګری د مشکو یا عطرو سره تشبیه کړی چې په هر حالت کې انسان ته ګټه رسوي.
- غوره دوست هغه څوک دی چې د دینداری او ایمان پر اساس و ټاکل شي.

## ارزونه

۱- د اسلام پیغمبر ﷺ دوست او ملګری د عطرو او پښ(آهنګر) له سکرو سره تشبیه کړئ ددغې تشبیه مفهوم بیان کړئ.

۲- د اسلام له نظره د دوستۍ او ملګرتیا اساس څه شی تشکیلوي، واضح یې کړئ.

۳- حضرت عمر رضي الله عنه د ملګري د انتخاب په اړه څه توصیه کوي، په لنډه توګه یې واضح کړئ.

۴- عمر بن خطاب رضي الله عنه د ښه دوست غوره کولو په اړه څه نصیحت کړی، روښانه یې کړئ؟

۵- امام غزالي رحمه الله د ښه دوست لپاره پنځه صفتونه بیان کړي، د دغو صفتونو نمونه واخلئ.

## کورنۍ دنده

د ښه دوست او ملګري د ګټې او صفتونو په اړه یوه مقاله ولیکئ چې له لسو کرښو څخه کمه نه وي.

---

۱- ابوحامد الغزالي , إحياء علوم الدين , ج ۲, كتاب آداب الالفة والصحبة

# له مور او پلار سره نېکي

انسان ته ډېر نږدې شخص څوك دی؟ یو ماشوم د چا په غېږ کې تربیه کېږي؟ له مور او پلار سره مو ولې مینه لرئ؟ په اسلام کې د مور او پلار حقوق له نورو ادیانو او فرهنگونو سره څه توپیر لري؟ آیا د مور او پلار حقوق ادا کوئ؟

له مور او پلار سره نیکي د (برالوالدین) او ضد یې د (عقوق الوالدین) په نامه یادیږي. له مور او پلار سره د نیکي کولو په لړ کې باید د هغوی سره مینه او محبت وشي د هغوی احترام، قدرداني او پر هغوی زړه سوی وشي، خبرو ته یې غوږ کیښودل شي او هغه کارونه وشي چې دوی پرې خوښیږي، له مرگ څخه وروسته ورته دعا او د ښښنې غوښتنه وشي، وعدې او سپارښتنې یې باید پر ځای شي، د دوستانو عزت او احترام یې وشي.

اللهﷻ له مور او پلار سره د نیکی کولو په اړه فرمایلي:

﴿وَاعْبُدُوا اللَّهَ وَلَا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا وَبِذِي الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينِ وَالْجَارِ ذِي الْقُرْبَى وَالْجَارِ الْجُنُبِ وَالصَّاحِبِ بِالْجَنْبِ وَابْنِ السَّبِيلِ وَمَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ مَنْ كَانَ مُخْتَالًا فَخُورًا﴾ [النساء/ ٣٦].

ژباړه: او تاسي ټول د الله بندگي (عبادت) وکړئ، له هغه سره هیڅ شی مه شریکوئ له مور او پلار سره غوره رویه وکړئ، له خپلوانو، یتیمانو او مسکینانو سره نیك چلند وکړئ، او له خپلوان گاونډي سره، او له هغه گاونډي سره چې رشته او قرابت ور سره نلری، د څنگ له ملگري او پردیس سره او له هغو وینځو او غلامانو سره چې ستاسې په لاس کې وي، د احسان چال چلند وکړئ، باور ولرئ چې الله داسې څوك نه خوښوي چې په خپله انگیرنه مغرور وي او په خپله لوړتیا وياړي.

په بل ځای کې فرمايي: ﴿وَقَضَى رَبُّكَ أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا إِيَّاهُ وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا إِمَّا يَبْلُغَنَّ عِنْدَكَ الْكِبَرَ أَحَدُهُمَا أَوْ كِلَاهُمَا فَلَا تَقُلْ لَهُمَا أُفٍّ وَلَا تَنْهَرْهُمَا وَقُلْ لَهُمَا قَوْلًا كَرِيمًا، وَاخْفِضْ لَهُمَا

جَنَاحَ الذُّلِّ مِنَ الرَّحْمَةِ وَقُلْ رَبِّ ارْحَمْهُمَا كَمَا رَبيانِى صَغِيرا﴾ [الاسراء: ٢٣-٢٤]

ژباړه: او ستا رب پریکړه کړیده چې تاسې د بل هیڅا عبادت مه کوئ مګر یوازې د الله ﷻ عبادت کوئ، له مور او پلار سره ښه چال چلند وکړئ که له تاسره له هغونه یو یا دواړه زړښت ته ورسیږي نو هغو ته اف قدرې مه وایه، مه هغوته په ستغه ځواب ورکوه، بلکې له هغو سره په درناوي خبرې کوه او په نرمۍ او رحم سره د هغو په وړاندې مات غاړی اوسه، او دا دعا کوه چې پروردګاره! پر دوې رحم وکړه لکه څنګه چې دوی له زړه سوي او خواخوږۍ سره په ماشومتوب کې پاللی وم.

رسول اکرم ﷺ د مور او پلار سره احسان لوی عمل او الله تعالی ته تر ټولو عملونو خوښ عمل ګڼلی. د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روایت دی چې له رسول اکرم ﷺ څخه مې وپوښتل ﴿أَى الْعَمَلِ أَحَبُّ إِلَى اللَّهِ؟ قَالَ: الصَّلَاةُ عَلَى وَقْتِهَا، قَالَ: ثُمَّ أَى؟ قَالَ: ثُمَّ بِرُّ الْوَالِدَين،قَالَ: ثُمَّ أَى؟ قَالَ: الْجِهَادُ فِى سَبِيلِ اللَّهِ﴾[۱]

ژباړه: د الله تعالی کوم عمل ډیر خوښ دی؟ پیغمبر ﷺ وفرمایل: په خپل وخت کې د لمانځه ادا کول، و مې ویل بیا کوم؟ ویې فرمایل: له مور او پلار سره نیکي، ومې ویل بیا کوم؟ ویې فرمایل: د الله ﷻ په لار کې جهاد کول.

لکه څنګه چې مور له انسان سره په داسې وخت کې مرسته کوي چې دی ډیر ناتوانه وي او له ده سره ډیر زیات زحمتونه ګالي، نو ځکه په اسلام کې د مور حق ته ترجیح او لومړیتوب ورکړل شوی دی. له ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې یوه سړي رسول اکرم ﷺ ته وویل: ﴿يا رَسُولَ اللَّهِ ! مَنْ أَحَقُّ النَّاسِ بِحُسْنِ صَحَابَتِى؟ قَالَ: أُمُّكَ، قَالَ: ثُمَّ مَنْ؟ قَالَ: ثُمَّ أُمُّكَ، قَالَ: ثُمَّ مَنْ؟ قَالَ: ثُمَّ أُمُّكَ، قَالَ: ثُمَّ مَنْ؟ قَالَ: ثُمَّ أَبُوكَ﴾.[۲]

ژباړه: ای د الله رسوله! پر ما باندې څوک له ټولو خلکو څخه زیات د غوره چلند حقدار دی؟ رسول اکرم ﷺ وفرمایل: مور دې، هغه سړي بیا پوښتنه وکړه چې بیا څوک؟ و یې فرمایل: مور دې، هغه سړي وویل: بیا څوک؟ و یې فرمایل: مور دې، هغه سړي بیا پوښتنه وکړه: بیا څوک؟ و یې فرمایل: پلار دې.

---

۱- رواه البخارى
۲- رواه البخارى

## فعالیت

له مور او پلار سره څرنګه نیکه معامله کولای شو؟ هر زده‌کونکی دې یوه یوه بیلګه ذکر کړي.

د بېلګې په توګه:

۱- زه د مور او پلار خبرې منم.

۲- زه د مور او پلار سره د کور په کارونو کې مرسته کوم.

## لنډیز

• د اسلام مقدس دین چې د والدینو مقام ته په کوم درناوي قایل دی په بل هیڅ دین او آیین کې یې مثال نه لیدل کیږي.

• قرآن کریم د والدینو یادونه او د هغوی خدمت وروسته له توحید څخه ذکر کړی چې دا کار په اسلام کې د والدینو د لوړ مقام ښکارندوی دی.

• رسول اکرم ﷺ په نبوي احادیثو کې د والدینو حقوق او خدمت د فرضي لمونځونو او د الله ﷻ په لار کې له جهاد سره یو ځای ذکر او تاکید یې پرې کړی دی.

## ارزونه

۱. اسلام ولې له مور او پلار، خپلوانو او ګاونډیانو سره د نیکۍ کولو حکم کوي؟ که خلک د نیکۍ کولو پر ځای یو بل سره بدي وکړي، څه به پیښ شي؟

۲. له مور او پلار سره نیکي څرنګه کېدای شي؟ په ژوندانه کې باید د هغوی سره څه تعامل وشي، له مرګ څخه وروسته باید له هغوی سره څرنګه نیکي وکړل شي؟

۳. له مور او پلار سره د نیکۍ کولو په اړه له قرآن کریم او سنتو څخه دلیل راوړئ.

۴. ولې مور د نورو په پرتله د ډېرې نیکۍ مستحقه ده؟ په اړه یې نقلي او عقلي دلایل ذکر کړئ.

## کورنۍ دنده

لاندینی مبارک حدیث یاد او په ښایسته خط یې په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

عَنْ أَبِی هُرَيرَةَ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم «رَغِمَ أَنْفُهُ، ثُمَّ رَغِمَ أَنْفُهُ، ثُمَّ رَغِمَ أَنْفُهُ، قِيلَ: مَنْ يا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ: مَنْ أَدْرَكَ وَالِدَيهِ عِنْدَ الْكِبَرِ أَحَدَهُمَا أَوْ كِلَيهِمَا ثُمَّ لَمْ يَدْخُلِ الْجَنَّةَ».[1]

---

۱- رواه مسلم

# صله رحمي

دا یو منل شوی حقیقت دی چې انسان له ټولنې څخه یوازې او بېل ژوند نشي کولای، ارو مرو به د نورو سره یو ځای او له خپلو هم جنسو سره اړیکې ساتي. د دې اړیکو مراتب به څرنګه وي؟ د یادو شوو اړیکو د ساتنې او ټینګتیا (تحفظ او تحکیم) په لار کې مؤمن انسان څه دندې لري؟ او په ټولنه کې یې اغیزې څه دي؟

د دې لپاره چې انسان ښه ژوند ولري او د نورو له ضرر څخه خوندي وي نو لازمه ده چې په ټولنه کې یو مفید غړی واوسي، د خلکو سره نیکې اړیکې ټینګې کړي، تر څو خلك په عدالت، خوشحالۍ او نیکمرغۍ کې ژوند وکړي.که داسې نه وي د یوه ځنګل د حیواناتو په شان به په ویره کې ژوند کوي، او هیڅوك به نشي کولای چې په ډاډ سره له هغو نعمتونو څخه ګټه واخلي چې په لاس کې یې دي، نو په دې صورت کې به خلك د یو بل لپاره د ویرې، ستونزو او ډار منبع او مصدر وي.

له همدې امله رسول اکرم ﷺ فرمایلي: «لَا يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتَّى يُحِبَّ لِأَخِيهِ مَا يُحِبُّ لِنَفْسِهِ»[١]

ژباړه: له تاسی څخه به یو هم واقعي او کامل مؤمن نشي تر څو هغه څه چې د ځان لپاره یې خوښوي، د بل لپاره یې هم خوښ کړي، خو لکه څرنګه چې د انسانانو اړیکې د ژور والي، پراخوالي او نږدېوالي له پلوه له یو بل سره توپیر لري نو له دې امله یې اسلام هم د حقونو له پلوه د لومړیتوبونو تر منځ توپیر کړی. دغه لومړیتوبونه د حقوقو په ترتیب د پلار او مور، خپلوانو، ګاونډیانو، مسلمانانو او عامه حقوقو په اساس رامنځ ته شوي. په دې ترتیب مور او پلار د نورو خلکو په پرتله له هر چا زیات حق دار دي، خپلوان، رشته داران، ګاونډیان او عام مسلمانان خپل حقوق او دندې لري. له مور او پلار څخه وروسته نور خپلوان او رشته داران لکه نیکه، زامن، وروڼه، خویندې، ماماګان، وریرونه، کاکاګان او نور د قوم او قبیلې د خپلولۍ او رشته دارۍ حقوق

---

١- متفق علیه

لري. د دې خپلوانو حقوق په دوه ډوله ترسره کېږي:

لومړی: واجب حقوق لکه، نفقه او د میراث برخه، چې ددې ډول حقوقو ادا کول پر هر مسلمان لازم دي او په نه ترسره کېدو کې يې د عذاب مستحق ګرځي.

دویم: د صله رحمی مستحب حقوق چې د دې ډول حقوقو پرځای کوونکی د ثواب مستحق ګرځي، لکه د رسول اکرم ﷺ دا قول چې فرمايي: ﴿الصَّدَقَةُ عَلَى الْمِسْكِينِ صَدَقَةٌ وَهِى عَلَى ذِى الرَّحِمِ ثِنْتَانِ صَدَقَةٌ وَصِلَةٌ﴾[1]

ژباړه: مسکين ته صدقه ورکول يوازې صدقه ده، خو خپلوانو او رشته دارانو ته يې ورکول هم صدقه او هم صله رحمي ده.

له خپلوانو سره په مختلفو مناسباتو کې نږدېوالی، له هغوی سره په مصيبتونو کې غم رازي، په خوشحالیو کې ورسره ګډون، په ستونزو کې ورسره مرسته او پر هغوی زړه سوی له صله رحمی څخه دي. الله ﷻ د صله رحمی د نه کولو او د هغو کسانو په اړه چې په دې برخه کې بې پروايي کوي فرمايي: ﴿فَهَلْ عَسَيْتُمْ إِنْ تَوَلَّيْتُمْ أَنْ تُفْسِدُوا فِى الْأَرْضِ وَتُقَطِّعُوا أَرْحَامَكُمْ ۞ أُولَئِكَ الَّذِين لَعَنَهُمُ اللَّهُ فَأَصَمَّهُمْ وَأَعْمَى أَبْصَارَهُمْ﴾ [سورت محمد: آيات: ۲۲-۲۳ ]

ژباړه: آيا له تاسې نه له دې پرته نوره څه هيله کېدای شي چې که قدرت په لاس درشي نو په ځمکه کې به فساد وکړئ او پخپلو منځونو کې به خپلوي پرې کړئ؟

(دغه کار چې څوک کوي) همغه خلک دي چې الله وربانديې لعنت کړی او هغوی يې کاڼه او ړانده کړي دي.

يوه سړي رسول اکرم ﷺ ته وويل: ماته داسې څه وښيه چې ما جنت ته داخل کړي او د دوزخ له اوره مې وژغوري، رسول اکرم ﷺ په ځواب کې ورته وفرمايل: ﴿تَعْبُدُ اللَّهَ و لا تُشْرِكُ بِهِ شَيْئًا، وَتُقِيمُ الصَّلاةَ، وَتُؤْتِي الزَّكَاةَ، وَتَصِلُ الرَّحِمَ﴾[2]

ژباړه: د الله ﷻ عبادت کوه، او کوم شی ورسره مه شريکوه، لمونځ په ښه ډول ادا کړه، زکات ورکړه او صله رحمي وکړه.

په يوه بل مبارک حديث شريف کې راغلي: هر څوک چې وغواړي عمر يې اوږد او روزي يې زياته

---

۱- الترمذی
۲- رواه مسلم

شي، له خپلوانو سره دې صله رحمي وکړي(خپلوي وپالي).

## يادونه

بايد دا ټکی په ياد ولرو چې د صله رحمۍ په نوم د نورو خلکو حقوق تر پښو لاندې نه کړو او په ټولنيزو کارونو کې يې په نورو وړاندې نه کړو، همدا راز يې په ناحق او ناروا مرسته و نه کړو، يادې شوې برخې د خپلوانو په حقوقو او صله رحمۍ کې نه راځي، بلکې ناجايزه تعصب بلل کيږي.

## فعاليت

زده کونکي دې په خپلو کتابچو کې د روا صله رحمۍ د ساتلو يوه بېلګه او هم د تعصب او بې عدالتۍ له مخې د خپلولۍ د پاللو يوه بيلګه وليکي، بيا دې په نوبت سره هغه نورو ته واوروي.

## لنډيز

• انسان دې ته اړ دی چې د نورو سره يو ځای ژوند وکړي، نو د دې لپاره چې د نورو تر منځ د باور فضاء رامنځ ته کړي بايد يو مفيد او اغيز ناک غړی شي.

• اسلامي اخلاق حکم کوي چې يو مسلمان بايد د بل مسلمان ورور لپاره هغه څه غوره کړي، کوم چې د ځان لپاره يې خوښوي.

• اسلام د خپلوانو درجې او حقوق ترتيب او تنظيم کړي، چې د هغو مراعات ته صله رحمي ويل کيږي.

• اسلام د صله رحمۍ پالل او د هغې حفاظت د اجر، ثواب او جنت ته د داخليدو لامل ګرځولی دی.

• په اسلام کې د صله رحمۍ په پاللو ټينګار د دې په معنا نه دي چې يو مؤمن مسلمان دې د بل چا سره نيکي نه کوي، يا دا چې خپلو خپلوانو ته دې په ټولنيزو حقوقو او واجباتو کې پر نورو غوره والی ورکړي.

## ارزونه

۱) خپلوان او رشته داران چا ته ویل کیږي؟

۲) خپلوي په کومو چارو کې پالل کیږي؟

۳) د خپلوانو لازمي حقوق په څو ډوله دي؟

٤) د خپلوۍ د ساتلو په اړه د قرآنکریم او نبوي سنتو څخه دلیل راوړئ؟

٥) په عامو چارو (امورو) کې په نورو خلکو د خپلوانو وړاندې کول څه حکم لري؟

### کورنۍ دنده

(په ناروا کارونو کې د خپلوانو مرسته ناروا ده) په دې اړه یوه مقاله ولیکئ چې له لسو کرښو څخه کمه نه وي.

# د زده کړې آداب

زده کړه او ښوونه خپل آداب لري چې باید د زده‌کوونکو او روزونکو لخوا مراعات شي، ترڅو برکتونه او ښې پایلې ولري. په دې لوست کې ځینې هغه آداب بیانیږي چې باید د زده‌کوونکو لخوا په پام کې ونیول شي.

**فعالیت**

زده کونکي دې د زده‌کړې د آدابو په اړه خپل اندونه (نظرونه) په لنډه توګه بیان کړي.

## لومړی ادب

له ناوړه اخلاقو څخه د باطن پاکوالی: ځینو علماوو فرمایلي: لکه څرنګه چې لمونځ د ظاهري پاکوالي او طهارت پرته صحیح نه دی، همدا راز زدکړه چې یو عبادت دی پرته له باطني پاکوالي صحیح نه ده. هغه څوک چې په داخلي رذایلو او رواني او اخلاقي آفتونو اخته وي که په زده‌کړه بریالی هم شي خو له زده‌کړې څخه بیا مناسبه ګټه نه شي ترلاسه کولای بلکې بیا به له علم څخه ناوړه او ناروا ګټه اخلي، د روم مولانا ویلي:

بدګــوهــر تــه علــم فن وربادول    غله راهزن ته په لاس تیغ دي ورکول

نو هر هغه څوک چې د علم او زده‌کړې په لار قدم اخلي هرو مرو باید په لومړي قدم کې خپلې باطني اصلاح ته پام وکړي تر څو سینه یې د حکمت او علم لپاره یو پاک او نظیف ظرف وګرځي.
لکه چې حافظ شیرازي ویلي دي:

پــاک ګوهر باید چې وړ د برکت شي    نه چې هره تیره خاوره در مرجان شي

## دویم ادب

دنیوي مصروفیتونو نه ځان ساتنه، ځکه ناشونې ده چې انسان دې هم د علم زده‌کړې ته ملا وتړي او هم دې د مادیاتو راټولولو په کوښښ کې وي. خو د ژوند د اړتیاوو په پوره کولو کې چې کومه خواري کیږي کوم باك نه لري. د دنیا د لاس ته راوړلو په لار کې حرص، هیله، کوښښ او ځان بې خوبه کول د علم او زده‌کړې له صحیح صورت سره اړخ نه لګوي، الله ﷻ فرمایي: ﴿مَا جَعَلَ اللّٰهُ لِرَجُلٍ مِنْ قَلْبَيْنِ فِي جَوْفِهِ﴾.[1] ژباړه: الله ﷻ د چا په ګوګل کې دوه زړونه نه دي ایښي.

له دې څخه په ښکاره توګه څرګندیږي چې انسان په یوه وخت کې دوو یا څو شیانو ته یوشان ارزښت نشي ورکولای، که څوك ټول همت د دنیا او مالونو د لاس ته راوړلو لپاره وقف کړي نو باید د عالم کیدلو هیله ونه کړي او که غواړي چې یو موفق او بریالی عالم وي نو باید مادي ستونزې وزغمي، ځکه په اسانی سره د عالم صفت نشي ترلاسه کیدای، سنایي غزنوي څه ښه ویلي دي:

د عمرونو زیار زحمت پــه نتیجـــــه کې
یو ماشوم نه لوی عالم او شاعر جوړ شي[2]

## دریم ادب

د ښوونکي په وړاندې باید له تواضع څخه کار واخیستل شي، ځکه چې تکبر د هر چا لخوا او په هر ځای کې ناروا دی، خو په ځینو وختونو کې د ځینو خلکو سره د کبر قباحت او بدي څو برابره غرور بلل کیږي، چې له دې جملې څخه د ښوونکي پر وړاندې کبر کول دي. ښوونکی هغه څوك دی چې له انساني ختې او خمیرې څخه بل انسان جوړوي او له همدې امله ښوونکی معنوي پلار بلل کیږي، د ښوونکي په وړاندې تکبر او غیر مؤدبانه حرکت د دې لامل ګرځي چې انسان د علم له برکته محروم شي، بالعکس د ښوونکي درناوی او د هغه په وړاندې تواضع د بریالیتوب او برکت لامل ګرځي.

---

۱- سورة الاحزاب/٤

۲- دا شعرونه په اصل کې په دري ژبه ویل شوي او پښتو ژباړه یې ښاغلي استاد مؤلف آقا محمد ګرندي خوریاڼي کړې ده

## څلورم ادب

د اختلافي کارونو څخه ځان ساتل: هغه کسان چې په علم کې یې لوړ مقام حاصل کړی په دې پوهیږي چې په ډیرو برخو کې مختلف نظریات وجود لري چې دا کار په خپل ځای کې یوه نیکه پدیده ده، خو ابتدایي زده‌کونکو ته دا غوره ده چې اختلافي مواردو ته ورداخل نشي او د اتفاقي مسایلو په زده‌کړه لاس پورې کړي ځکه کیدای شي چې اختلافي مسائل د ابتدایي زده‌کوونکو لپاره د سرګردانۍ لامل شي او له زده‌کړې سره یې مینه کمه کړي.

## پنځم ادب

په ټولو علومو اجمالي پوهیدل: د وخت په تیریدو سره علم پراخوالی مومي او متنوع کیږي چې پر ټولو ډولونو یې احاطه ناشونې ده، خو د دې لپاره چې زده‌کوونکي له ذهني ستړیا سره مخ نشي او د علم د پراختیا له سببه دوی بې علمه او بې خبره پاتې نشي نو پکار ده چې په ابتدایي مرحله کې په ټولو علومو اجمالي او مختصره پوهه حاصله کړي، بیا دې په یادو شوو برخو کې د خپلې خوښې سره سم د خپل تخصص لپاره ځانګه غوره کړي، د ځانګې غوره کول باید د لومړیتوبونو په نظر کې نیولو سره ترسره شي، لومړیتوب کله د وړتیا او د زده‌کوونکي د سلیقې په بنسټ او کله د ټولنې د اړتیا په بنسټ او کله د امکاناتو او فرصتونو په بنسټ غوره کیږي.

### فعالیت

هر زده‌کوونکی دې په ټولګي کې د ښوونکي په وړاندې د ادب د رعایت کولو د څرنګوالي په اړه خپله لنډه خاطره بیان کړي.

### لنډیز

- د علم زدکړه یو عبادت دی، نو له دې امله د علم د زده‌کړې لپاره ظاهري او باطني پاکوالي ته اړتیا ده.
- د علم د زده‌کړې لپاره باید د دنیوي مصروفیتونو څخه ځان فارغ کړو.

- د ښوونکي په وړاندې تواضع د زده‌کړې یو بنسټیز شرط دی.
- ابتدایي زده‌کوونکي باید د اختلافي مسایلو څخه ځان وژغوري.
- یو زده‌کوونکی باید د وړتیا تر حده  د نورو علومو له اصولو سره هم ځان اشنا کړي.

## ارزونه

١. د روم د مولانا شعر څه مفهوم افاده کوي؟

٢. په دنیوي چارو کې حرص د علم په زده‌کړې څه اغیز لري؟

٣. ښوونکي ته ولې معنوي پلار ویل کیږي؟

٤. ابتدایي زده‌کوونکي ولې باید د اختلافي مسائلو څخه ځانونه وژغوري؟

٥. تواضع د علم په زده‌کړه کې څه اثر لري؟

٦.  د علم د زده‌کړې د هغو ارزښتناکو آدابو نومونه واخلئ چې په دې لوست کې مو لوستي دي.

## کورنۍ دنده

د هغې ښانګې نوم واخلئ او د غوره والي دلایل یې هم ذکر کړئ، په کومه کې چې غواړئ په راتلونکې کې تخصصي زده‌کړې ترسره کړئ.

# د زده کړې آداب (۲)

په تیر شوي لوست کې مو د علم د زده‌کړې پنځه آداب بیان کړل، په دې لوست کې به پاتې نور آداب واضح کړو.

## شپږم ادب

د علم په زدکړه کې ترتیب او تسلسل ته پاملرنه: په یوه وخت کې د ټولو مضامینو زده‌کړې ته لاس رسی ناشونې خبره ده، دا ځکه چې ځینې مضامین په سختۍ او آسانۍ کې له ځینو نورو څخه توپیر لري، لکه چې په یو وخت د ټولو څانگو هر مضمون ته لاسرسي زده‌کوونکي ته یو ستونزمن کار دی.

## اووم ادب

د مخکینیو فنونو او څانگو د بشپړېدو څخه وروسته دې د هر فن او څانگې په زده‌کړه لاس پورې کړي. ځکه کیدای شي چې د مخکینیو څانگو څخه ناخبري یا د هغو نیمگړېتوب د وروستیو څانگو په زده‌کړه اغیز ولري، همدارنگه کله کله د هغوی ترمنځ یو ځنځیري تړاو موجود وي چې د یو مضمون زده‌کړه د مخکیني مضمون تر زده‌کړې پورې تړلې وي. دغه تسلسل او ترتیب ته پاملرنه نکول د زده‌کړې پروسه گډوډوي.

## اتم ادب

د هر علم ارزښت او اعتبار ته پاملرنه: سره له دې چې هر علم په خپل ځای کې ارزښتمن دی خو د هر یوه ارزښت، پایلې او له هغو څخه گټه اخستل یو له بل سره توپیر لري. ځینې علوم کمو خلکو ته گټه رسوي، خو ځینې نور داسې شته چې د ټولنې یوې لویې برخې ته یې گټه رسیږي. همدارنگه ځینې علوم د ټولنې عاجلې او ځینې نور یې دویمه درجه اړتیاوې پوره کوي. نو له دې امله زده‌کوونکی باید د هر علم د زده‌کړې له ارزښت او گټې څخه خبر وي.

## نهم ادب

د علم په مرسته د الله ﷻ رضاء ترلاسه کول: ځکه چې د علم زده کړه یو عبادت دی او عبادت هغه مهال قبلیږي چې خاص د الله ﷻ د خوښی لپاره وي، دا صحیح ده چې هر علم یو عاجل هدف لري، لکه د طب په علم کې د ناروغانو درملنه، یا د اقتصاد په علم کې د ټولنې مالي وضعیت ته سر او سامان ورکول، خو سربېره پردې یاد شوي علوم کیدای شي د الله ﷻ د رضاء د حاصلولو لامل شي په دې شرط چې نیک نیت یې ملتیا وکړي او په صداقت سره سرته ورسیږي او د چل او فریب څخه پاک وي.

## لسم ادب

هر مضمون یا څانگه چې غوره کوئ باید دې ټکې ته پاملرنه وکړئ چې خپلو لوړو موخو ته چې د الله تعالی خوښي ده څومره نږدې کیدلای شئ او آیا دا هیله مو قوي ده او که کمزورې او آیا دا شونې ده چې دا مضمون یا څانگه د الله تعالی د رضا حاصلولو پر ځای د الله ﷻ د قهر او غضب لامل شي، ځکه چې یاد شوو اصولو ته نه پاملرنه د دې لامل گرځي چې علم د غیر انساني او ورانوونکو اهدافو په چوپړ کې استعمال شي او د غیر اخلاقي او تباهی په لار کې ترې گټه پورته شي، کله د مظلومو او بې وزلو لږه کیو (اقلیتونو) د مستعمره کېدلو لامل شي او کله کله د بې گناه انسانانو د له منځه وړلو لامل هم کیدای شي.

کله چې زده کونکي د زده کړې په بهیر کې یاد شوي آداب په نظر کې ونیسي او کوښښ وکړي چې په عمل کې یې پلي کړي، هیله ده چې د دوی زده کړې به د مخکینیو او سلفو علماوو په څیر له برکت سره مل او ارزښتناکې پایلې ولري.

### فعالیت

ښوونکی دې زده کونکي په څو ډلو وویشي او د هرې ډلې څخه دې وغواړي چې خپل هغه مضامین چې د لوستلو رغبت یې لري د ارزښت په بنا ترتیب او دسته بندي کړي.

## لنډيز

• د علم په زدکړه کې باید لومړیتوبونو ته پاملرنه وشي.
• په هغه وخت کې باید په نویو څانګو پیل وشي چې مخکینۍ علمي څانګې بشپړې کړې شي.
• په ټولنه کې د هرې علمي څانګې ارزښت او اعتبار ځان ته معلومول.
• په زده‌کړه کې خلوص، پاك نیت او د الله جل جلاله رضا.

## ارزونه

۱- د علم په زده‌کړه کې ولې باید د علومو ترتیب په پام کې ونیول شي؟
۲- د مخکینیو څانګو نه تکمیلول د زده‌کړې په بهیر څه اغیز لري؟
۳- آیا د ټولو مضامینو او څانګو ارزښت یو شان دی؟
٤- یوه علمي څانګه څرنګه د الله جل جلاله د رضاء د لاس ته راوړلو لامل ګرځي؟
۵- کله کله علم او پوهه ولې د تباهۍ او ورانۍ سبب ګرځي؟
٦- د علمي څانګو د پلي کولو په ډګر کې د اخلاقو اغیز څه دی؟

## کورنۍ دنده

د هغو علومو په اړه چې د ټولنې په زیاتو برخو کې ګټور دي، یو لنډ او مختصر مطلب ولیکئ؟

# صداقت او رښتینولي

## د رېښتینولۍ حقیقت

رښتیا ویل د اسلامي اخلاقو ستن ده. دا اخلاقي ځانګړتیا د دې لامل ګرځي چې د انسان مقام د خالق او هم د مخلوق پر وړاندې لوړ کړي.

رښتیا ویونکی انسان په دې ښکلي صفت د پاتې کېدو په صورت کې د صدیقانو مقام ته رسېږي. صدیقان هغه خلک دي چې له انبیاؤ پرته د نورو ټولو خلکو څخه د دوی مقام لوړ دی.

نبي کریم ﷺ په دې اړه فرمایلي دي: رښتیا ویل له لاسه مه ورکوئ، ځکه رښتیا ویل ښو کارونو ته او ښه کارونه جنت ته لار پرانېزي. او هغه څوک چې تل رښتیا وایي او رښتیا ویل خپل عادت وګرځوي، په پایله کې د الله تعالی په وړاندې هغه د صدیقانو په ډله کې لیکل کېږي... او له دروغ ویلو څخه ډډه وکړئ، ځکه دروغ ویل د بدو کارونو لامل کېږي او بد کارونه دوزخ ته د تللو لامل ګرځي او هغه څوک چې دروغ وایي او تل د دروغ ویلو پیروي کوي نو د الله تعالی په وړاندې به په دروغ ویونکو کې لیکل کېږي[1].

## فعالیت

د رښتیا ویلو ضد څه شی دی؟ زده‌کوونکي دې د رښتینتوب بیلګې او د هغه ضد ذکر کړي او همدارنګه دې په ټولنه کې د یادو شوو دوو صفتونو اغېزې واضح کړي.

## د رښتیا ویلو شکلونه او ځایونه

۱- د رښتینولۍ ښکاره او واضح مفهوم په وینا پورې تړلی دی. او دلته په دې معنا دی چې یو سړی

---

۱ بخاري

د هغه څه خبر ورکړي چې د واقعیت سره مطابق وي او د هغه څه له ویلو څخه ځان وژغوري چې د واقعیت خلاف وي.

۲ - د رښتیا ویلو بل مفهوم په نیت پورې تړلی دی. کله چې انسان د یوه کار نیت کوي، نو باید نیت یې له ناروا غوښتنو څخه پاك وي تر څو کار یې په رښتینې توګه سرته ورسیږي.

۳ - پر عزم او غښتلي هوډ ټینګ دریدل د رښتینتوب بل مفهوم دی. کله انسان د الهي فطرت پر اساس یا د ترغیب او فضایلو پر بنا د خیر کارونو د تر سره کولو اراده کوي، خو کله یې چې د ترسره کولو وخت راشي، سستي کوي او له هغه عمل څخه سر غړوي، دا کار د رښتینتوب خلاف دی. په نیکو کارونو کې د غښتلي عزم او ارادې لرل د رښتینتوب په مفهوم کې شامل دي.

٤ - همدارنګه د ظاهري او باطني اعمالو تطابق د رښتینتوب بل مفهوم دی. یعنې نه ښایي چې د انسان ظاهري اعمال چې پر کوم شي دلالت کوي په باطن کې د هغه خلاف وي. که څوك په ظاهر کې خپل ځان زړور یا سخي وښيي او په باطن کې داسې نه وي، بلکې ظاهر یې د باطن په خلاف وي دا کار د رښتینتوب خلاف دی.

## د رښتینتوب لوړه مرتبه

په ایماني صفاتو او دیني مقاماتو لکه د الله تعالی سره مینه، له هغه څخه ویره، پر هغه توکل، په خوښۍ او خوشالۍ سره یې اوامر منل او د هغه د فضل او احسان هیلمن کېدل د رښتینولۍ لوړه درجه او مرتبه ده، ددغو مقامونو حقیقت ته رسیدل او د هر یوه په مقتضا عمل د رښتینتوب تر ټولو بشپړ مفهوم دی.

## د دروغ ویلو پایلې

هر هغه انسان چې له رښتیا ویلو څخه ځان لیرې کوي او دروغ ویلو ته مخ اړوي، د اسلام له نظره خپل ارزښت له لاسه ورکوي. حضرت عائشې رضي الله عنها فرمایلي دي: د رسول الله ﷺ پر وړاندې هیڅ عادت له دروغ ویلو څخه ډېر زیات بد نه وو، که رسول اکرم ﷺ به د چا په دروغو پوه شو، نو هغه به دده پر وړاندې اعتبار له لاسه ورکاوه، خو د چا د توبې او رجوع څخه به خبر شو نو بیا به یې په هغه اعتبار کاوه.[۱]

۱- د احمد مسند

د اسلام سپېڅلی دین ټینګار کوي چې مسلمان باید په ښو اخلاقو سمبال او له رذایلو څخه پاک وي، خو دا هم شونې ګڼي چې انسان نشي کولای تل هغه لوړ سرحد ته ورسیږي، له همدې امله د دروغو پرته چې هیڅکله باید وړاندې لاس پورې نشي، ځینې خطاګانې او تیروتنې یې له انسان څخه شونې ګڼلې دي.

له رسول اکرم ﷺ څخه پوښتنه وشوه" آیا دا شونې ده چې مسلمان دې بې زړه وي؟ ویې فرمایل: هو! پوښتنه وشوه: آیا شونې ده چې مؤمن دې بخیل وي؟ ویې فرمایل:هو، پوښتنه وشوه آیا شونې ده چې مسلمان دې دروغجن وي؟ ویې فرمایل " هیڅکله نه!"

د یاد شوي مطلب پر بنسټ ویلای شو چې رښتیا ویل، نیکي او له دروغو څخه پرهیز د اخلاقي فضیلتونو په منځ کې ځانګړی او ارزښتناک مقام لري، د انسان لپاره د دنیوي او اخروي بریالیتوب راز هم په دې کې پروت دی چې د ټولنې وګړي په دې غوره صفت سمبال شي، خو کله چې په ټولنه کې دروغ رواج شي او څوک یې په مقابل کې حساسیت او مخالفت ښکاره نه کړي، د هغې ټولنې تباهي او له منځه تلل یقیني او حتمي دي.

## فعالیت

زده کوونکي دې په ټولنه کې د صداقت او رښتیا ویلو د نه شتون پایلې وڅیړي او په دې اړه دې خپل نظرونه او له خپل چاپیریال څخه دې څو عملي بیلګې وړاندې کړي.

## لنډیز

- په اسلامي اخلاقو کې رښتیا ویونکی او صادق انسان د صدیقینو او شهیدانو مقام ته رسیږي.
- رښتیا ویل، انسان ته د نیکو کارونو لارښوونه کوي او نیک کارونه رښتونی مؤمن جنت ته رسوي.
- رښتیا ویل، په نیت کې اخلاص، په عهد وفا او د قول او عمل تطابق د صدق او رښتینتوب د مظاهرو څخه حسابیږي.

• په ایماني صفتونو کې صداقت، د الله ﷻ سره مینه کول، پر هغه توکل او د هغه په رضا باندې خوښي ښکاره کول د رښتینولی د لوړو درجو څخه شمیرل کیږي.

## ارزونه

۱. د انسان په منزلت او مقام کې رښتیا ویل څه اغیز لري؟

۲. صدیقیین کوم کسان دي؟

۳. که رسول اکرم ﷺ به له چا څخه دروغ واوریدل نو هغه به یې په کوم صورت کې ښنلو؟

٤. په ایماني صفتونو کې صداقت د رښتینتوب په کومه درجه کې دی؟

٥. آیا دروغ ویل د بخل او بې زړه توب سره برابر دي؟

٦. صداقت او رښتینولي د ټولنې په وحدت او غښتلتیا کې څه اثر لري؟

### کورنۍ دنده

زده کوونکي دې په ټولنه کې د وحدت او اعتماد د غښتلتیا په لار کې د رښتین والي او صداقت د اغیز په اړه یوه مقاله ولیکي چې له یوه مخ څخه کمه نه وي.

# له دروغو ځان ساتل

په تیر لوست کې مو د رښتیا ویلو حقیقت، فضیلت او اړونده مفاهیم زده کړل. د رښتینتوب او صداقت عظمت او ښایست هغه وخت ښکاره کیږي کله چې د دروغو زیانونه او ناوړې پایلې وپیژنو، لکه څرنګه چې ویل شوي دي" هرڅیز د هغه د ضد په واسطه پیژندل کیږي" نو په دې بنسټ پوره رښتینتوب او صداقت ته هغه وخت رسیدلای شو چې له هر ډول دروغو څخه ځانونه وساتو.

## د دروغو زیان

لومړی باید پوه شو چې د دروغو زیان څومره دی، رسول اکرم ﷺ فرمایلي دي:﴿إِذَا كَذَبَ الْعَبْدُ كَذِبَةً تَبَاعَدَ مِنْهُ الْمَلَكُ مَسِيرَةَ مِيلٍ، مِنْ نَتْنِ مَا جَاءَ بِهِ﴾[١]

ژباړه: کله چې یو تن دروغ ووایي پرښته د ده دعمل د بد بویې له امله د ده څخه یو میل لیرې کیږي.

له پورتني روایت څخه داسې څرګندیږي چې د دروغو زیان یوازې تر انسانانو پورې ځانګړی نه دی بلکې ملایکې هم ورڅخه آزار مومي او له دروغجن سړي څخه بیزاره دي.

## د ټوکو په بڼه کې دروغ

تر ټولو ساده دروغ هغه دي چې د ټوکو په څیر وویل شي. رسول اکرم ﷺ فرمایلي دي: "بنده بشپړ ایمان ته تر هغه نه شي رسیدلای تر څو چې دروغ ویل پرینږدي که هغه د ټوکو په شکل کې هم وي."[٢]

نو که څوک د نورو خلکو د خندولو لپاره دروغ ووایي د هغه ګناه زیاته ده.

له دې څخه ډیر بد هغه دروغ دي چې خوله په خوله نقل شي، د سرحد څخه تیر شي او د خلکو باور په ټوکو بدل کړي، لکه څرنګه چې ځینې رسنۍ کله ناکله دا کار کوي.

په یوه مبارک حدیث شریف کې راځي چې داکسان به د مرګ له وخت څخه د قیامت تر ورځې په دردناک عذاب کې وي.[٣]

---

١- الطبرانی
٢- مسند احمد
٣- د بخاری شریف روایت

## په معامله کې دروغ

په معامله او تجارت کې دروغ ناروا دي، په ځانګړي ډول که د سوګند سره مل او يو ځای وي.

رسول اکرم ﷺ فرمايلي دي: ﴿الْبَيِّعَانِ بِالْخِيَارِ مَا لَمْ يَتَفَرَّقَا، فَإِنْ صَدَقَا وَبَينا بُورِكَ لَهُمَا، وَإِنْ كَذَبَا وَكَتَمَا مُحِقَتْ بَرَكَةُ بَيْعِهِمَا﴾[1]

ژباړه: دوه معامله کوونکي تر هغه چې يو له بله جلا شوي نه وي د اختيار حق لري، که رښتيا ووايي او حقيقت ښکاره کړي نو معامله به يې برکتي شي او که دروغ ووايي د ګټې په صورت کې به يې هم د معاملې برکت له منځه تللی وي.[2]

## په شهادت کې دروغ

تر ټولو ناوړه دروغ هغه دي چې د شهادت د اداکولو پر وخت يې څوک ووايي ځکه چې دا په کبيره ګناهونو کې تر ټولو لويه ګناه ده؛ د هغه حديث مطابق چې امام بخاري روايت کړی ياد شوی عمل (دروغ ويل) د زيان له امله د شرک، عقوق والدين او له قتل څخه وروسته دی.

## د ملت پر وړاندې د حاکم دروغ ويل

د زيان له مخې دروغ يو له بله په پايلو کې سره توپير لري، يعنې ځينې يې له نورو زياته ګناه لري.

د مثال په توګه کوم حاکم چې د ملت د غولولو لپاره دروغ وايي ترڅو يې پر مصالحو لوبې وکړي داسې حاکم جنت ته نشي ننوتلي. رسول اکرم ﷺ فرمايي: ﴿ثَلاثَةٌ لاَ يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ: الشَّيْخُ الزَّانِي، وَالإِمَامُ الْكَذَّابُ، وَالْعَائِلُ الْمَزْهُوُّ﴾.[3]

ژباړه: درې ډلې جنت ته نشي داخليدلای: زوړ زناکار سړی، دروغجن حاکم او غريب کبرجن.

## تر ټولو ناوړه دروغ

تر ټولو ناوړه دروغ هغه دي چې الله ﷻ او د هغه پيغمبر ﷺ ته يې نسبت وشي، يعنې له ځانه موضوعات جوړول او دين ته يې نسبت کول چې ګنې الله ﷻ او د هغه پيغمبر ﷺ داسې فرمايلي، پداسې حال کې چې داسې نه وي. رسول اکرم ﷺ فرمايلي: ﴿مَنْ كَذَبَ عَلَيَّ مُتَعَمِّدًا فَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ﴾.[4]

---

۱- الطبرانی
۲- د احمد مسند
۳- بزار
٤- البخاري

ژباړه: هر هغه څوک چې قصداً پر ما دروغ وتړي نو په دوزخ کې دې د خپل ځان لپاره ځای تیار کړي.
نو د دې لپاره چې د رښتیا ویونکو په صفت موصوف او د صدیقینو مقام ته ورسیږو، باید له هر ډول دروغو څخه ځان وژغورو او ددې کوښښ وکړو چې د صداقت او رښتیا ویلو په یوه یوه مفهوم باندې ځانونه سمبال کړو.

## فعالیت

که تاسې د یوې رسنۍ مسؤولیت پر غاړه ولرئ د دروغ خپرولو څخه به څرنګه مخنیوی وکړئ؟ په خپلو کتابچو کې یې ولیکئ.

## خلاصه

•دروغ ویل د رښتیا ویلو او صداقت مقابل او ضد دی.
• د دروغو زیان او پایلې دومره خطرناکې دي چې د انسانیت له نړۍ پرته پرښتې هم له دروغ ویونکي انسان څخه بیزاره دي.
• په ټوکو کې دروغ، په معامله کې دروغ، په شهادت ورکولو کې دروغ، د حاکم او مسؤول دروغ خپل ملت ته، دا ټول د دروغو له اشکالو څخه حسابیږي.
• تر ټولو ناوړه دروغ هغه دي چې الله ﷻ او د هغه پیغمبر ﷺ ته یې نسبت وکړي.

## ارزونه

۱. پرښتې ولې له دروغجن سړي څخه لیرې تښتي؟
۲. آیا په ټوکو سره دروغ ویل روا دي؟
۳. د خلکو د خندولو په نیت دروغ ویل څه حکم لري؟
٤. په تجارت او نورو معاملو کې د دروغو پایلې څه دي؟
٥. په دروغو ګواهي ورکول کومه ګناه ده؟
٦. ملت ته د حاکم دروغ څرنګه دي او څه حکم لري؟
۷. کوم ډول دروغ ډېر ناوړه دي؟

## کورنۍ دنده

د دروغو د شهادت د ټولنیزو زیانونو په هکله لنډ معلومات ولیکئ.

# په ښځینو کې ګرندیتوب

اسلام خپل پیروان نیکیو ته هڅوي. په ټولنه کې له کومو بدیو او نیکیو سره آشنایي لرئ؟ په ټولنه کې د نیکیو پراختیا څه پایلې او اغیزې لري؟ په ټولنه کې د شر او بدیو غلبه او زیاتوالی کوم ناوړه عواقب او پایلې لري؟

## ښځینو ته څرنګه پراختیا ورکړو؟

دا یو څرګند حقیقت دی چې په ټولنه کې مطلق نیک یا بد "خیر یا شر" په یوازې او مطلقه توګه نشته، بلکې له کومه وخته چې انسان د تقوی او بدیو د ورتیا په لرلو سره پیدا شوی دی، نو په ټولنه کې خیر او شر دواړه اوږه په اوږه یو ځای موجود دي له دې امله له ټولنې څخه د ټولو بدیو له منځه وړل یو سخت او ناشونی کار دی.

د ناوړه کارونو کنترول او د نیکیو خپرول په هغو لارو چارو کیدلای شي چې د نیکیو په غښتلتیا کې مرستندوی تمام شي، یو له هغو څخه په نیکو کارونو کې په وړاندیوالي او سبقت د خلکو عادت کېدل دي؛ ځکه چې ډیر خلک په دې لړ کې متردد او دې ته سترګې په لار وي چې نور خلک څه کوي او څه وایي، کله چې دوی یادې شوې لارې ته مخ کړي نه یوازې دا چې دوی له کوم تهدید سره نه مخامخ کیږي بلکې ګټه او هڅونه هم د دوی انتظار کوي.

که یاده شوې روحیه تغیر ونکړي، نو د نیکیو د پرمختګ او غښتلیتا لپاره کومه زمینه نه مساعدیږي او د دې هیله هم نشي کیدای چې ښیګنې به پرمختګ وکړي.

یوازې په هغه وخت کې بدي او رذایل کمی مومي چې خلک بې له کوم تردیده او بې له کومې واهمې په نیکو اعمالو لاس پورې او د نورو هڅونې او تأیید ته سترګې په لار پاتې نشي.

په نیکو کارونو کې د یو مسلمان وړاندې والی د نورو د هڅولو لامل ګرځي، ځکه چې کله دی یوه عملي بیلګه وړاندې کړي، هغه د نمونې، حیثیت تر لاسه کوي او نمونه د نورو د هڅولو له ارزښتناکو عواملو څخه بلل کیږي. او د هغو کسانو لخوا چې په نیکیو کې د ده پیروي کوي

د نیکۍ بدلې مستحق ګرځي  لکه څرنګه چې په لاندیني مبارک حدیث شریف کې راځي:
﴿مَنْ سَنَّ سُنَّةً حَسَنَةً فَعُمِلَ بِهَا كَانَ لَهُ أَجْرُهَا وَمِثْلُ أَجْرِ مَنْ عَمِلَ بِهَا لاَ يَنْقُصُ مِنْ أُجُورِهِمْ شَيْءٌ﴾[1]

ژباړه: هر هغه څوك چې د نیکی بنسټ کېږدي او له ده وروسته پرې عمل وشي، دی به هم د خپل عمل او هم د هغو خلکو د عمل د بدلې معادل اجر تر لاسه کړي چې عمل پرې کوي، پرته له دې چې د دوی له ثواب څخه څه کم شي.

## په نیکیو کې وړاندې والی

له بلې خوا په نیکیو کې وړاندې والی او په ټولنه کې د وګړو ترمنځ مثبته او رغنده سیالي په خلکو کې د نیکو اعمالو انګیزه غښتلې کوي. دا روغه خبره ده چې بې ځایه او ناروا سیالي په ناوړه کارونو کې حسابیږي خو هره سیالي ناروا نه ده بلکې اسلام په نیک کار کې سیالي نه منع کوي بلکې خپل پیروان هغې ته هڅوي لکه څرنګه چې الله ﷻ فرمايي: ﴿وَفِي ذَلِكَ فَلْيَتَنَافَسِ الْمُتَنَافِسُونَ﴾ [المطففین: ٢٦]

ژباړه: او ددغې د ګټلو په سیالی کې دې هڅه کوونکي هڅه وکړي.

رسول اکرم ﷺ  ځینې رقابتونه روا او خوښ ګڼلي چې فرمايي: "ستاسې تر منځ سیالي روا نه ده مګر په دوو ځایونو کې، یو هغه چې الله ﷻ چا ته د قرآنکریم د یادولو توفیق ورکړی وي شپه او ورځ په کې مصروف او د هغه څخه پیروي کوي، دغه وخت یو بل سړی ( د دې هیله وکړي ) او ووايي که الله تعالی ماته هم دا نعمت راکړی وای، ما به هم د هغې په شان ځان پکې  مصروف کړی وای، بل هغه څوك چې الله ﷻ ورته سرمایه ورکړې وي او هغه یې انفاق او صدقه کوي، او بل څوك ووايي چې کاش الله تعالی ماته هم د هغه په څېر سرمایه راکړې وای چې ما هم د هغه په څېر صدقه کړې وای"[2]

دغه مطلب ته په پاملرنې سره دې نتیجې ته رسیږو چې په نیکو کارونو کې وړاندې والی د اخلاقو د ارزښتناکو ځانګړتیاوو څخه دی چې په ټولنه کې د فضایلو او رغنده سیالی د غښتلیتا په لارکې مرستندوی واقع کیږي.

---

١- البیهقی
٢- متفق علیه

## فعالیت

په نیکو کارونو کې د وړاندیتوب په اړه د زده‌کونکو ترمنځ یوه بیلگه بیان کړئ.

## لنډیز

• په ټولنه کې خیر او شر ښه او بد ټول موجود دي. خو د انسانانو دا د نده ده چې نیکیو ته پراختیا ورکړي تر څو له ټولنې څخه د بدیو تغر ټول شي.

• په نیکیو کې وړاندېوالی او عمل، نور خلک ښو کارونو ته هڅوي.

• د اسلامي اخلاقو له نظره هر انسان چې د یو نیک عمل بنسټ کېږدي، نو هر هغه څوک چې پرې عمل کوي مؤسس یې هم په اجر او ثواب کې شریک دی.

## ارزونه:

۱. آیا په ټولنه کې نیکي وجود لري او که بدي. ؟

۲. که د ټولو بدیو له منځه وړل یو ناشونی کار وي نو څه باید وکړو. ؟

۳. ولې ډیر خلک د نیکو کارونو په ترسره کولو کې د تردید ښکار کیږي؟

٤. په کومو شرایطو کې د دې امکان شته چې شر دې کم شي. ؟

۵. عملي نمونه څرنگه د نیکیو په غښتلتیا کې مرسته کوي. ؟

٦. آیا ټولې سیالۍ ناوړه دي؟

۷. په اسلامي اخلاقو کې د روا سیالیو دوې بیلگې ذکر کړئ؟

## کورنۍ دنده

په نیکیو کې د وړاندیوالي په باره کې چې د ښو اعمالو د غښتلتیا لامل گرځي لنډ معلومات ولیکئ.

# په نېکیو کې سیالي

په تیر لوست کې مو ولوستل چې په نیکیو کې وړاندې والی هغه صفت دی چې د اسلام له نظره ډیر ارزښت لري. په نیکو عملونو کې سیالي او وړاندیوالی څه ارزښت لري او پر ټولنه څه اغیز کوي؟

**فعالیت**

کله چې په ټولنه کې د ټولنیزو شرایطو له مخې فساد او رذالت په خیر او ښیګڼو غالب شي، په دې شرایطو کې باید څه وشي؟ زده‌کوونکي دې د ښوونکي په لارښوونه د حل لارې چارې وړاندې کړي.

## په نیکیو کې د سیالۍ ارزښت

قرآنکریم ځینې تیر شوي صالح کسان ځکه ستایي چې په نیکیو کې یې یو له بل څخه سبقت او وړاندیوالی کولو، لکه څرنګه چې د حضرت زکریاعلیه‌السلام او د هغه د کورنۍ په اړه فرمایي: ﴿إِنَّهُمْ كَانُوا يسَارِعُونَ فِى الْخَيراتِ وَيدعُونَنَا رَغَبًا وَ رَهْبًا﴾ [الانبیاء: ۹۰]

ژباړه: دغو کسانو د نیکۍ په چارو کې منډې ترړې کولې او مونږ یې له میلان او ویرې له امله بللو. همدارنګه الله جل جلاله د خپلو صالحو بندګانو په وصف کې فرمایي: ﴿وَيسَارِعُونَ فِى الْخَيراتِ وَأُولَئِكَ مِنَ الصَّالِحِين﴾ [آل عمران: ۱٤]

ژباړه: او د ښیګڼې په چارو کې په چټکۍ بوختیږي، او دوی صالحان دي.

کله چې انسان ته د نیکوکارونو زمینه مساعده شي نو د مسلمان په صفت باید له نورو خلکو څخه وړاندې والی وکړي او له هغوی څخه د مخه اقدام وکړي، ځکه چې الله جل جلاله فرمایي: ﴿فَاسْتَبِقُوا الْخَيراتِ﴾ [البقرة: ۱٤۸]

ژباړه: نو تاسې د ښيګڼو په لوري په ځغاسته شئ.

ځينې علماء او امامان له  ياد شوي آيت څخه استنباطوي چې لمونځ بايد په اول وخت کې ادا شي، ځکه چې داکار په نيکيو کې يو ډول د وړاندېوالي کوښښ دی. د يادونې وړ ده چې نور نيک عملونه هم په دې حکم کې شامل دي، ځکه چې د مبارك آيت مقصد هم دا دی چې مسلمان بايد نيکو کارونو ته په ور دانګلو عادت شي او د  تل لپاره په نيکو کارونو کې مخکښ وي.

هغه مسلمانان چې په صدر اسلام کې يې د اسلام په قبلولو کې وړاندې والی کړی و په "سابقين اولين" نومول شوي دي، يعنې ايمان او اسلام ته لومړني مخکښان دوی وو، چې دا موضوع څو څو ځله په قرآنکريم کې تکرار شوې او يادو شوو کسانو ته د نيکې بدلې وعده ورکړل شوې ده.

## مسابقه کوونکي مؤمنان غوره دي

قرآنکريم مسلمانان د هغوی د عمل په بنا په دريو اساسي ډلو ويشلي، يوه يې هغه ډله ده چې له اسلام سره هم د ځينو کميو مرتکب شوي، دويمه هغه ډله ده چې له ګناهونو ځان ساتي خو په نيکو کارونو کې کوم مخکې والی نه لري، او دريم هغه کسان دي چې له هر ډول ناروا څخه ځان ساتي او د تل لپاره په نيکو کارونو کې د کم او کيف له پلوه له نورو څخه وړاندېوالی کوي، الله ﷻ فرمايي:﴿ ثُمَّ أَوْرَثْنَا الْكِتَابَ الَّذِينَ اصْطَفَيْنَا مِنْ عِبَادِنَا فَمِنْهُمْ ظَالِمٌ لِنَفْسِهِ وَمِنْهُمْ مُقْتَصِدٌ وَمِنْهُمْ سَابِقٌ بِالْخَيْرَاتِ بِإِذْنِ اللَّهِ ذَلِكَ هُوَ الْفَضْلُ الْكَبِيرُ﴾ [فاطر: ۳۲].

ژباړه: بيا مو هغه کسان د دې کتاب وارثان کړل چې مونږ هغوی(ددغه ميراث ورلو لپاره) له خپلو بندګانو څخه غوره کړي وو. اوس نو له هغو څخه ځوك پر خپل نفس ظلم کوونکي دي او ځوك منځ لاري دي او ځوك د الله په اذن سره په نيکيو کې وړاندې تلونکي دي، همدا ډېر لوی فضل دی.

له همدې امله په اسلام کې تأني او تحمل يو ښه عمل ښودل شوی او د مسلمانانو څخه غوارې چې له تلوار او بيړې څخه ځان وساتي، خو کله چې د نيکو کارونو موضوع مطرح شي نو وړاندېوالی د تأني او تأخير څخه غوره ښودل شوی دی. رسول اکرم ﷺ  فرمايلي دي: ﴿التُّؤَدَةُ فِى كُلِّ شَىْءٍ إِلاَّ فِى عَمَلِ الآخِرَةِ﴾[۱]

ژباړه: غوره ده چې هر شی په ارامی ترسره شي، پرته له هغه عمل څخه چې په آخرت پورې اړه

۱- سنن ابی داود

ولري.

قرآنکریم په صراحت سره هغو کارونو ته چې ګناهونه له منځه وړي او د الهي نعمتونو د ترلاسه کولو لامل کیدای شي په تیزۍ سره د لاس پورې کولو حکم کوي او فرمايي: ﴿وَسَارِعُوا إِلَىٰ مَغْفِرَةٍ مِنْ رَبِّكُمْ وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا السَّمَوَاتُ وَالْأَرْضُ أُعِدَّتْ لِلْمُتَّقِينَ﴾ [آل عمران: ۱۳۳].

ژباړه: او په منډه منډه و ځغلئ د خپل پروردګار د بخښنې او هغه جنت خواته چې هغه لکه د آسمانونو او ځمکې په څېر پراخه دی، او هغه له خدايه ویریدونکو خلکو لپاره تیار کړې شویدی.

که له دیني او اخلاقي پلوه ټولنیز شرایط په ځینو ستونزو کې ښکیل شي نو د حل یوه ارزښتناکه او اساسي لار هم دا ده چې د نیکو کارونو په تر سره کولو کې په بیړې لاس پورې شي، رسول اکرم ﷺ فرمایلي: ﴿بَادِرُوا بِالأَعْمَالِ فِتَنًا كَقِطَعِ اللَّيلِ الْمُظْلِمِ يصْبِحُ الرَّجُلُ مُؤْمِنًا وَيمْسِى كَافِرًا أَوْ يمْسِى مُؤْمِنًا وَيصْبِحُ كَافِرًا يبِيعُ دِينَهُ بِعَرَضٍ مِنَ الدُّنْيا﴾[۱]

ژباړه: د نیکو کارونو ترسره کولو ته مخکې له هغې بیړه وکړئ چې کله فتنې د شپې د تیارو د پردو په څېر وي، چې یو سړی به سهار مؤمن او ماښام کافر کیږي، یا ماښام مؤمن او سهار کافر کیږي، خپل دین به د دنیا په متاع او اجناسو خرڅوي.

د پورتني مبارك آيت او حدیث مطابق باید یو مسلمان خپل ځان داسې عادت کړي چې په نیکو کارونو کې له نورو مخکې والی وکړي، تر څو معنوي بریالیتوبونه او الهي بدلې تر لاسه او په دنیوي کارونو کې یې بریالیتوب او پرمختګ په برخه شي.

## فعالیت

ښاغلی ښوونکی دې زده‌کونکي په څو ډلو وویشي او د هرې ډلې څخه دې وغواړي چې د یو بل سره په مشوره په نیکو کارونو کې خپل نوښتونه له ځان سره ولیکي او د ټولګي پر وړاندې یې بیان کړي.

---

۱- رواه مسلم

## لنډيز

- اسلامي اخلاق انسانان په نيکو کارونو کې سيالی او مخکې والي ته را بولي.
- قرآن کريم الهي پيغمبران عليهم السلام له دې امله ستايلي چې په نيکو کارونو کې به يې وړاندې والی کاوه.
- هغو مسلمانانو چې د اسلام په صدر کې يې د اسلام په منلو کې سبقت کړی او له نورو څخه لومړی مسلمانان شوي دي د "سابقين اولين" صفت ګټلی دی.
- کوم وخت چې د دين او اخلاقو له نظره ټولنيز شرايط د انحراف او ستونزو ښکار شي، نو د ايمانداره او با رسالته انسانانو دنده ده چې په نيکيو او ښېګڼو کې وړانديوالی وکړي.

## ارزونه

۱. څينو علماوو دا ولی غوره ګڼلې چې لمونځ بايد په اول وخت کې ادا شي؟
۲. آيا نيکو کارونو ته په بيړې سره وردانګل يوازې په عباداتو پورې منحصر شوي دي؟
۳. سابقين اولين کومو کسانو ته ويل کيږي؟
٤. قرآنکريم مؤمنان په څو ډلو ويشلي نومونه يې واخلئ او په دې اړه له قرآن کريم څخه دليل ذکر کړئ.
۵. آيا تأني او حوصله په هر ځای کې نيک کار دی؟

## کورنۍ دنده

د فتنو نه د ځان ژغورلو په لار کې د نيکو عملونو د رول په اړه يو لنډ مطلب وليکئ.

# په اسلام کې امانتداري

امانت څه ته وايي؟ د امانت عناصر کوم دي؟ په انساني ټولنه کې د امانت ګټې او ارزښتونه کوم دي؟

د امانتدارۍ صفت په دنيا کې د انسان د ډاډ او پرمختګ او په آخرت کې د برياليتوب او خلاصون سبب ګرځي، په دې لوست کې به ياد شوي مطالب مطالعه کړو.

## د امانت لغوي معنا

په عربي ژبه کې امانت ډاډ ته ويل کېږي او امين هغه څوک دی چې اعتماد او باور وربانديې کيږي او په هکله يې ډاډ شتون ولري او مقصد يې ساتل، امان او د حق ادا کول دي، د امن ضد وېره او خوف دی.

## د امانت اصطلاحي معنا

امانت د الله ﷻ د حقونو له مراعاتولو څخه عبارت دی، په دې معنا چې انسان فرايض او واجبات ادا کوي، د الله ﷻ د بندګانو حقوق پرځای کوي، کوم کار چې ورته سپارل شوی وي په ښه توګه يې تر سره کوي، که د مال حفاظت ورته سپارل کيږي خيانت په کې نه کوي او په ټولنه کې يې موخه د الله ﷻ او د هغه د بندګانو د حقونو ساتل وي.

## د امانت ډولونه

په دې بايد پوه شو چې امانت د ژوندانه په ډېرو برخو کې په کارېږي او بېلا بېل ډولونه لري چې ځينې يې د يادولو وړ دي:

۱- کله چې امانت د يوه مسؤوليت ترسره کول وي، هغه ته « مسؤوليت يا وجيبه » ويل کېږي.

۲- که يو تړون او تعهد ته وفا داري وي، هغه ته «وفا او التزام» ويل کېږي.

۳- که څوک په يوه وخت کې د امانت په سپارلو کې صداقت ښکاره کړي هغه ته «رښتينتوب»

ويل کېږي.

٤. که په مجلس کې په ارزښتناکو موخو پرېکړه وشي، د هغو د اسرارو ساتنې ته «دراز ساتل» ویل کېږي.

## د امانت ارزښت

په اسلامي شریعت کې امانت یو لوی او مهم مسؤولیت شمیرل کیږي. حاکم او چارواکي ته امر شوی تر څو امانتونه امینو خلکو ته وسپاري. لکه څرنګه چې الله ﷻ فرمایي: ﴿إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُكُمْ أَنْ تُؤَدُّوا الْأَمَانَاتِ إِلَى أَهْلِهَا﴾ [النساء: ٥٨]

ژباړه: یقیناً الله تاسې ته حکم کوي چې امانتونه د هغو اهل ته وسپارئ.

له بلې خوا الله ﷻ مؤمنانو ته امر کوي چې په امانت کې خیانت ونه کړي، لکه څرنګه چې فرمایي: ﴿يا أَيها الَّذِين آمَنُوا لَا تَخُونُوا اللَّهَ وَالرَّسُولَ وَتَخُونُوا أَمَانَاتِكُمْ وَأَنْتُمْ تَعْلَمُونَ﴾[الانفال: ٢٧]

ژباړه: اې مؤمنانو! په پوهه له الله او د هغه له پیغمبر سره خیانت مه کوئ او په خپلو امانتونو کې تګی مه کوئ.

په مبارکو احادیثو کې د حفظ او امانت د ارزښت په اړه ډېر نبوي احادیث راغلي لکه څرنګه چې نبي کریم ﷺ په دې حدیث شریف کې فرمایي: ﴿لَا إِيمَانَ لِمَنْ لَا أَمَانَةَ لَهُ وَلَا دِين لِمَنْ لَا عَهْدَ لَهُ﴾.[1]

ژباړه: څوک چې امانت نه ساتي، ایمان نه لري او څوک چې په عهد وفا نه کوي، بې دینه دی.

همدارنګه رسول اکرم ﷺ د امانت د ښکلي صفت زیری هغه چا ته ورکړی چې مؤمن او امین وي، لکه چې فرمایي: ﴿الْمُؤْمِنُ مَنْ أَمِنَهُ النَّاسُ عَلَى أَمْوَالِهِمْ وَأَنْفُسِهِمْ﴾[2]

ژباړه: مؤمن هغه څوک دی چې خلک یې په خپلو مالونو او نفسونو کې امین بولي.

## د امانت عناصر

امانت د دریو مهمو عناصرو لرونکی دی چې یو امین شخص یې باید په پام کې ونیسي:

١. څه چې یې حق نه وي له هغه نه ځان وساتي.

---

١- رواه احمد

٢- مسند الصحابه

۲. د بل حق په داسې وخت کې ادا کړي چې د نه اداکولو قدرت يې هم لري.
۳. څه چې ورته سپارل شوي وي پرته له کمي او زياتي يې ساتنه وکړي.

## په ټولنه کې د امانت ګټې

۱. په امانت کې وفا داري د باور او اعتبار لامل ګرځي.
۲. په ټولنه کې امن، امان او ډاډ غښتلی کوي.
۳. په ټولنه کې ټول کارونه په ښه توګه ترسره کيږي.
٤. امانت پيژندل د هر ډول ټګر، غدر او د حقوقو د ضايع کېدو مخ نيوی کوي.
٥. امانتداري د الله ﷻ د رضا لامل او د بندګانو د خوښۍ سبب ګرځي.

که وغواړو چې د دنيا او آخرت برياليتوب مو په برخه شي، نو اړينه ده چې د امانت ارزښت او ګټې په پام کې ونيسو او په خپلو کارونو، کورنيو، اداري دندو، مسؤوليتونو او د ژوندانه په ټولو اړخونو کې امانت ادا او هغه ته پاملرنه وکړو، او ياد شوي ستر اخلاق خپل شعار او عمل وګرځوو.

### فعاليت

ښاغلی ښوونکی دې زده‌کوونکي وهڅوي چې دا لاندې مبارک آيت او حديث په لوړ اواز تکرار او د هغو پر معنا ځانونه پوه کړي.

۱. ﴿ إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُكُمْ أَنْ تُؤَدُّوا الْأَمَانَاتِ إِلَى أَهْلِهَا﴾
۲. ﴿لَا إِيمَانَ لِمَنْ لَا أَمَانَةَ لَهُ وَلَا دِينَ لِمَنْ لَا عَهْدَ لَهُ﴾.

## لنډيز

- امانت د الله تعالی او د بندګانو د حقونو ساتلو او د شخصي او ټولنيزو مسؤوليتونو ترسره کولو ته وايي.
- وجايب اومسؤوليتونه پيژندل، وفا، رښتينولي او د نورو د راز ساتل د اسلامي اخلاقو له ډولونو څخه دي.

• په اسلامي اخلاقو کې ایمان او دین داري د امانت دارۍ له شرطونو څخه دي.

• د نورو د حقونو او انسان ته د سپارل شوو مسؤولیتونو پوره سرته رسول د امانت دارۍ له ارزښتناکو عنصرونو څخه دي.

• د امانت دارۍ په مراعاتولو سره د انسانانو په ټولنیز او شخصي ژوند کې ډاډ او نیکمرغي رامنځ ته کیږي.

## ارزونه

١. له امانت څخه مقصد څه شی دی؟ واضح یې کړئ.

٢. د امانت ډولونه کوم دي؟

٣. د امانت دربځوني عنصرونه واضح کړئ.

٤. په ټولنه کې د امانت ارزښتونه او ګټې کومې دي؟

## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې په لاندینیو عناوینو کې د یوه په اړه یوه مقاله ولیکي چې له لسو کرښو څخه کمه نه وي.

١. د کور د مالونو ساتنه او حفاظت.

٢. د جومات او مدرسې د مالونو ساتنه او حفاظت.

٣. د ټولګیوالو د کتاب، کتابچې، قلم او نورو شیانو په خپل وخت بېرته ورکول.

# زړه سوی او مهرباني

رسول اکرم ﷺ ټولو مخلوقاتو ته د رحمت په حیث را استول شوی دی، لکه څرنګه چې الله ﷻ دغه مطلب د حصر په صیغې سره داسې بیانوي: ﴿وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا رَحْمَةً لِلْعَالَمِين﴾ [الانبیاء: ۱۰۷]

ژباړه: اې پیغمبره! ما ته نه یې استولی مګر د عالمیانو لپاره مې د رحمت په حیث استولی یې.

رحمت د لوړ روح نښه، د نفس او خوی پاکوالی، نیک اخلاق او د زړه پاکي ده. راځئ چې د يادې شوې الهي ورکړې په مفاهیمو، ارزښتونو او ګټو نور هم ځانونه پوه کړو.

## د رحمت مفهوم

د رحمت کلمه او مشتقات یې د نرمۍ، بښنې، عطوفت، شفقت، ترحم او مهربانۍ معنا ورکوي، او ضد یې د زړه سختوالی، سختي او غلظت دی.

په شرعي اصطلاح کې: رحمت هغه طبیعت او اخلاقي خوی ته ویل کېږي چې د شفقت او نیکۍ ارادې په اساس، انسان د خیر رسولو په لور هڅوي. نو انسان د رحمت په صفت سره د نورو زړونو ته د شفقت احساس ورکوي، په خوشحالۍ کې د خوښۍ اظهار ورسره کوي او په غم کې ورسره غم شریکي کوي.

## په اسلام کې د زړه سوي او مهربانۍ مقام

رحمت د اسلام په مقدس دین کې لوړ مقام لري او ټولو شیانو ته شاملیږي. اسلام خپلو پیروانو ته لارښوونه کوي چې مؤمنان د یوه بدن په څېر دي، له یو بل سره نږدې اړیکې لري، کله چې یو غړی یې په درد اخته شي په ټولو غړو یې ناوړه اغیزه کوي. مؤمنان یو پر بل رحم کوي، په خوشحالۍ او خفګان دواړو کې سره شریک احساس لري، لوی او قوي پر کمزوري او کوچنی د شفقت لاس راکاږي یو د بل سره د محبت، صله رحمۍ او ورورولۍ په فضا کې یو بل ته لاس ورکوي، لکه څرنګه چې رسول اکرم ﷺ فرمایلي: ﴿مَثَلُ الْمُؤْمِنِين فِى تَوَادِّهِمْ وَتَرَاحُمِهِمْ وَتَعَاطُفِهِمْ مَثَلُ

الْجَسَدِ إِذَا اشْتَكَى مِنْهُ عُضْوٌ تَدَاعَى لَهُ سَائِرُ الْجَسَدِ بِالسَّهَرِ وَالْحُمَّى﴾.[۱]

ژباړه: مؤمنان له یو بل سره په دوستی، ترحم او عطوفت کې د یو بدن په څېر دي، کله چې یو غړی یې په رنځ او کړاو اخته شي، د بدن ټول غړي یې بې خوبه او دردمن کیږي.

د دې مبارک حدیث شریف مفهوم شیخ سعدي رحمه الله د شعر په ژبه داسې بیان کړی.

| | |
|---|---|
| د آدم بچي دي غړي یو د بل | چې له یوه جوهر پیدا دي په ازل |
| که کوم غړی په درد راولي روزګار | دا نور غړي به پرې نه ږدي په کرار |
| ته چې د نورو له محنت کړې بې غمي | نه ښایي چې دې نوم کیږدي آدمي[۲] |

د دې تر څنګ مسلمانان په ټولنه کې دې ته هڅول کیږي چې د الله تعالی په نورو مخلوقاتو هم ترحم وکړي، لکه څرنګه چې رسول اکرم ﷺ فرمایي: ﴿الرَّاحِمُونَ يَرْحَمُهُمُ الرَّحْمَنُ ارْحَمُوا مَنْ فِى الأَرْضِ يَرْحَمْكُمْ مَنْ فِى السَّمَاءِ﴾.[۳]

ژباړه: رحمان ﷻ په رحم کوونکو رحم کوي، د ځمکې پر خلکو ترحم وکړئ تر څو الله تعالی چې آسمان کې (پاس، بره) دی په تاسې رحم وکړي.

## په قرآن کریم کې د رحمت او مهربانۍ بېلګې

الله ﷻ د قرآن عظیم الشان په مختلفو آیتونو کې مؤمنانو ته امر کړی تر څو له صبر، رحمت او شفقت څخه کار واخلي، د دنیا او آخرت کامیابي یې د نیکو اوصافو سره تړلې ده، الله ﷻ فرمایي: ﴿وَاخْفِضْ لَهُمَا جَنَاحَ الذُّلِّ مِنَ الرَّحْمَةِ﴾ [الإسراء: ۲٤]

ژباړه: د تواضع او محبت وزرې هغوی (مور او پلار) ته ټیټې کړه.

همدارنګه الله ﷻ هغه کسان چې صبر، ترحم او مهرباني ولرې ستایي او هغوی د بریالیو او لاره موندونکو له جملې څخه حسابوي او فرمایي: ﴿وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ وَتَوَاصَوْا بِالْمَرْحَمَةِ﴾[البلد: ۱۷]. یعني یو او بل ته په صبر او یو او بل ته په مهربانۍ توصیه وکړئ.

همدارنګه قرآنکریم د رسول اکرم ﷺ د ترحم او مهربانۍ صفت داسې بیانوي: ﴿فَبِمَا رَحْمَةٍ مِنَ اللَّهِ

---

۱- رواه مسلم

۲- دا شعر په اصل کې په دري ژبه ویل شوی او پښتو ژباړه یې ښاغلي استاد مؤلف آقا محمد ګرندي خوږیاڼي کړې ده.

۳- رواه ابو داود والترمذی.

لِنْتَ لَهُمْ وَلَوْ كُنْتَ فَظًّا غَلِيظَ الْقَلْبِ لَانْفَضُّوا مِنْ حَوْلِكَ فَاعْفُ عَنْهُمْ وَاسْتَغْفِرْ لَهُمْ﴾[آل عمران: ۱۵۹]

ژباړه: اې پیغمبره! دا د الله لوی رحمت دی چې ته د دې خلکو لپاره ډیر نرم خویه جوړ شوی یې که داسې نه وای او ته توند او سخت زړی وای، نو دا ټول به ستا له شاوخوا نه خواره شوي وو نو د دوی خطاوې وبښه، او له الله تعالی څخه ورته بښنه وغواړه.

## د رحمت او ترحم بېلګې

- د ناروغانو پوښتنه کول.
- د بې وزلو او اړو خلکو سره مرسته کول.
- نورو خلکو ته له ضرر رسولو څخه ځان ساتل.
- د نورو خلکو د ستونزو د حل په لار کې مرسته کول.
- پر مور او پلار او کوچنیانو باندې د ترحم لاس راکاږل.
- له مسافرو او اړو خلکو سره مرسته کول.
- د متضررو او ځپل شوو خلکو سره مرسته کول.
- د ورکو شویو خلکو په لټولو کې مرسته کول.
- پر حیواناتو رحم کول او له وسه په بره کار یې نه مکلفول.

## رحمت څرنګه تر لاسه کېږي

د رحمت اخلاق د لاندینیو برخو په پوهېدلو او عملي کولو سره تر لاسه کېږي:

۱.رفق (نرمي) او شفقت خپل عادت ګرځول.

۲.له نورو سره په تواضع راشه درشه کول.

۳.د ستونزو په وړاندې صبر کول.

٤. عفوه او بښنه خپل عادت ګرځول.

٥. په ورځنې ژوندکې د تغیراتو په صورت کې د الله ﷻ په حکم رضایت او خوښي.

٦. د قناعت خوی تر لاسه کول.

۷. له سختی، کینې، غوسې او ناهیلی څخه د خپل زړه پاکول.

## فعالیت

هر زده‌کونکی دې د نورو زده‌کونکو پر وړاندې د ترحم په اړه یو یو آیت او حدیث ولولي.

## لنډيز

• مهرباني او ترحم هغه اخلاقي طبیعت او خوی دی چې انسان له نورو سره ښیګڼې ته هڅوي، انسان د دغه صفت په لرلو سره د نورو په زړونو کې خوښي رامنځ ته کوي او له غمجنو زړونو غم او خفګان لیرې کوي.

• ترحم او مهرباني د اسلام په سپیڅلي دین کې ځانګړی ځای لري چې ټول نیک خویونه په کې راټولیږي. په قرآن کریم کې د اسلام د ستر پیغمبر ﷺ د رالیږلو مقصد نړیوالو ته د رحمت وړاندې کېدل پېژندل شوی او خپله ده هم د مسلمانانو ترحم او یووالی د یو بدن په څېر ښودلی دی.

## ارزونه

۱. رحمت تعریف کړئ.

۲. د اسلام په سپیڅلي دین کې د رحمت مقام روښانه کړئ.

۳. د قرآنکریم له نظره د رحمت ارزښت روښانه کړئ.

٤. رحم کول څه ګټې لري؟ روښانه یې کړئ.

٥. پرته له انسانانو د نورو مخلوقاتو سره څرنګه رحمت کولی شو.

٦. د رحمت د ترلاسه کولو لارې کومې دي؟ روښانه یې کړئ.

## کورنی دنده

هر زده‌کونکی دې د ترحم ګټې په یوه مخ کې ولیکي.

# کرم او سخاوت

الله ﷻ کریم دی، کرم کوونکي خوښوي. په دې لوست کې به زده‌کوونکي ولولي چې کرم یا سخاوت څه شی دی؟ کرم د چا صفت دی؟ قرآنکریم او نبوي احادیثو د کرم په اړه څه فرمایلي دي؟ کرم او سخاوت څه ارزښت لري؟

## د کرم لغوي معنا

په عربي ژبه کې کرم د مال د مصرف او لګښت او له بخل څخه د ځان ساتلو په معنا راځي.

## د کرم اصطلاحي معنا

د اړتیا په وخت کې د مال لګښت او له بې وزلو سره د خپل توان په اندازه مرستې ته کرم یا سخاوت ویل کېږي، نو سخاوت هغه نیک او ښه صفت دی چې له امله یې انسان خپل نفس د الله تعالی په لار کې د مال په لګولو عادت کوي، له بخل او سختۍ نه ځان ساتي، په خوښۍ او اخلاص خپل اصلي مال په نیکه لار او په بیوزلو کسانو باندې مصرفوي.
په اسلام کې مؤمنان د مهربانه زړه په لرلو موصوف شوي چې په بې وزلو او تنګ لاسو زړه سوی لري، په تعاون او مرسته کې له هر چا وړاندې دي، له هغه مال څخه چې الله ﷻ ورکړی د خیر په لار او رغنده کارونو کې مصرفوي او په دې عقیده دي چې مال یې د دنیا د نیکمرغۍ او د آخرت لپاره توښه ده.
اسلامي تعلیمات حکم کوي چې هر پیرو یې باید سخي وي، د خپل قدرت مطابق د نورو لاس نیوی وکړي او شتمن دې ته وهڅوي چې خپل مالونه د خیر په لارو چارو کې ولګوي د بې وزلو له حال څخه ځان خبر کړي. د یادونې وړ ده هر څومره چې موږ د ستونزو په حل کې خپل مالونه مصرف کړو په هماغه اندازه به موږ نیمګړتیاوې پوره او ټول وګړي به د کار او روزګار څښتنان شي. په سخاوت سره د ټولنې د بې وزلۍ او وروسته پاتې والي ستونزې حل کیږي او یوه ډاډمنه او له امنه ډکه فضا رامنځ ته کیږي.

## په قرآنکریم کې کرم او سخاوت

اسلام خپل پیروان سخاوت او انفاق ته هڅوي او د بخل څخه یې منع کوي. قرآن کریم مسلمانان دارنګه توصیفوي: ﴿الَّذِين يُنفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ بِاللَّيْلِ وَالنَّهَارِ سِرًّا وَعَلَانِيَةً فَلَهُمْ أَجْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ﴾ [البقرة: ۲۷۳].

ژباړه: کوم خلك چې خپل مالونه شپه او ورځ په ښکاره او په پټه لګوي د هغو ثواب د هغوی له رب سره دی او هغو ته هیڅ ویره او اندیښنه نشته.

همدارنګه الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمایي: ﴿فَأَمَّا مَنْ أَعْطَى وَاتَّقَى وَصَدَّقَ بِالْحُسْنَى فَسَنُيَسِّرُهُ لِلْيُسْرَى﴾ [اللیل: ۵-۷]

ژباړه: نو چا چې (د الله جَلَّ جَلَالُهُ په لار کې) شتمني ورکړه او (د الله جَلَّ جَلَالُهُ له نافرمانی نه یې) پرهېز وکړ او د نیکی ریښتینوالی یې ومانه، هغه ته به موږ د اساني لارې لپاره اسانتیا ورکړو.

همدارنګه قرآن کریم خپلو پیروانو ته خبر ورکوي چې د مال په لګښت کې له اسراف څخه ځانونه وساتي او په خپلو مالونو کې د مسکینانو او بې وزلو برخې په پام کې ونیسي. الله تعالی فرمایي: ﴿وَآتِ ذَا الْقُرْبَى حَقَّهُ وَالْمِسْكِينَ وَابْنَ السَّبِيلِ وَلَا تُبَذِّرْ تَبْذِيرًا﴾ [الإسراء: ۲۶]

ژباړه: د خپلوانو، مسکینانو او مسافرو حق پوره ورکړه او بې ځایه لګښت مه کوه.

## په نبوي احادیثو کې کرم او سخاوت

نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایلي دي: ﴿السَّخِي قَرِيبٌ مِنْ اللَّهِ، قَرِيبٌ مِنْ الْجَنَّةِ، قَرِيبٌ مِنَ النَّاسِ، بَعِيد مِنْ النَّارِ، وَالْبَخِيلُ بَعِيد مِنْ اللَّهِ، بَعِيد مِنْ الْجَنَّةِ، بَعِيد مِنَ النَّاسِ، قَرِيبٌ مِنْ النَّارِ، وَلَجَاهِلٌ سَخِي أَحَبُّ إِلَى اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ مِنْ عَالِمٍ بَخِيلٍ﴾(۱)

ژباړه: سخي سړی الله جَلَّ جَلَالُهُ، جنت او خلکو ته نږدې او له دوزخ نه لیرې دی، بخیل سړی له الله جَلَّ جَلَالُهُ، جنت او خلکو لیرې او دوزخ ته نږدې دی. (او یوه شئ) چې د الله تعالی په وړاندې یو جاهل سخي له یو بخیل عابد څخه غوره دی.

## د سخاوت ګټې

- سخاوت او کرم نفس ته راحت او ډاډ وربښي.
- د الله جَلَّ جَلَالُهُ د خوښی، انسانانو او جنت ته د نږدې والي لامل ګرځي.

---

۱- الطبری، تهذیب الاثار

- نفس پاکوي، له سختی او بخل څخه يې ژغوري او خوشحالي وربښي لکه څرنګه چې الله ﷻ فرمايي: ﴿وَمَنْ يُوقَ شُحَّ نَفْسِهِ فَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ﴾. [الحشر: ۹]

ژباړه: څوک چې د خپل نفس (زړه) له بخل نه وژغورل شول همغوی خلاصي مېندونکي او بريالي دي.

- سخاوت په ټولنه کې يو له بل سره مرسته او اړيکې را منځ ته کوي، څواکمن لاس د کمزوري مرستې ته اوږدوي او بې وزله د شتمن له کرم څخه برخمن کوي چې په پايله کې په يوه نيکمرغه ټولنه باندې تمامېږي.
- سخاوت انسان د طمعې او حرص څخه ليرې ساتي.
- سخاوت انسان د بې وزلی څخه ژغوري، د مالونو له اسراف څخه خپل پيروان منع کوي چې بالاخره د قيمتی، او تېرې پر وړاندې يو اغېزناک لامل ګرځي.

## فعاليت

زده کوونکي دې د ښوونکي په مرسته د ټولګيوالو پر وړاندې د سخاوت او بخل مفهوم روښانه کړي.

## لنډيز

- کرم او سخاوت اړو کسانو ته د مال د ورکولو په معنا دی.
- اسلامي اخلاق مؤمنان د کرم او سخاوت د خوی خپلولو ته هڅولي، تر څو د ټولنې وګړي د خير رسولو د کارونو په ترسره کولو کې سره وړاندې والی وکړي.
- اسلامي اخلاقو مؤمنان دې ته هڅولي چې له اسراف او بې ځايه لګښت څخه ځانونه وساتي.
- د سخاوت د خوی پياوړتيا په دنيا او آخرت کې د انسان د نيکمرغی، د الله تعالی د خوشحالی، رضايت او په ټولنه کې د مينې او اخلاص د پياوړتيا لامل ګرځي.

## ارزونه

۱. د سخاوت لغوي او اصطلاحي معنا بیان کړئ.

۲. د سخاوت او کرم په هکله له قرآنکریم څخه دلیل ذکر کړئ.

۳. په نبوي احادیثو کې د سخاوت مقام څرنګه بیان شوی؟ روښانه یې کړئ.

٤. په ټولنیز ژوند کې د سخاوت ګټې تشریح کړئ.

٥. په کومه ټولنه کې  چې کرم او سخاوت نه وي د هغې پایلې څرنګه ارزوئ؟

## کورنۍ دنده

هر زده‌کوونکی دې په خپله کتابچه کې د سخاوت څو بېلګې ولیکي.